پوهاند دوکتور م.ا. زیار ۲۰۱۸/۰۵/۰۳

ګړنې او څرګندنې «محاورې او اصطلاح ګانې»

The Idioms&Expressions

لاس تر زنې اېښوول-کښېناستل ، ترګوتوکول، سراخېستل،لور په لوټه تېره کول، سترګې پرلار،ګوته پرغاښ، د ګيدړ واده،د بوډۍ ټال، ګونګه روژه، چوپه خوله ،بدځناور- توره غاړه-توره ټوخله، دمېلمه سترګه- دماښام سترګه...

موږ په ورځنۍګړنۍ پښتو کې داسې توکې ښايسته ډېرکاروچې ښکاره جوله يې يوڅه وې اومانا يې بل څه، بې له دې چې پوره ور ته ځيرشو. د بېلګې په توګه وايو او اورو: خوب مې وتښتېد، ويالې بهېږي)، دا لارغره ته خېژې،ورته پرګو نډو شو، .زمااوستا سره نوره و نه شوه يا وشلېده، زلمي زمري ته ګوته پرغاښ کړه- ګو ته پرغاښ شو-غاښونه وچيچل-غاښ چيچی وکړ. ...

په دې مانا:
د(خوب رانغې) پرځای (خوب مې وتښتېد)، ورځ ترشا پاتې شوه، شپه مخې ته راغله، د (په ويالې کې اوبه بهېږي) پرځای (ويالې بهېږي) ؛ د(دا دغره لاره ده) يا (غره ته د ختو لارده) پر ځای (دا لار غره ته ختلې)؛ د(ورته پر زاريو شو) پرځای (ورته پرګونډو شو)؛.د(زما او ستا دوستي نوره پايته ورسېده) پر ځای (زمااو ستا سره نوره و نه شوه- وشلېده)؛

د (زلمي زمری وګو اښه -ګواښ يې پرې وکړ) پرځای (زلمي زمري ته ګوته پرغاښ کړه-ګوته پرغاښ شو- غاښونه يې ورته وچيچل- غاښ چيچی يې ورته وکړ- توربرېښ يې پرې وکړ) وايو ....
چاته څه ورتلل (د چا يو څه زده ول)، لکه: ماته ګډا، لمبا، انګرېزي ژبه... لوست نه راځي(نه زده).

که نالوستې کليوال، کروندګر، د لويديزې نړۍ د هغو په ګډون، د خپلو خبرو د اغېزمنتيا لپاره د فولکلوريکو پېيلو نا پېيلو بېلګو ترڅنګ متلونه، ګړنې او څرګندنې ډېرې کاروي،زده کړه وال،شاعران، ليکوال او رسنوال ، هم پرخپل وار د ليکلنې-ادبي شعر پربېلګو او د لويانو د ورم و وراشو،اخېستنو(اقتباسونو) او لا سوندونو ترڅنګ پرګړنواوڅرګندنو زوراچوي او دېرتلې له لارې يې ورځ تر ور ځې اګا هانه او نيم اګاهانه نوې نوې راپنځوي ، هغه هم رومبی ← څرګندنې چې له پر لپسې پېچلتياسره تر ډېره پرګړنواوړي (← د ګړنواوڅرګندنو راخپلول؛ اوهمدا راز(پښويه)۳۲۳).

دنورو ژبو دويونکيو په څېر موږ هم دخپلې مورنۍ ژبې په ورځنې-ګړنې بهيرکې بېلا بېل توکې، يا په نوې نومونپوهنه (ترمينالوجی) غږيز سېمبولونه کاروو چې هر سېمبول له درې اړخيزوالې(دال-مدلول-دلالت) سره ژبنی، په نورو ټکو،د وبله پوهاوې اوخبراوې (کمونيکېشن) دنده پرځای کوي. خو په همدې بهيرکې لږو ډېر داسې وييغونډونه (فقرې، عبارتونه) هم کښته پورته کېږي چې هر يو يې د جو لې، په بله وينا،د ټولمنلې تروني غږيز سېمبول پرخلاف مانا نه ښندي او يا خو د ټاکلې((حقيقي)) مانا ترڅنګ يوه بدله ((مجازي)) مانا هم رانغاړي؛ لکه څنګه چې په ماناپوهنه (۹۳-۹۰). کې يې يادونه شوې، دغلته له دننې يا" مفهو مي" دلالت پرځای له بهرنې" مصداقي" دلالت سره کار لرو.

نوې وييونه او وييغونډونه او په دې لړکې ګړنې اوڅرګندنې چې(د← برسېرنو رغښتونو په توګه) د بېلابېلو ويونکيو له خوا د ټولنيز ژوند و ژواک په بهير کې له پېړيو پېړيو راهيسې په ناګاهانه ډول له ځانګړو جولو او ماناوو سره رامنځته کېږي يا رغول کېږي او په ورځنيو خبرو اترو پرکار اچوي چې په دويم پړاو کې يې ليکنۍ ژبې راګډېږي .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هر گوره، ګړنې -څرګندنې د نورو ژبنیو توکو په تو پیر وار له وا ره تړونې ځانګړ تیا نه تر لاسه کوي او تر یوه مهاله یې کارونګ هم په هماغویوګړو یا وګړدلو پو رې لنډ تنګ(محدود) پاتې کیږي. خو همداچې په اړونده ژبنی یا ګړدودي ټولنه کې ټولیز دود ومومي، نو بشپړ تړونې آروآړ (اصل وشرط) را خپلو ي او په ګردې ژبنی ټو لنې اړه پیداکوي، په نورو ټکو، په ګړنې او لیکنې او ان شعرو ادب ته لاره مومي.

موږ په وړکینه کې تر۵-۶ کلنې منګه، لومړی ((تود)) د(ګرم، داغ) او(سور) د(سره رنګ) په مانا زده کړی،خو روسته مو د یوه غونډاوغونډلې په ترڅ کې د خوراک، څښاک پر مهال د مور یا بل کورغړي له خولې اورېدلې: (پام چې سور دی، خوله دې و نه سوځې!). مانا یې داچې د اور غوندې ډېر تود دی. تر شپږکلنی، په بله وینا، پرمورنی ژبه تربنسټیز لاسبري راروسته مو دغه راز نور ډېر بدلمانیز وییو نه، په نورو ټکو، غونډونه (عبارونه) په ورځنیو خبرو اترو کې پرلپسې له یو بله اورېدلې، لکه: تاوده یې مه خوره، زویه درنه سپېینلی شم ، سور اور یې یا د اور ټوټه یې لږ غلی کښېنه، ستا له لاسه مې زړه اورواخېست، ترور دې راغلې سرمې غوا ړې (کوي یا راجوړوي)... همداراز(Eng.Idioms 12)←

په دویم ژبټولنیزچاپېریال (ښوونځي)کې مو ښوونکي ته د لیکدود(املا) پر وخت نابېره له خولې وتلې: (استاده ودرېږه!)
که هغه د ټوکو لپاره له ځایه اوچت راپاڅېدلی، نو هله پوه شوي یو چې (درېدل) مو په دویمه یا بدله مانا(صبرکول، وروکېدل) کارولې دي!

پېژنداونومَونګ (تعریف و تسمیه)
دګړنې عربي انډول (محاوره) او د څرګندنې(اصطلاح) ده؛ انګرېزي idiom له یو نانې) idios خپل،ځانتنی، شخصي) څخه سرچینه اخلي؛ المانې یې په یوناني ⟨ idioma پسې وړي چې مانا یې(ځانګړتیا) راځي او هغه په (idios خپل، ځا نتنی، شخصي) پسې،چې د Idiomترڅنګ خپل انډول (Redewendung وینا اړونه) او (Redensart ځانګړی ویناتوګه)رادود کړی دی زموږ (څرګندنه) د انګرېزي idio- matic expression او یا تش expression انډول ده او په دې ډول دexpression پښتو انډول هم(څرګندونه)ده او هم (څرګندنه)؛ همداراز.(Wahrig, De.Wb .)

په دې توګه موږ دنورو دودیزو پښتو- عربي ترمونو په لړ کې ورسره ((محاورې او اصطلاحات)) ، نه جولیز اړخ لګولای شي او نه منځپانګیز، نو دېته اړوتو چې د جاج، مانااوموخې له مخې(آیډیم) پر (ګړنه) او(اېکسپرېشن) پر (څرګند نه) را واړوو .

المانې ژبپوهنیزسیندګی Ling.Grundbegriffe).ګړنه د وییونو یوجوت (ثابت) او بد لمانیز(مجازي) جوړښت راښیي، المانې بېلګه یې، لکه: یو څوک پر خورما ور خېژول له (پارول،قارول) جاج سره...
اکسفورډ سیند .Oxford Dic ګړنه د وییونو یوه داسې ټولګه راپېژني چې را منځته کړې ګډه ((مجازي)) مانا یې د بېلابېلو وییونو ښکارندویي نه کوي، انګر ېزي بېلګه یې، لکه: چاته سپوږمۍ ورکول (د چا هیله، غوښتنه ترسره کول) .

-ګړنه یامحاورهidiom د دوو یاڅو وییونوا وییکو یو داسې نانګېرند(مجرد) غونډ) phrase فقره، عبارت) دی چې په ګډه یو یوازېنی جاج او مانا رامنځته کوي او له دې سره یې هر غړی ویی خپله مانا له لاسه ورکوي Seidl&Mac- (König&Werner) (Mordie11-12

د یوه ژبني توک په تو ګه هرغونډ phrase ، لکه چې وویل شو،د پښوییزچار (ګرامري نقش) له پلوه د وینا او غونډلې یوخپلواک او لږ تر لږه له مانیز پلوه، ناشننوړ جوت یوون constituent په نورو ټکو، جوت وییغونډ (syntagma)دی او ګډه مانا یې درغنده ټوکو(- ا)جزاوو) ښکارند ویې نه کوي؛ ان د وییرغاونې په لړکې هم هر (نحوي) تړنګ (ترکیب) دغونډلې دننه ورته یوون بلل کیږي او لا کېد ای شي، هممهاله لږوډېر د← ګړنو یا څرګندنو ځانګړواله هم ولري.

درې اړخیزه اړوندتیا

ګړنې او څرګندنې د نورو ژبو په څېر د پښتو ژبپوهنې له درو څانګو سره اړاو تړاو لري: (۱) د غو نډلو (جملو) دجوتغونډونو (ثا بتو عبارتونو) په توګه له غونډ له پوهې (نحوي)، (۲) دوییرغاونې او وییزېرمې له پلوه له

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وییپوهنې ا و(۳) د اد بې رنګینې او خوږلنې له پلوه له سبکپوهنې سره ټینګ او ترینګ اړاو تړاو لري.؛ او هله بیا د ژبنیو انځورونو په توګه له شعري انځورونو سره اړخ لګوي.

تواوړوني (ګرداني) بڼوسره له پوښتنې سره مخامخېږي او په ښکاره یوازې د پښوییز چار (نقش) له پلوه د جوتوالي آرو آړ (اصل و شرط) را خپلولای شي؛ خوکه ورته ښه ځیرشو، د یوه یوه یوازېنې کړ ببلابېلې ګرداني بڼې د هماغه یواز بڼې کړن ښکار ندویي کوي او په دې توګه یې دجاج و مانا له پلوه د مانیز جوتو الي دفاع هم کېدای شي؛

او (۳) بدلمانیزوالی، د ګړنې- څرګندنې درېیمه پېژندنښه بلل کېږي، داسې چې اړوند غونډ (عبارت) باید د سیده وییزې (لغوي) مانا پرځای یوه ناسیده یا بدله مانا وښندي، لکه مجازي، تشبیهي، استعاري،کنایي، تشخیصي (personi- ficational)،انطاقي...(animational) او سېمبولیکه مانا ولري .
آر او آړ (اصل و شرط) ګڼل کېږي.

داچې دیوې ګړنې او څرګندنې لومړی جولیزآړ(شرط) غونډیزوالی دی، په نورو ټکو، یو یوازېنی ویی، یووستوی، بېلښتي(اشتقاقي) یاترښتي (ترکیبي) چې له دوه یازیاتوییواوویيکو هم رغېد لی وي او انځوریزه یا مجازي مانا هم ولري (د← جوړه ترنګو یا ټاکنترنګو په استثنأ)، بیا یې هم یوغونډ او بیا ګړنه یاخر ګندنه بللای نه شو، لکه اور(داغ)،اور پکی(شریر)، وري غوږ،خرغوږ(بوټي)، تور غوږی (بازیګوش)، لمرمخی، سترګولیدلی،زړه بایللی، ږیرخرېیلی(شرمېدلی)؛ بلکې اړینه ده چې← نوموالہ یا کړواله غونډیزه (عبارتي) بڼه ولري اویا په غونډ له کې دکړ یا وییکي په ملتیا دغه خپلواکه بڼه راخپله کاندي.

د پوهاوي لپاره یې سم له لاسه پر یوه بېلګه((زمری)) بسنه کوو او نوري بېلګې یې ← ((ډېرمانیزونو)) ته پرېږدو، په آره بڼه :
که فلک دې د(زمري په خوله کې ورکا- د (زمري) په خوله کې مه پرېږده همت...
په استعاري بڼه : زه یم (زمری) پر دې نړۍ له ما اتل نشته...
هو، که آره بڼه یې هم په کنایي جاج وکارول شي، نو انځوریزه ځانګړتیا راترلاسه کولای شي.

هسې خو، نه یوازې بېلښتي (اشتقاقی) او ترښتي (ترکیبي)، بلکې یووستوي وییونه هم ،له کړ سره د ←کړوالي اوله ستاینوم، تولنوم ، شمېرنوم یاد څیزنوم بل ټاکندوی سره د چورلیځ (محور) په توګه ، بې نور څه پردازه نوموالي ګړنې، په تېره څرګندنې رامنځته کوي، کړوالي بېلګې یې، لکه: ما سړی کړی، اوس مې سیوری په کاڼو ولې؛ نوموالي هغه یې، لکه: سر(لومړي،لوی، مشر)، زمری (مېږ نی)، ګیدړ (بې زړه)،مرچکی (توند) ، کدو (بې مغزه، ناپوه)، سندا یا غویی (پلو نداوبېکار)... ؛
مړزګه (لټ،سست؛ مردنی) چې مړزګه له آره هم د (ډنګر) او (لاش) په ماناوو یو غبر ګمانیز ویی دی اود(پق) له درېیمې پارسي (مردنی) مانا سره د (لټ، سست) هممانیز هم دی. که نه، هسې خو روږدی ویی د نورو توکو په ادلون بدلون او پرد از سره چور لیز (محوري) چار پر غاړه اخېستای شي، لکه: له چا سترګه نه سو ځل، له چاسره سترګې جنګول، لور په لوټه تېره کول، هرګوره، دغلته (سترګه، سترګې، لوریا لوټه) چورلیځوالی (محوریت) راخپلوي . ...

چورلیځ (محور)

د یوې ګړنې یا څرګندنې چورلیځ (محور) هماغه ژبنی توک دی، چې د یوه ګړنیز یا څرګندیز غونډ نور توکي ترې راڅرخي،یا په ساده ټکو،یوه غونډ د هغه په شتون سره پر ګړنه یا څرګندنه اوړي؛داسې چې په اړوندغونډکې یې بل توک ځایناستی کېدای نه شي، که څه هم له پښوییز چار له پلوه ورسره یوراز وي او په یوه ټولی (مقولې) اړه ولري؛
د بېلګې په ډول دواړه نومونه وي، لکه په (لور پر لوټه اچول یا تېره کول) څرګند نه کې چې (لوټه) چورلیځ دی، نه (لور)، ځکه لور خو د دود له مخې په تیره، بیر جی یا سوان تېره کېږي، نه په لوټه. نو همدغه ناوړې او نادودې وسیلې بدله یا (څر ګندیزه) مانا رامنځته کړې ده. اړوند متل یې هم په همدغه لوټه (متل) شوی چې وایي: د لوګري چې لو له لاسه نه کېږي، لور پر لوټه اچوی یا تېره کوي .

د غونډیز او بیا غونډله ییز یوون (فرازیولوجېزم) په توګه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا چې ګړنې اوڅرګندنې د جولیز رغښت له مخې غونډونه بلل کېږي او په دې ډول یوه ګړنه یا څرګندنه دغونډلې (sentence)دلویترین غږیز- مانیز یوون رغنده ټوک (constituent -)←،په نورو ټکو، د یوخپلواک اوجوت وییغونډ-(syntagma) په توګه یې یوخپلواک ګړیامورفیم (نوم،کړ) زړی (هسته) یا چورلیځ (محور) رغوي اوناخپلواک هغه ځنې راچورلي؛ او له دې سره د یوې څه ناڅه خپلواکې ستري ژبپوهنیزې څانګې ((غونډپوهې (phraseology)په چوکاټ کې ټیکاو مو مي.نو په همدې لاسوند داړوندو یوونونو(واحدونو)،په نورو ټکو، مورفولو جېزمونوphraseologisms په نامه هم تر څېړنې لاندې نیول کېږي او لا ځینې ژبپوهانو ګړسره یوه خپلواکه پښوییزه او ان ژبپوهنیزه څانګه راپېژني.

هو،د جاج ومانا له پلوه ګړنې-څرګندنې،لکه وارله مخه چې ورته نغوتې وشوې، که څه هم د بشپړ وینایيز یوون (غونډ لې) په توپیر تر ډېره کومه سمه سهې خپلو اکه مانا نه ښندي، خو د غونډلې د یوه خپلواک رغنده توک (constituent)، یاپه لاسهې نومونه،جوت وییغونډ(- syntagma) په توګه د در ستې غونډلې موخه او مانا تر خپلې واکمنۍ لاندې را ولې او د اورېد ونکې په ذهن کې د یوه متل هومره، هغه هم له اړوندې پېښې، کیسې او شانزول سره یوارت وبیرت جاج را ټوکوي، یا را تداعي کوي. نو همدغه جاج یې منځپا نګه رارغوي او پر ډول او څرنګوالی یې غږېږو .

د ګړنو- څرګندونو درېګوني پېژندنښې
۱ (غونډیزوالی): داسې چې یو غونډ (عبارت) وي، نه یوستوي، بېلښتي یا تړ ښتي وییونه، که څه هم بدله یا مجازي مانا ولري (۲) جوتوالی: داسې چې له
جولیز-پښوییز او ماناپلوه ناشننوړ وي؛ هرګوره، ←نوموالي هغه د دغو درو
واړو اړخو له مخې جوتې وي، خو ←کړوالي د نوموالو په پرتله له ډېرو ارتو بیر
تواوړوني (ګرداني) بنوسره له پوښتنې سره مخامخېږي او په ښکاره یوازې د پښوییز چار (نقش) له پلوه د جوتوالي آرو آړ (اصل و شرط) را خپلولای شي؛ خوکه ورته ښه ځیرشو، د یوه یوه یوازېني کړ بېلابېلې ګرداني بنې د هماغه یواز ېني کړن ښکار ندویي کوي او په دې توګه یې دجاج و مانا له پلوه د مانیز جوتو الي دفاع هم کېدای شي؛

دویمه پېړندنښه یې د مرکزی یا چورلیزو(محوري) توکو(نوم او کړ) جوتوالی او نه ځایناستوالی دی، یانې، بل ناهممانیز نوم یاکړ یې ځایناستی کېدای نه شي. د ساري په توګه،که (سرغړول)
پر(سرخوړل)،(سرټکول)،(سرټیټول) واړول شي او یا یې د (سر) پر ځای یو بل نوم (لاس، غوږ، خوله،.زړه...) ځایناستی کړو، ښایي، ګړ نیزه یا څرګندیزه ځانګړتیا له لاسه ورکړي او یاهم بېلابېلې ګړنې اوڅرګندنې را منځته کاندې .

بلخوا دګړنې او څرګندنې ځانګړوالی بیا په دې کې هم نغښتی چې نه یوازې یې یوه یواز ېنی ګډه مانا، د کوم رغندو توک ښکارندویي نه کوي، بلکې هماغه ګډه مانایې هم سم له سمونې د اورېدونکې یا لوستونکې ذهن ته نه راځي؛په بله وینا، وار له واره ترې هماغه ټکي پرټکي(تحت اللفظي) مانا اخلي او روسته ترې هغه دویمه یا اوښتې مانا، او له دې سره یې یوه نا سیده، بدله،انځوریزه یا مجا زي، تشبیهي، کنایي، استعاري... مانا له نورو غونډونو څخه راځانګړوي .

په دودیزه پښویه او ادبي فنونوکې، له دې سره سره چې دواړه یوونونه یې د «محا ورو» او«اصطلاحاتو» په نامه راپېژندل،خو بې له دې یې چې له مانیز پلوه د غو نډلو (جملو) دجوتو یوونونو(ثابتو واحدونو) په توګه سم سهې پېژندوتوپیر (تعر یف و تفکیک) وړاندې کړي؛ دغونډلو دننه یې هم هرګوره، زیاتره(اسمي ترکیبو نه)، (توصیفي ترکیبونه)،(اضافي ترکیبونه)...نومول، نه محاورې اواصطلاحات؛ ان استاد محمد ګل نوري په جلاسیندګي کې هم دواړه توکه سره توپیرکړي او نو مېرلي نه دي(← څېړنیزه مخینه) .

که څه هم ډېری ګړنې- څرګندنې، د متل پر خلاف، د بشپړ وینایيز یوون (غونډ لې) په توپیرکومه بشپړه خپلواکه مانا نه ښندي، خو د غونډلې د یوه خپلواک رغنده توک(constituent) ، یاپه لاسهې نومونه، جوت وییغونډ (syntagma)په
توګه د درستې غونډلې موخه او مانا تر خپلې واکمنۍ لاندې راولې او د اورېد ونکې په ذهن کې د یوه متل هومره، هغه هم له اړوندې پېښې، کیسې او شانز ول سره، یو ارت وبیرت جاج راټوکوي،تداعي کوي،نو له دغه پلوه یې منځپانګه هم هم نومېرلای (تشخیصولای) شواو بیا یې پرڅرنګوالي غږېدای شو. په نورو ټکو، هماغه څه پکې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موندلای شوچې داړوندو ویونکیو د سولیز-اندیز(عقلي-فکر ي) رواني، ټولنیز شعور،اوګر دو ارزښتونو ځلندویي کوي.

له ګړنې تر څرګندنې

دادواړه رغښتونه د ژبې د غږیزو پیلامونو(سېمبولونو) له جوتو(ثابتو) ټولګو یا وییغونډونو څخه ګڼل کېږي، خو له مانیز پلوه ګړنه زیاته انځوریزه او بدلمانیزه ده او د شعري او هنري انځور په څېر کېدای شي، ورتني (تشبیهي) اوسي، کنا یي، استعاري، سېمبولیک، اسطوره یي یا داسې نورې بدلې ماناوې راونغاړي، خو څرګندنه دومره نه.
په نورو ټکو، څرګندنه د ګړنې یوساده ډول دی. داسې چې د جاج ومانا له پلوه دګړنې په پرتله دومره انځوریزه او پېچلې نه ده او له دې سره یې پوهېدنه هم دومره ځنډ ولارغه نه غواړي .

داسې یې هم سره توپیرولای شو چې ناپېچلې یا لږې پېچلې ګړنې، د څرګندنو ځانګړتیا راخپلوي. ګړنه، لکه: د چا په سترګو کې ننوتل، پرمخ د سپې پوستکی راکښل، سپین سترګې، لاس ترزنې، د بوډۍ ټال ...،او څرګندنه، لکه: لاسته را وړل، ترګوتو کول، پر یوڅه سترګې پټول (د چا ملا تړل) له واره (دچاملاتړ کول) سره همماانیزوو؛
یاله ویناییز بهیر په هر ډول ، خو له غونډلې رابهر، بې له کومې نغوتې قرینې یو ګڼ شمېر
نوموالغونډونه،لکه:اوږه پراوږه ،دانځرګل،د ړندې سترګې اوښکه او داسې نور له کنایي او تشبیهي ماناوو سره راته بې لارغې (مکثه) د پوهېدا وړ پرېوځي .
یوه ساده بېلندویه نښه یې داچې د ګړنې ټولیزه مانا له جلا جلا رغنده توکو څخه راجوتېدای نه شي او د څرګندنې دا څه ناڅه راڅرګندېدای شي او له همدې پلوه مو په دغه نامه نومولې ده.

که څه هم وارله مخه یې له لویه سره رښاوی و شو، خو دلته په د واړو بدلمانیزو توکو پسې د ښه ترا توپیر په موخه د اروپایي ژبو بېلابېل فر هنګونه غواړو :
په دغو ژبو کې له ګډ لاتین expression ویې څخه دآرې مانا (څرګندونې) تر څنګ د ګړنیزې څرګندونې idiomatic expressionمانا اخلي .

په نورو ټکو، داسې یو نومَونه چې زموږ (څرګندنه -اصطلاح) او(ګړنه- محاوره) او (څرګندنه) دواړه رانغاړي، خو په کړن کې یې له (idiom) سره توپیروي: هماغه چې پوهېدا یې اسانه ده، ورته آیدیوماتیک اېکسپرېشن وایي او هغه چې مانا یې پېچلې ده او پوهېدا یې یوڅه ځنډنه ده، (ایدیوم) یې بولي؛

الماني چې تر ډېره یې لاتین وییپانګه او بیا علمي، فرهنګي او تخنیکي نومو نپوهنې راژباړلې، (expression) پر Ausdruck)څرګندونه، اظهار) راړولی یاور اندول کړی، او idiomatic expression پر Redensart)وینا ډول،طرز اظهار) چې زموږ له څرګندنې (اصطلاح) سره ښه ترا اړخ لګوي او Idiom یې له ورته انګرېزي پېژند سره سم د) feststähende Redewendung ناشننوړ ټینګ وینا اړونګ) په بڼه راخپل کړی دی. پر مخنیو اخځونو سربېره:
(Wahrig Deutches Wörterbuch) &.(Col.Dic.expression;idiom).

Take care of the child!(پرکوشني پام پام ساته یاپاملرنه کوه!) یوه انګرېزي څرګندنه ده، خو کله چې چاته په مخه ښه(خدای په امانی) کې وویل شي) take care! ځان ته دې پام اوسه!)، پر یوه رښتینه ګړنه (idiom) اوړي؛که څه هم سیند ونه (ډېکشنری) دواړې نومو نې سره سمې سهې نه تو پیروي.

د پښتوګړنواو څرګندنو په ترڅ کې له داسې بېلګو سره هم مخ کېږو چې جولیز تو پیر سره دومر ه نه لري، خو د جاج و مانا، او ورسره ورسره د اسا نتیااو پېچلتیا له پلوه هم یوراز نه وي. څرګندنه،لکه اړخ لګول (سمون خوړل یا درلودل) او اړخ بدلول (بدلون راوستل)،د ساري په ډول:
خوب نه راته او هسې مې(اړخونه بدلول رابدلول)، کټ مټ، لکه (اړخ پر اړخ اوښتم رااوښتم) څرګندنې دي؛ خو که ووایو: بادوباران سره اړخ یااړخونه بدل کړل، وختونو سره اړخونه بدل کړل، بیا یې نو ګړنې بولو.

(پرهواتلل) له آره دژبې د یوه آر(تړوني) غږیز سېمبول په توګه له مرغانواو همدا رنګه لاسرغولیو وسیلو(بالون، الوتکو، چورلکو،تشیال بېړیو...) سره راځي، خوکه ووایو: ګاډی پرهوا ځي او موخه مو(داربو-ټایرو هوا) وي، نو یوه څرګندنه شوه، او که موخه مو(چټکتیا یاد چلوونکي ناپامي، مستي، بېباکي...) وي، نو یوه ګړنه بلل کېږي. په دغه شعري بېلګه کې همداسې دوه غبرګ چارونه(نقشونه) سره توپیرولای شو:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

گاډی که څه هم،
-په ښکاره ډول-
پر ځمکه ځي،
خو، له آره،
- بیاهم-
پر هوا ځي
.(پوهه او ګروهه۱۱۴)

ګړنه او څرګندنه سره داسې هم توپیرولای شو چې ګړنه د څرګندنې پر خلاف دیوې ګړنې مانا له هېڅ یوه رغنده توکه راڅرګندېدای نه شي،لکه:د(لاس ترزنې کښېناستل،لاس ترزنې کېدل، لاس ترزنې لاندې نیول یا لاس ترزنې لاندې اېښو ول) له درو ماناوو (هېښېدل، اریا نېدل)،(بې خیاله- بې توپیره کېدل) او پر دې سربېره دانګېرنې یاشګوم له مخې له کنایي دلالت سره د (خوارۍ او بدمرغۍ منځته راتلل) په جاج، لکه په دې لنډۍ کې :
لاس دې تر زنې لاندې مه ږده
ستا به عادت وي، ما به ورک له ملکه کړېنه.

یا په اوړوني(ګرداني) ښو، لکه: پزه یې راپرې کړه(شرم یې راواړاوه یا راپېښ کړ)، خپل ښه یې راته د پزې پېزوان کړل یا یې په سترګوکې راننه اېستل((نیکي یې را زباده یا رایاده کړه)، پرتوګ یې ښوی شو یا پرتوګاښ یې وتښتېد(رسوا یا بدنام شو)، پرتوګ یې ورته وکړ(پردۍ یې وکړه)، زړی یې زرغون شو(دزوی خاو ندشو)... ګړنې دي؛

پروړاندې یې:
پوهه او ناپوهي سره هېڅکله اړخ نه لګوي یاسره نه جوړېږي یانې (سره اړخ نه لګوي) او (سره نه جوړېږي)، دواړې څرګندنې دي، ځکه سیده او ساده ژبنی اندول یې بنې (سره یوځیز نه دي) راځي، همداسې په (سر جوړول یا خرپیل) کې وېښته پر سر بدلول د څرګندنو دریځ راخپلوي چې په ډېرو لرې نژدې ژبو کې سرٌ نه، بلکې وېښتهٌ کاروي، نو په دې توګه ، که لومړی (ګړنې) وې، له ډېر دود سره پرڅرګندنو راوښتې دي.

د دودیز (علم بیان) د (ظرف و مظروف) مجاز څرګندیز هومره مانا رانغاړي او په ورځني ژوند کې د چا خبره پر روړدو یا عادي ژبنیو توکو اوښتي دي، نورې بېلګې یې لکه: ویاله بهېږي، دا لار غره ته تللې یا ختلې، پلانی دومره نسور دی چې په یوه دېګ نه مړېږي، د چا پر خوله باور په کار نه دی . ...

دڅرګندنو یوڅو نورې ساده او څه ناڅه پېچلې بېلګې، لکه:
وخت ګوډول یا اړول (دفع الوقتی یا وقت ګذرانی کردن)، ګرېوان څیرول (فریاد کول)، تنې شکول(بې شرمي اچول)، توده یا تاوده خوړل(یې صبري کول)، له چا سره یو دوه نه کېدل (له چاسره د غږېدا ناشونتیا)، څوک په یوه کې هم پرېښوول (هېڅ چانس نه ورکول)، (را-در-ور) برګېدل (- پارېدل، قارېدل)،(را-در-ور) غبر ګول (ځوابول، تکرارول).؛

پریودوه نه پوهېدل، له چاسره پر خبره نه پوهېدل(یو دوه نه کېدل)،له چاسره روغ رنځور یا مړ و ژوندی نه کول)،یانه پالل،له ښې توښې وتل-اېستل یا له کاره وتل- اېستل، له چا سره یوڅه سپینول ،یا یې سپینې ته رسول- اېستل(باکسی تصفیهٔ حساب کردن)، پرچا د چا باور خامېدل(یاخامباوری کېدل) بې باوره کېدل ، ناو یسا کېدل)،پرچایې درانه خرڅول (لږ څه پرچا ډېر زبادول)او داسې نور.

زموږ په شمال ختیزه پښتو کې لا د ښځمنو ترمنځ ((سرغوښتل)) بیا پر ګړنه او ښتې، ځکه د بشپړ ډېرې پښتنو غوندې ځنې د (غوښتل) زړه مانا (لټول) هېره شوې او پر یوه زړویزې (ارکاییزم) اوښتی، په نورو ټکو، د(خواستن) مانا یې ځایناستې شوې ده، که څه هم ځنې ((په وېښتو کې خځنده لټول)) جاج اخېستل کېږي؛ نو همدغې ټولیزې پېچلتیا څرګندنه، پر ګړنه راړولې ده!

عادي کړغونډونه یاغونډیز(عبارتي)کړونه verbs چې ګډه مانا یې له رغنده توکو راڅرګندېدای شي، په نورو ټکو، له یوڅه پېچلتیا سره سره انځوریز یا مجازي رنګ و نه لري، هم زیاتره څرګندنې رامنځته کوي. پېچلتیا یې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هم د نا خپلواکو ګړونو (مورفیمونو)، لکه سربلونو، وستربلونو او غبرګبلونو او پردې سربېره له سمتي مخکړونو یا پلوي وییکتومځرو (را-در-ور) سره رامنځته کېږي (← وییکوالي ګړني- څرګندني)

پارسي، من هنوز کارهایم رابه انجام نه رسانده ام، او مشکلات خود را به رویم میکشد یا برایم مطرح میکند؛
(انګرېزي، لکه She opened her ،الوتکه جګه شوه off The plane took
suitcase and packed all the clothes in. (J.Seidl).
(هغې خپل چمدان پرانېست اوټولې جامې یې پکې کېښووې.)

انګرېزي څرګندنيheavy rain, strong spice په هرډول خو (hit-run-death) ګړنه یې پر پښتو(دخرپ و ترپ جنګ) او پارسي (جنګ حمله وګریز) څرګندنه اوړي ، (جنګ ګوریلایی) بیاهم څرګندنه راځي چې ګړنیز انډول (تېر آشکا نی) .
دغه راز پښتو څرګندنه (ښځه کول) دپارسي(زن ګرفتن) انډول په توګه چې کونړیان یې هم(ښځه اخېستل).وایي او انګرېزيto marry چې له (واده کول) مانا سره یې کړند (فا عل) هم نرینه کېدای شي،هم ښځینه؛ همداسې یې په نو رواروپایي ژبوکې هم درواخله.

په دې تړاو چې د ګړنې پرخلاف د څرګندني ګډه مانا له اړوندو رغنده توکو را څرګندېدای شي، د پوره رڼاوي لپاره دا بېلګې هم وړاندې کوو، لکه: (اریان، هېښ یا هک پک پاتې کېدل) چې ګډه مانا (اریانېدل) یې له بنسټیز یا مرکزي .توک (اریان، هېښ، هک پک) راجوتېدای شي او دویم څېرمه توک (پاتې کېدل یا پاتېدل) تړښتي کړ(غوندیزکړ) یوه لړه کې غوندې پېچلتیا راښیي.. (پښویه
-درېیم چاپ ۳۲۹-۳۲۴.(
دویمه برخه درو واړو ووېپاڼو ته
په هره توګه بیاهم په پښتو کې دلته او هلته د دواړو ځانګړو غوندونو ترمنځ کو مه سره کرښه راکښلای نه شو. یو شمېرداسې پخې استعاري او سېمبولیکې ګړ نې هم شته چې له سراسري کارونګ سره یې پېچلتیا نوره له لاسه ورکړې او له دې پلوه د څرګندنو په څېر له اورېداسره پرې هرڅوک ژر پوهېږي ګوندې اغلې او.ښاغلي سیندکښان، ژباړن، رسنوال، ویناوال، لیکوال او شاعر ان او نور مینه وال یې دوړاندې شویو څرګندونواوبېلګو په مټ سره بېلتون ونومېرن (تشخیص) وکړای شي.

د زېږ(تولید) سرچینې
دګړنو اوڅرګندنو آره سرچینه لومړی (و)ګړنی ژبه او بیا یې ادب دی د ویناو
لیک په بهیر کې متلونه پرګړنیزو او څرګندیزو غوندونو اړول کېږي ، لکه واخلې، د خولې، ژبې، زړه او نورو غړیو له اړوندو متلو څخه:
له «خولې دېرې- خبره یوه، خبرې دېرې- سر یې یو...»

په (و) ګړنی ژبې او ادب یا فولکلور روسته دګړنې اوڅرګندني په رغښت کې بېلابېلې طبیعي سراو بیا پو هنیزې، فر هنګي، تخنیکي، ټولنوټیز (اجتماعي-اقتصادي) پدیدې، سرچینې،پیداوار، کاراوزار او د ټولو په سر سرکې بیا هم د نژدېو الي او دېرپېښی (بسامد، فرېکوېنسی) له پلوه هر چا ته خپل پژني غړي (سرو سترګې، لاس وپښې، سروسترګې، خوله او شونډې، ژبه ، مخ، غاښونه، غوږونه، زړه او ځیګر ... د دغو بدلمانیزو توکو پرګنو او رنګارنګو چورلیځونو اوښتي او لا اوړي. (←۳-څېرکی(

داچې زېږ (تولید) یې هم په ځانګړو ویونکیو اړه لري، نو کله یې چې موږ راټولو نې ته اړتیا پیداکوو، ړومبنی سرچینه یې (و) ګړنی ژبه ده، هغه هم له بېلابېلو ګړدودو سره) او دو یمه یې ادب (فولکلور) له اړوندو ځېلو نو سره. چې متلونه یې د ژبې او فولکلور دګډځېل یا مال په توګه، وار له مخه رامنځته شوی زېرمتون اوسر چینه بلل کېږي .

په ورځنیو خبرو اترو، لیکنو، او بیا شعرونو کې (دمدعاو مثل،ارسال المثل او ارسال المثلین په بڼه) چې د هندې شعري سبک له نومېرلو خیالي انځورونو څخه بلل کېږي، ښایسته ډېر متلونه د غونډلو دننه د جوتغونډونو په توګه له هماغه انځور سره کارول کېږي ، هغه هم تر ډېره په کنایي توګه پر سملاسي ګړنو یا څر ګندنو اوړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د رحمان بابا په دې شعرکې چې (تر پردي آسه خپل تټو ښه دی) متل دګړنې(د بل آس و خپل تټو برابرول) په ښه داسې را نغښتی دی :
که څوک تله دانصاف په لاس کې درکړي
دبل آس و خپل تټو به برابرکړي

تر متلو روسته لنډۍ، سروکي او نور(و)ګړني شعرونه چې ډېری انځورونه يې له ګړنواوڅرګندنو سره زيات اړاوتړاولري، تر هر راز ليکني- ادبي او ژبني متنه سو چه نږه(و)ګړنی زېږنده بلل کېږي، په دې لاندې تاريخي لنډۍکې چې سمته ړومبۍ مسره، پر متل او هممهاله پرګړنه اوښتي، هغه هم د مرستيالکړ ٌ دئ په غورځن سره.:
چېرته لندن چېرته چترال (دی)
بې ننګي زور شوه، پرنګيان چترال ته ځينه

هرګوره، په دغه لنډۍ کې (بې ننګي زور شوه) څرګندنه له بېلابېلو ځېلونوسره وار له مخه شته وه. رحمان بابا بياد(چېرته) پوښتوييکی،اړيکوييکي او هممهال د وييکوالي څرګندني چورليځ، په کارونه د ورته مخاوي يا کونترست په موخه له چېرته ٌ سره يو بشپړ غزل انځورلی دی چې دلته يې پر روستي بيت بس راو ړو:
نه شي د خانانو-ملنګانو سره کلی
چېرته عزيز خان، چېرته ملنګ عبدا لرحمان

((کلي سره نه کېدل)) بيا يوه ګړنه ده چې پرخپل وار يې د يوه انځور هومره راکښون وربښلی دی.
هسې خو دپاسنيو شعري صنعتونو بېلګې له ستر خوشاله تر شمس الدين کاکړ، په تېره حميد مومند پېخر پېخر راخېستي دي.
د توپير په جاج له ٌ چېرته ٌ سره بيا داسې نور راز راز څرنګيز څومره ييز، تو نيز، مهاليز، اړيکوييکي، کړولونه او بشپړنونه (متممونه) رغېدلي او رغېدای شي .

د وييزېرمې اووييرغاونې له پلوه
ګړني او څرګندني نه يوازې د وييپانګې يوه بشپړانده برخه رغوي،بلکې د وييز غاونې يوه بډايه زېرمه او سرچينه هم ده او خوراړين نويزونه ترې لاس ته راځي. نوموالي هغه خو تيارپر تياره رغاونې دي او له متنه يې تش د يووستوو يا مر ستيالکړونو (استل- ول، کول-کېدل) په غورځن، تر ګوتو کولای شو، هغه هم له بېلا بېلو پښوييزو(نوميزو،ستاينوميزو،کړوليزو، بشپړنيزو) چارونو يا نقشونو سره، لکه: غاښ چيچی، سترګې پرلار(منتظر)، لاسرسی (لاس رسېدل)،.لاسلګی (لاس لګول)، پلنيوی (د چاپل نيول د پيروۍ په مانا)، ملاتړ (دچاملاتړل . ...)

لکه څنګه چې په دويم څپرکي (ګړني راخپلول) کې ورته نغوته شوې، يو مهال اروا ښاد پوهاند الهام د پارسي (دستاورد) په پېښو له (لاسته راوړل) څخه ((لا سته راوړنه)) رارغولې او له دې ناخبر چې پښتوقاموس (١-ټوک ١٣٣٠) يې تيار يو وستوی انډول (بريا) له دويم بېلښتي هممانيز (برياينه) سره لږ تر لږه پېنځلس کاله وار له مخه له ګړ نې پښتو راخوندي کړی وو .

له بده مرغه دليکوال له ټولوهڅو سره سره هغه انډول تراوسه دهغه (غلط مشهور) خپللاسي انډول ځايناستې شوې نه دی، له بد بتره يې لا دا چې (بريا) د((بري)) د هما نيز په توګه دود موندلی دی !
بله بېلګه (بې سروبې پښو) يا (بې سر او بې پښو) د پارسي(بې سروپا) بېځايه ټکي پر ټکي ژباړه ده چې نږه(ولسي) انډول يې(بې سروبوله) شمال ختيځ خواته پوره دود لري.

د وييرغاونې کړنوميزې بېلګې بيا له ورته پښوييزو چارونو او تر ډېره څرګنديز ماناونج سره، هغه هم تر ډېره د آروکړونو په غورځن ياويلونګ له متني سرچينو څخه لاسته راوړای شو، لکه: له (خپرول) څخه (خپراوی)، له (سرګرول) څخه (سر ګراوی)، له (غوږ تاوول) څخه (غوږتاوی: سزا)، له (غوږرپول، د بې توپير کېدل په جاج) څخه (غوږ رپاوی)، له (پامل يا پام لرل) څخه (پا ملرنه)، له (سر ټکول) څخه (سرټکونه)، له (پښه نيول) څخه (پښه نيوی)، له (مخه نيول) څخه (مخنيوی)، له (سرماتول) څخه سرماتی ، له (پرچا لاس پاکول) څخه (لاس پاکی) ، له (لاس ترزنې کښېنا ستل-ول-استل) څخه (هېښ؛ بېکاره؛ بې توپيره)؛ له (لاس رسېدل) څخه لاسر سی، خو (پريو چا يا څه لاس رسېدل) څخه بيا (لاسبری) شونی دی، له (لاس پر سرکېدل) څخه لاس پر سر (منصرف، . ..)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له نویو دودو او رغولیو بېلګې یې: (له سره تېر ېدل) نه (سرتېر؛ سرتېری)، له (له ځانه تېرېدل) نه (ځانتېری)، له (وخت -سات تېرول) نه (وختېری -سا تېری)، له (ښکېلول) څخه (ښکېلاک)، له (زېېښل) څخه (زېېښاک)، له (نیول) څخه (نیواک)،
له (لاس پرلاس کېدل) څخه (لاس پرلاس کېدا)، له (لاس وهل) څخه (لاسوهنه: مداخله) ، له (چاته ګوته څنډل) څخه (ګو تڅنډنه) یایې بل ځېل (ګوته نیول: ګو تنیوی)... او همداراز د ← بدني غړو په تړاو نورې ګړنې او څرګندنې (وییپوهنه، بېلنګونه)؛

په دې لړکې له(ورځ ګرځېدل: بدمرغه کېدل) غوندې کمپېښې ګړنې نه (ورځګر ځی) یوه په زړه پورې نوموالـه ګړنه رامنځته کولای شو.
نوې پرتلیزې څرګندنې، لکه: لاسلیکول بیا سرچپه له مخکینیو رغولو نومکړ تړنګونو (لاسرسي)، برلاسي او (لا سلیک) څخه رامنځته شوي دي؛ لاسلیکی بیا د (دستنویس، نسخهٔ خطی) هم همداسې وګڼه!

په همدې ترڅ کې مو.له ورته پرتلیز یاقیاسي(انالوجیکال) آر سره سم ، ان له((لاس تر زنې لاندې نیول)) ګړنې څخه څو څرګندنې رادودکړې دي، لکه: ترغور-څېړنې - ځیرنې- سپړنې- شننې- نیوکې- ابښتنې پوښتنې یا پوښتنې ګروېړنې... لاندې نیول، یوڅه د چا په واک کې ورکول، یوڅه ترولکې لاندې راوستل، یو هېواد تر نیواک لاندې راوستل، یوڅه په بل څه کې نغښتل، ټیکاو(قرار) موندل.له یوڅه په ګټه اخېستنه یاد استاد صمیم(په ګټنه) او داسې نور.

له خورا ساده ←نوموالو ګړنو او بیا څرګندنو څخه، لکه سپین ټکی(شودې)، تریخ چای یا ترخې چایوی... (چې د خوراک څښاک دست لپاره ویل کېږي)، یا د (پیاوې) غوندې خوار خوراک لپاره ګڼ هممانیزونه (ساړه تاوده،تاوده ساړه، تور تاوده...) ، کور اور (د کورنۍ په جاج)، کورجونګړه، کورکوډله (دکور په جاج)، غواخوسی(څاروي)، خور لور(چې زیاتره د واده او ولور په تړاو ویل کېږي)، دو ستې تربګنې(دوستې او دښمنې)، خورې وروري حساب تر منځ او داسې بې شمېره بېلګې د پښتنې ژوند و ژواک ، اندوژوند، انګېرنو او کړنو یو په زړه پورې انځور مو سترګوته نېغ دروي او ډېرڅه راسېمبولوي ..

پارسي له دغه پلوه تر پښتو وړاندې ده او د بېلابېلو نوښتګرو لیکوالو، رسنو الو او پوهانو، او له لویه سره د آر تاریخي- جغرافیایي ټاټوبي (ایران) د دولتي بنسټو نو، په تېره د څه باندې اتیاکلن ((فرهنګستان)) له خوا د پرلغښتو رغاونو (دانشواژه ها) په لړکې څرګندنې هم ورځ تربلې پر پخو تړنګونو اړول کېږي. پر (دستاورد) سر بېره یې د روستیو څو کلو بېلګې، لکه:(راه اندازي) له (راه اندا ختن)، (پیګیری، پیګرد) له(پی ګرفتن)، (برپایی) له(برپاکردن، منعقد نمودن)، سرګیری له (از سر ګرفتن)، به خاکسپاری از (به خاک سپردن)... ؛

"درخششٌ له (خوب- درخشیدن) څخه هم له هغو تازه پارسي څرګندونو څخه ده چې موږ یې کړوال اندول (ښه ځلېدل) له اړوند ګردان (ښه- وځلېد، ځلېدلی...)، او کړنومونو (ځلښت، ځلېدا، ځلېدنګ...) سره رادود کړی دی، (و) ګړنی اندول (نوم کښل، اوڅارېدل، مشهورېدل) وو خو دسبکې رنګا رنګی له پلوه یې پلیو نې په زړه پورې برېښي؛ ((سرورکول، سربښندل، له سره تېرېدل، ځان بلهارول...)) چې نن سبا سره مو د پارسي او ځینو نورو لرې نژدې ژبو تر اغېز لاندې ورکول" ورسره را دود کړی، هم همداسې درواخله: ((زموږ ملي اتلانو ډېرې بلهای یا قر بانی ور کړې دي))؛

هو که چورلیځ (سر، سرونه) وي، یو بشپړن یامتمم (د ازادۍ لپاره) یا (د هېواد په لار کې) سرونه ورکړي او یا (سرونه بایللي دي)، ورسرباري کول په کار دي...
له "برېښناً سره د پارسي (روشن کردن) او (ګل کردن) په پېښو (رڼاکول، روښانول) او (ګل کول) څرګندنې ځکه له پښتو سره اړخ نه لګوي چې وار له مخه یې پېړۍ پېړۍ له ورته اوزار" اور" سره (لګول) او (مړکول) کارولي دي، د (مړکول) تر څنګ هممانیز(وژل) هم دومره نادوده نه برېښي، هماغسې چې تخنیکي نومونې" اور وژنه، اووژونکې" هم رادود شوي دي؛

استاد حمزه د کوم شعري مخاوي (تقابل) له مخې (شمې یا ډیوې ګل شوې) د ((کابلۍ پښتو)) پېښې کړې دي!
"سپینولٌ پر مجازي ماناوو (روښانول، هوارول، تبریه کول) سربېره د جوارو له وړیو نیولې، تر میوو (ناکو، منو، کېلو)او سبو(کچلو، کدو توریو) پورې تر پارسي" پوست کردن" اغېز لاندې (پوستول) جاج و مانا کورټ پر بله اړوي او په دې ډول، په ← ناخپلېدونکو او نابښنوړو پېښو کې راځي؛

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په زړه پورې داچې (څکول، کښل، اېستل، باسل) د پارسي(کشیدن) اندول دی، خو له پخوا راهیسې له (تمکو،چرسو ...) سره یوازې (څکول) دود لرلی دی، په دې ډول که کوم کابل مېشتی لوستی پښتون ووایي: چېلم، سگرت...) مې وکښل، واېستل یا وباسل، نو نابومه او پارسي پېښې اېسي، نه یوازې پښتوپوهانو، بلکې درستو نالوستو کلیوالو پښتنو ته !

داهم د یادونې وړ ده چې (یووستوي، بېلښتي یا تړښتي) انځوریز(مجازي) ویيو نه دانځور یزو غونډونو(گړنو او څرگندنو) پر خلاف، مخکې له مخکې کوم جوت او ټاکلی شتون نه لري، بلکې د یوه شته دود تړون له مخې د وینا په بهیر کې متې د غونډلو دننه دعادي نگېرندو (محسوسو)ویيونو له اړونې راړونې رامنځته کېد ای شي. لکه (ستې)، چې له (ونې، بوټي) پرته د انسان یا یوه بل څیز او پد یدې لپا ره پرکار واچول شي.

لیکزیکوگرافیکي(قاموسي)خوندېینه
د پوهې-فرهنگ له پلوه په پرمختللو ژبو کې گړنې او څرگندنې پر دې سربېره چې د نورو ویيپانگیزو ډولونو په څېر دځانگړوسیندگیواوسیندونو په بڼه خپرېږي، په لویو سیندونواوسمندرونوکې د ټو لیزې ویيپانگې ترڅنگ هم راخېستل کېږي .

په نورو ټکو،د دغوسترو ډېکشنریو (سمندرونو) دنده داده چې د ټولیزو دودو ویيونو تر څنگ د هرې یوې علمي-تخنیکي سکالو نومونه اونومونې (تر مینالو جې) او پر نړیوال کچ تر اوسنیو او او زړو جغرافیا یې- تاریخي او ان اوڅا رو (مشهورو) وگړنومونو او ځاینومونو پورې باید له آرې سرچینې او نېټې او بیا ویيپوهنیزو (لېکز یکولوجیکي)، سید کښیز(لېکزیکو گرافیکي)، آر پوهیزو (اېتېمولوجیکي)، گړنیزو (ایدیوماتیکي)، ادبي- فرهنگي، ماناپوهیزو (سېما نتیکي) ځېلونو (هممانیزونو، څومانیزونو ...) اوپښو ییزو(گرامري) ځانگړتیاوو سره راخوندي کړي ،او ورسره ورسره یې کارو نځایونه په غونډلوکې ښه ترارو ښا نه کاندي.

په پښتو سیندونو کې لږ تر لږه د گړنو او څرگندونو د خونديینې دود محمدگل نوري رانښلولی، هغه هم د پښتو ټولنې په نامه په خپل دوه ټوکیز پښتو- پارسي قاموس کې چې بیایې په یوه جلا سیندگی هم خپرې کړې دي.
هرگوره، د اکادېمۍ په څو ټوکیز (پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې پر هماغو بسنه شوې او کومه زیاتونه پکې نه تر سترگو کېږي، نورې ویيپانگې ته یې هم دومره پاموړه پراختیا نه ده ورکړې؛ پر وړاندې یې د مشوانې یو ټوکیز هغه لا ترې یو څه غځېدلی او کره برېښي.

گوندې، زموږ دغه ځانگپوهیز نښیر چې هممهاله دگړنواو څرگندنو سیندگی هم دی، د راتلونکې پښتو سمندر(فرهنگ محیط وجامع) لپاره د یوه تیوریکي اخځ اولارښود په توگه، له یادشویو اونورو زیاتونوسره پرکارواچول شي.
دغلته،دا هیله یوځل بیا راغبرگوو، گوندې د نوې پښتو ژبپوهنې د تیوریکو لیکنو څېړنو په لړکې زموږ دغه ارزښتمن نښیرهم دزده کوونکو اوښوونکو، لیکوالو، رسنوالواوپه پایله کې به یې د راټولوونکو ښه تراراڅکونه اوگټنه دازړه غټاوی راوبښي چې د پښتو علمي-فرهنگي سیالۍ په موخه تر لاس لاندې یو شمېر نور اړین نښیرونه هم تر یوځایه ورسوو

له شعري انځورو سره پرتله
له څه پاسه نیمه پېړۍ مخکې چې د ژباړې ماشین رادود شوی وو او د روسي، انگلیسي، فرانسي او جرمني ژبو تر منځ یې د سیاسي ویناوو په اړونه راړونه کې د ژباړن دنده تر سره کوله، ژبپوهانو منښته کوله چې نه یوازې ادبي-شعري ژبه، بلکې د گړنو او څه ناڅه څرگندنو په ژباړه کې یې هم ستونزې لري ..

د تېرې پېړۍ څلورمه (ربع) متې تېره وه چې کمپیوتر ترانټرنېټه پرمختیا وموند له او دادی، څو کاله وړاندې یوه جاپاني ((ویند ربوت))، ((مېس ربوت)) ... هم را منځته کړل، خو بیا هم دهغې ربړې هواری لاهغسې یو ارمان پاتې دی .
په دې توگه به، پېړۍ نیمه بله واخلي چې په لومړي گام کې د ژبپوهانو په مټ گړ نې- څرگندنې او په دویم گام کې د اد بپوهانو او ژبپوهانو په گډ کار ناپېیلې (منثوره) ادبي اوبیا لا لوړه پېیلې (شعري) ژبه د ویند ربوت د سهنې (هضم) جوگه شي. د زیات پوهاوي لپاره← له ژباړن ماشینه تر ویند ربوته،zyar.net

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په هر ډول داسې برېښي، تر هغې له مخه چې په ژبه کې په ځانخبرې (اګاهانه توګه (و) ګړنی شعر وادب رامنځته شي، له ډېر پخوا راهيسې انځوريز او سېمبوليک غونډونه (ګړنې - ځرګندنې)رازېږېدلې اوکارېدلې. په تېره ګړنې چې ډېرې بېلګې يې د شعري- ادبي انځورونو هومره په زړه پورې برېښي که څه هم له شعري انځو رو سره دځرګندنواوګړنو داځانګړتيا شريکه ده او دواړه ډوله ورته بدلمانيز وييو نه اوغونډونه (phrases)دي.

خو بيا يې هم ((ژبني انځورونه)) بولو اوهغه هم په دې چې شعري انځورونه او سيمبولونه ورسره ، نه يوازې له څومره ييز او څرنګيز، بلکې نور توپيرونه لري، لکه په لاندې ډول :
(يو) ګړنې-ځرګندنې د يوشمېر ناځرګندو ويونکيو له خوا نيم اګاهانه رامنځته کېږي، وخت پر وخت ټوليز ژب-تړوني دريځ راخپلوي او د ويناييز بهير يوه (ځا نګړې) برخه ګرځي. خو شعري-ادبي انځورونه د ژبې د خورا ځانګړو او څرګندو ويونکيو(شاعرانو) له خوابشپړ اګاهانه راپنځول کېږي او کارونګ يې هم يوازې په همدوی او مينه والو اړه پيدا کوي، بې له دې چې د ژب-تړوني دريځ په را خپلولو ټوليز ژبني سېستم ته لار ومومي.

هرګوره، ساده (و) ګړني- شعري دايي د ژبې پخپلوځانګړو پنځګرو (ولسي شا عرانو) او مينه والو، په تېره سندرغاړو پورې اړوند پاتې کېږي ، او پېچلي ليکني- شعري، په تېره ذهني دا چې دبېلابېلو شاعرانو د اندو واند (خيال و انديشه) يوه خپلخوښې او بشپړه اګا هانه فردي پنځونه بلل کېږي، يوازې د پنځګرو او نورو شاعرانو اومينه والو لنډه تنګه کړې رانغاړي.

)دوه) د ګړنو-ځرګندنو په توپير د انځورونو ترشا، نه کوم ټاکلی ټوليز تړون شته او نه پر يوه بڼه او رنګ پاتې کېدای شي. که نه خپل ار زښت له لاسه ورکوي او کليشه کېږي، د چا خبره په هسې بې انځوره وييلوبه (لفاظۍ) او ((قافيه سازو ناظمانو)) اړه پيدا کوي.

(درې) په انځورونو او په تېره ذهني هغوکې هر راز څرګندونه شوني ده، که هغه له ژبني رغښتيز او پښوييز دوی (قاعدې سره سمون ولري يانه،او له بهرني- ژبني واقعيت سره اړخ ولګوي يانه، خو له هنري ګوټېپره په ټوله مانا لوړ ارزول کېږي.
په دې کې هم څه اړنګ نشته چې په ليکنۍ ژبه کې شعري انځورونه هم راګډېږي او کېدای شي، له مهال تېرېدنې سره د نويزونو په څېر (و)ګړنۍ ته هم لار ومومي.
خو دا د هرې ژبنۍ ټولنې په څرنګوالي اړه لري چې پرمختيايي يون يې څومره ګړندی دی چې کله دغه ټولمنلي ارت وبېرت ژبني- فرهنګي پړاو ته رسي.

(څلور) ګړني او څرګندني تر هرڅه له مخه، د اړوندو سراسري غړېدونکو له ژب- اندیز ټو لنيز شعورسره تړاو لري او شعري انځورونه يې پر دې سربېره له ژب- ښکلا ييز، په نورو ټکو،د ښکلاييز ذوق او هممهال يې دخړوبونې له هغه سره هم. اړاو تړاو پيداکوي.
په پای کې بياهم خپلې خبرې ته راګرځوچې د ګړنواوځرګندنو په نامه ژبني انځو رونه له خيالي(هنري) هغو سره يوځای شعرو ادب ته پوره رنګيني او خوږلني ور ببني .

همدا نړه پښتو ګړني او څرګندني وې چې د متلونو، ورمو وراشو او نورو نړه توکو ترڅنګ يې د پښتو منځني ادبي پېر د سترو ويناوالو شعر ته له پار سې انځورونواوپيلامونو (سېمبو لونو) سره سره يو په زړه پورې پښتنی رنګ ور ښلی او دخوشال، رحمان، حميد ... اوان د شيدا غو ندې ټينګ و ترينګ پليو ني يې، د خپلواو پردو له ګوتنيونې او ټاپې لګونې راژغورلی دی، که نه دادومره
ستر وياړونه به مو له کومه کول !

د دې لپاره چې يوخوامو د ژبنيو انځورونو(ګړنو او څرګندنو) اوبلخواد ساده (و (
ګړني-ادبي او او لوړو هنري ليکني-ادبي انځورونو ترمنځ څه ناڅه بېلندويه کر ښې راکښلې اوسي ، له(و)ګړني-ادبي او بياهنري انځورونوسره يوه دوه اړخيزه پرتله وړاندې کوو.د ساري په توګه، (ګل غوړېدل) يوه څرګندنه او(غوټې ګل کېدل) بيا يوه ګړنه ده؛
همداراز (شمه ګل کول) په دې جاج چې کله مري، لکه ګل يوه وړه لمبه کوي. دً ګل کېدلً ببلګې،لکه :
څانګه به نن سباکې ګل شي
مايې په سرکې سرې غوټې ليدلې دينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یا: سپرلی به نن سباکې ګل شي
مايې په سرکې سرى غوټې لیدلې دینه
سپرلی راغلی ونې ګل شوې
اوس به خزان تالا والا کړي زېرګلونه
سپرلی راغلی، نوبهار دی
خوشال مالیار دی، غوټو وسپړل ګلونه
غوټې چې ګل شي،بیارژېږي
زما جانان د ګل غوټې، ورژېدنه
سترګې دې بیا د ګل غوټې کړې
بانه دې پورته کړه چې وسپړي ګلونه
یوه سمته سېمبولیکه لندې، لکه:
پاس پر کمره ولاړه ګله
نصیب دچا یې، اوبه زه درخېژومه

ملنګ جان(۳۰۷) ځنې دا ذهني انځور رغولی:
نوی موسم نوی بهار دی
سینې مې وسپړل ګلونه
رانه جدا دمینې یار دی
ځکه مې ځې پر مخ رودونه...

خو رحمت شاه سایل ورسره لاپسې یو غوړېدلی او پسوللی شاعرانه انځور راپنځولی دی::
چې پرخنداورته د خوږ زړه پرهارونه نه شي
چېرې دې هم ستادښایست غوټې ګلونه نه شي.

د استاد حمزه دغه لاندې شعري انځور له یوې کنایي دلالت سره بیا سیاسي رنګ راخپل کړی دی:
زلفونه ګورم د سپین مخ په تمه
زه له هندوانو نه کشمیر غواړم

ګړنې بېلابېل ګڼ رغاونیز ډولونه لري. یوه ګړنه کېدای شي، یو پردوی(قاعده) برابر یا نا برابر، او ان ناسم پښوییز رغښت ولري. په نورو ټکو، اړینه نه ده چې د مانا څرګندتیا یې تل له ((پښوییز سموالي)) سره غوټه کړو. دې لاندې څو بېلګو ته به یې ځیر شو:
۱(هغه چې بېدویه یا نادویمنه(بې قاعده) ده او مانا یې روښانه ده، لکه: (و)لاړه، راغله (هرڅه چې ول، پر پخپله مخه ولاړل) یا (هرڅه پایته ورسېدل، هرڅه له لاسه ووتل) ؛ هرګوره، سولیز(منطقي) اوډون یې(راغله، ولاړه) سم راته.

۲ (هغه ګړنه چې دویمنه (با قاعده) ده، خو مانا یې ناڅرګنده ده، لکه: زمر شونډې وچیچلې، یا یې غاښونه وچیچل (پر قهر شو.(
۳ (هغه چې جوله یې نادویمنه (بېقاعده) ده او مانا یې هم ناڅرګنده، لکه: تور مار یې په ساکې واخېست (څښاک یا خوراک یې پر وچه مرۍ ولاړ.). (انګرېزي ګړنې ۱۳.(
لاسوهنه اوسمونه
داسمه ده چې پاسنۍ بېلګه ((ولاړه، راغله)) باید((راغله ولاړه)) وای، خو ښایي، د اړوندې پېښې او شانزول له مخې یې رومبی د متل اوبیا دڅرګندنې او ګړنې بڼه همداسې راغلې وي. سره له دې لیکوال نه یوازې پر منطق د برابروني، بلکې له راپېښ اکربکر او همداراز د پښېلې(قافیې) اواهنګ په پار په دوو شعرونوکې له روستۍ بڼې سره کارولې ده، بې له دې چې په موخه، جاج و مانا کې یې بدلون راوستل شي .

په یوه څلوریزه (۱۳۵۱ل)کې: ...ساز ناسازې زما نې سره به نه شم- څه پروا،که راغلم راغلم،لاړم لاړم. اود یوه مونډې شعر(۱۳۵۴ل) په پای کې: پس له عمرو ځنې راغله لاړه- په رپ د سترګوکې بس راغله لاړه
په دې توګه دغه جولیز اوډون اوسمون کومه ((نا ښنوره ګناه)) بلل کېدای نه شي او هغه داچې د جاج و مانا له پلوه،((وګړنی امانت)) خوندی پاتېږي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هرګوره، لکه د (← زېږ سرچینې) په برخه کې چې یادونه وشوه، په وینایيز بهیر کې د متلونو رانغښتنه(تضمین) د ګړنو او څرګندنو یوه دوده او روا رغاونه ده، که څه هم دغه یو سملاسي او یوګړیز(فردي) کار بلل کېږي؛ نه د آرو هغو غوندې تو لیز او پاینده دود مومي او نه یې په زېرمه کې کوم زیاتون راولي.
دانګړیزي بېلګو غوندې له پښتو دېو هم را جوتېږي چې دېری ګړنې په دویمه ډله کې راځي. په بله وینا، له پښوییز پلوه پر دویه (قاعده) برابرې دي او له مانیز پلوه پېچلې او ناڅرګندې.

هر ګوره، په دې ډله کې ځینې تر نورو یوڅه زیاتې څرګندې دي. د ساري په توګه: (چاته زرغون څراغ ښوول) سړی کولای شي، مانا یې(چاته د یوڅه کولو یا پیلولو اجازه ورکول) و انګېري. د دېری نورو ماناوې په دې اټکلېد ای نه شي چې د بېلا بېلو رغنده توکو یا وییونو له آرو ماناوو سره بلون(تداعي) نه رامنځته کوي. بېلګې یې، لکه: لاسته راوړل، تر ګوتوکول، تر بسه دوډۍ خوړل (ځان پوره مړول)، چاته غاښ غاښونه یا شونډې چیچل(قارېدل. ...(

له نورو ژبو سره همرنګي او ناهمرنګي
ورم و وراشي یا پند وحکمت، وجیزې یا د لویانو خبرې یا انګرېزي . saying, anecdote او پارسي پندوحکمت، ګفته، وجیزه...هماغسې چې له متلو سره ټکر پیداکوي او پرځای یې کارول کېږي، له څرګندنو سره هم لږوډېرې اخښل کېږي، راخښل کېږي. تردې چې د ځینو ژبو ترمنځ ګډون لري او د آرې او پوربنې توپیر یې هم نه شي کېدای، لکه پښتو لوړې ژورې یا لوړې ځوړې، پارسي فراز ونشیب یا فرازو فرود،عربي عروج ونزول؛ انګرېزي up and down, ups and downs او همداسې یې نور ورته اسیایي او اروپایي اندولونه درواخله.

په اروپایي ژبو کې زموږ د آریایي او آریاني د((څو کلن یې؟)) څرګندنې پر وړا ندې (ته څومره زوړ یې؟) وایي، لکه انګرېزي(how old are you?) :، الماني :
(wie alt bist du?)او داسې نورې ژبې .
هو، که دلته د ژبپوهنیز منطق پر ځای له استدلالي منطقه وګورو، زموږ تر دې اروپایي دا کره راځي او هغه داچې تر زېږېدا روسته هرڅومره وخت، له سانیې او دقیقې نیولې تر کاله پورې د هر چا له ژونده راکمېږي، په نورو ټکو، همدومره زړېږي؛ په دې توګه دانو ده چې موږ هسې بېځایه خپلې کالیزې نمانځو !

زموږ د دوه ګونو توکو او په تېره بیاد(څرګندنو) په تړاو د دغو ژبو دېرې څرګند نې یا اېکسپرېشنونه سره تر هرڅه له مخه دېر ورتوالی لري، د ساري په توګه: انګرېزي غونډیز کړ) take place تر سره کېدل) چې پارسي یې(ښایي د فرا نسي) په پېښو(صورت ګرفتن) راژباړلی،الماني statt finden یاانګرېزيout break اوالماني) ausbrechenد ساري ناروغي،اور،اورشیند یا جنګ پیلېدااو خپر ېدا)،انګرېزي) take away له ځان سره وړل)،الماني wegnehmen ، انګرېزي) look after پرچا پام ساتل) الماني nachschauen

داسې څرګندنې هم کمې نه دي چې د یو لړ ژبو له هغوسره بشپړه یا برخیزه همر نګي لري. دغه ښکارنده پرخپلوانویاهمریښه cognate ژبو سربېره د داسې نا
خپلوانو ژبو ترمنځ هم لیدل کېږي چې جغرافیایي، فرهنګي یا دیني اړیکې سره لري. موږ دخپلې څلورګوني(آریایي، تورک-مغولي، سا مي، دراویدي) ژبتو کمیزې ټولنې په ټولو ژوندیو دېرش څلوېښتو ژبوکې، دا ټولې بېلګې لږوډېرې موندلای شو. ځکه څنګ ترڅنګ سره اوسېدلي او له کیسو،افسانو، بدلو، متلو او نورو فولکلوریکو توکو نیولې تر ژبنیو،ادبي او دیني هغو پورې مو سره ډېرې راکړې ورکړې شوې او په دې لړ کې ترګړنو، د څرګندنو برخه بیا زیاته غوښنه ده.

دې لاندې پرتلې ته ځیر شئ:
پښتو: مخ یې (له شرمه) سورواوښت؛ پارسي: رویش از(شرم)سرخ گشت؛رنګ یې والوت(رنګش پرید)؛(ما مه تنګوه (مرابه تنګ نکویا به تنګ نساز. ...
کوزه خوا له پښتو سره ګاونډې ژبې(اردو، هندکو...) د(مه تنګوه) اندول(تنګ نکرو) او داسې نور وایي. د لومړۍ څرګندنې اندول ان د انګرېز شاعر(لارد بایرن 1788-1824) په لومړي سپین شعر کې وینو چې د ښوونځي پر درېیم کال یې د ښو ونکي له غوښتنې سره شراب داسې ستایلي ول:((شراب له آره تکې سپینې اوبه وې، خو چې خدای ورته وکتل، رنګ یې سور واوښت.)).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پارسي د پښتو پرخلاف زياتره څرګندني دسربلونو په ملتيا رغوي، لکه: (از) نل آب محکم ګرفت،از پدرش حمايت- ديدن- دفاع- ستايش، يادآوری- استقبال... کرد. له همدې کبله پارسي ځپلي پښتانه وايي او ليکي: له کابل څخه ليدنه- يادونه- ملاتړ-دفاع- ستاينه- هرکلی... وکړ. له بده مرغه زموږ ډېری پارسي ځپلو ليکوالو او رسنوالو، زموږ له نيم پېړيز يو- کره ليکنی" غورځنګ پرلارښوونو
غوړونه کاڼه کړي او سترګي پټي کړي دي! همداسي يې دويم پارسي څوچاری وييکی((تا)) درواخله چې ډېری پارسي ځپلي پښتو ليکوال يې پر کړول سربېره له (علتيه، بيانيه...) چار سره هم (څو_ ترڅو) ته راړوي!

په دې لړکي پښتو دا پر هېوادني کچ نه يوازې له همريښه(هندوايراني) ژبو، بلکې له ناهمريښه هغوسره دګاونډيتوب،همفرهنګی او همګروهی پرېښت هم نومېږ لای شو. په دې ترڅ کې له داسې بېلګو سره هم مخامخېږو چې په اسانه دا نه شو جوتولای، لومړی آره او سرچينه يې په کومه ژبه يا سيمه اړه لري.

نو که د پرتلې خبره شي، هغه راکړې ورکړې يا همرنګی چې په دغه تړاو د اروپا يې ژبو ترمنځ ليدل کېږي، زموږ د(سوېل- لويديزې) اسيايي برخې د اړ وندو ژبو ترمنځ نه ليدل کېږي. لاسوند يې هرګوره، همدا کېدای شي چې اروپا يې، په بله وينا، لويديزې ژبې سره د خپلو ويونکيو په څېر له انتيک يوناني او په تېره رو مې مهالپېر راهيسې له تاريخي-فرهنګي پلوه ډېرې ټينګې او ترينګې پاتې شوي دي؛ عامر(←) ورته" مذهبيٌ نومونه کارولې ده.

دوه مخيزوالی
لکه څنګه چې په ګړنی ژبه کې ليدل کېږي، بشپړ ډېری ګړنې او څرګندنې له بېلابېل مهال وچاپېريال سره په اسانه، پر آرو يا عادي غونډونو بدلېدای شي. په بله وينا، اړولې(مجازي)ماناوې يې آرې (وضعي) ماناوې راخپلوي. دبېلګې په توګه،که (توده خوړل) د خوراک پر مهال په غونډلوکې وکارول شي، هما غه آره ما نا ځنې اخېستل کېږي، خو په يوه بل مهال و چاپېريال کې، لکه پر يوه ربړه، ستو نزه خبرې اترې کېږي، نو بيا دويمه (ګړنيزه) يا (څرګنديزه) ما ناراخپلوي .

نارښتيني ګړنې او څرګندنې
په ورځنيو خبرو، او له جوتپوهيزو(سايتيفيکو) ليکنو څېړنو پرته نور په ټوليزو ليکنو،شعروادب او بيا ګړنو- څرګندنوکې يو لړ نومونه او نومَونې او څرګندونې کاروو چې طبيعي څيزونه او ښکارندې (پديدې) په رښتينه (واقعي) نه، بلکې په اوړېدلې بڼه راځلوي، خو ذهنونه مو ورسره د زاړه ناپوهنيزو اندودونو، کړنو او انګېرنو له لامله دومره روږدي شوي دي چې ګړسره راته نارښتيني جوړ ښتونه نه برېښي .

بېلګې يې، لکه: دېو و پېری، ښاپېری او ښاپېری، روې، شيشکه، خپسکه يا خپسه (خپه سا)...، همدا راز هسک- اسمان، لمر، سپوږمۍ او ستورې ختل او لو ېدل پرېوتل،د اسمان نيمايي ته رسېدل،(په کال کې د لمر(د ځمکې پرځای) دوه ځله ګرځېدل،تورېدل،تندرنيول ... يا لمرخاته،لمر لوېده، پرېواته،دبخت ستوری، دفېلم ستوری...؛ او د زړې ستور پوهنې پرېښت له بېلابېلو نومونو سره داسمان ددولس برجونو له مخې دکليزو(کالښودونو).اوډنه او رغاونه.

په لنډيو کې لکه:

اسمان مې ولاړی، اسماني شو
اسمان چې ځمکې ته راځي، قيامت به وينه
اسمان کې ستورو روغبړ وکړ
ماته بې ننګه اشنا لاس نه راکوينه
اندېښنو زور راباندې وکړ
چې لمرخاته او لمرلوېده نه پېژنمه. ...

په دې توګه، نه يوازې په کارونګ کې له رښتينو ژبنيو توکو سره نه توپيرېږي، بلکې دګړنو او څرګندنو او بيا شعري اوادبي انځورونو، سېمبولونو او اسطورو په رغاونه او نندارزونه (تمثيل) کې ترې له پېړيو پېړيو راهيسې ګټه هم اخېستل شوې او لااخېستل کېږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

(پرچاپیریان کښېناستل)، پیریان پاڅول، (څوک پیریان نیول) یا(پیریانی کېدل) بیاله آرې مانا سره په ورته بېلګوکې راځي، خوکه په بدله مانا (پارېدنه،قهرېدنه) وکارول شي،نوڅه ناڅه رښتینواله (واقعیت)راخپلوي، په نورو ټکو،د نوروګړنو په توپیر یې تر آرې، همدامجازي ماناله نومو لي ((مدلول)) سره ښه تراړخ لګوي .

د پیریانو تنور،پیر یان اوبه (سراب)،پیریان کټ (څلورګوټه توره تېره)،پیریان ګل (یوبوټی)، پیریان وړولی یاپیریان ډولی (یوبوټی)،او ((د پیریانو جنګ)) د یوې تازه نوموني او د اړوند کښلي کتاب تر نامه، رغو لی جوت غونډ یانحوي تولټر نګ (اضافي ترکیب) یې بیاپه← نوموالوګړنو او بیا ټاکنټرنګوکې را ځي. په دې لړکې د(د بو ډۍ ټال) غوندې نومو الي ګړنه بیا د یوه رښتیني نومولي(مدلول) یو انځوریز نوم (دال) بللای شو.

له متلونو سره اړاو تړاو
لکه وړاندې چې ورته نغوته وشوه، ګړني او څرګندني په ژبه کې له متلونو، غورو ویناوو، ورم و وراشو سره د جولیزې ترینګلتیا اوسپما له پلوه یوه ډله رغوي او ورته لرغونوالی لرلای شي. په ترڅ کې داهم له څېړنواوشننوجوته شوې چې ډېرو متلونوله ورځنیو پېښواوکیسو آره اخېستې اویوې کمې برخې یې له خپل، اوڅه ناڅه د نورو ژبنیو ټولنو له شعرو ادب، او بیا دیني سرچینو څخه .

په دې کې هم اړنګ بړنګ نشته، لکه له مخه چې وویل شول، د نورو ژبو په څېر ګڼ پښتومتلونه له غورو ویناوو یا ورم و وراشو سره اخښلون مومي او بیا له داسې بېلګو سره چې له عادي او ساده ژبنیو توکو سره یې سم سهي توپیر نه کېږي او په دې ډول له نورو ډېرو ژبو سره ګډون لري ، لکه: ښه کوه چې بد نه ویني، ښه کوه، بد مه کوه ، خپل عمل د لارې مل او په دې لړکې یو لړ څرګندني، لکه لوړې ژورې، سړې تودې او داسې نورې .

.بلخوا لکه څنګه چې وار له مخه ورته نغوته وشوه، ګړني او څرګندني تر ډېره دغونډلو د نچوړلیو غونډونو په توګه په لومړي ګام کې د متلونو نچوړلي بڼې دي او متلونه د ټولیزو غو نډلو غوندې د پېړیو په پوړیوکې لږو ډېر غورځون ellipse لنډون مومي او په دې لړکې کړونه او نور پښوییز توکي، یا له لاسه ور کوي او یا پکې بدلون راولي، په نورو ټکو، پر← لنډکیو غونډلو اوړي، په تېره پېیلې (منظومې) هغه (پښویه۲۵۴). کله چې متلونه بیا په وینایيز بهیر کې د ټو لیزو(عامو) غونډلو دننه کارول کېږي، نو بیا ګړسره پر ګړنیزو اوڅرګندیزو غونډ ونو اوړي.

دا هم څرګنده ده چې که ډېرې متلونه پر خپل وار د پېښو او کیسو زېږنده ده او ترشا بېلا بېل شانزولونه لري، نو په ورته کچه ځنې را زېږېدلي ګړني او څرګندني هم په نا سیده ډول هماغه پېښې، کیسې او شانزولونه رانغښتای یا تداعي کوای شي، هغه هم په لا نچوړلي او کالبي جوله او جامه کې. که څه هم په لیکنې او بیا شا عرانه ژبه کې تر هرڅه له مخه په ستایلېستیکي(سبکي)او اېستېتیکي (ښکلا ییزه) موخه کارول کېږي ، خو په ورځنۍ ګړنۍ هغې کې یې دکارونګ اورغونګ انګېزه زیاتره دوخت وزغم سپما ده؛ ځکه ګړېدونکي، د چا خبره تل په منډه کې وي.

داسې بېلګې چې متلونه پر لنډکیو یا مونډیو غونډلو اوړي او هغه بیا له لا زیا تې نچوړتیا سره پر ګړنو یا څرګندنو، ښایسته ډېرې نومېرلای او موندلای شو:
(دایې هم په انارو) متل چې د بېدانه انارولہ پلوه یې له نوموري سیمې(تګاوه) سر چینه اخېستې ده: یوچا پرانارو باندې په سودسلم پیسې اخېستې او نورې هم ترې غواړي، نو لنډ ګنډ ورته وایي،(دایې هم پر انارو) او په دې ډول یو متل او هممها یوه څرګندنه را منځته کوي او راروسته د نورو ویونکیو لپاره پر بشپړه ګړنه او ړي.
(سل پر لالي پور، دایې هم پر بنګړو) هم همداسې درواخله. یوه تیپیکه دوه اخیزه بېلګه یې، لکه ←وړه خوله، لویه خبره.

د ډېرزېږو توکو په توګه
ښایي، ډېر داسې وانګېږي چې د بلې هرې ژبې په څېر په پښتو کې متلونه او بیا ګړني او څرګندني له پخوا راپاتې دي او د رغېدا او ورسره ورسره د کارېدا بهیر یې، که یومخ درېدلی نه دی، وروشوی خو هرو مرو دی. بیاهم ترکوځایه چې جوته شوې ده، په (و)ګړنۍ پښتو کې په هر ډول، د لیکنی-ادبي پښتو له پرلپسې پرا ختیا او پرمختیا سره دغه بهیر خپله چټکتیا له لاسه ورکوي ؛ کټ مټ، لکه د و ییونو او متلونو د رغون او زېږون په برخه کې، خو له متلو پرته د وییونو او بیا ګړنو او څرګندنو دا لیکنی-ادبي پښتو بیرته راسکیندوي(جبرانوي) او لا ښه ترا وده وش وربښي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ګڼېشتو کلیوالو سیموکې د داسې خولورو، ژبورو اوخبرلوڅو کمی نشته چې ناځا نخبره(نااګاهانه) له هر راز پېښو اوکیسو نه پرلپسې نوي نوي متلونه او همز مان ګړنې او څرګندنې جوړوی او دودوي یې. د بېلګې په توګه وایې: ((ته لکه میری په ویاله کې شولې نالوې((!
بل یې چې ترې واوري،ورځ دوې روسته یې (په ویاله کې څوک شولې نه نالوي) متل ځنې جوړوي او بیا ترې(په ویاله کې شولې نالول) څرګندنه، او که بلې سیمې ته دا څرګندنه ورسي چې نه پکې (شولې نالول) دود لري او نه داکړوالغونډ یاتړ ښتي کړ(phrasalverb) ، نو پر یوه بشپړه(ګړنه) اوړي .

د جهاد د مهال بېلګه چې کله افغان روښاندان پرلپسې په پېښورکې ترورېدل ، یو چالیکلي ول: (له بارانه را وتښتېدئ، تر ناوې لاندې مو شپه شوه)؛ روستې بېلګه یې داچې کله په افغانستان کې د امریکا په سروالۍ د اتلانتیک پوځي ټلوالې د سرتېرو مرګ و ژوبله زیاته شوه، رسنیو (څه چې کرې، هغه به رېبې) متل داسې وکاراوه: (څه مو چې کرلې، هماغه به اوس رېبئ!(

څومانیزوالی اوهممانیزوالی
په پښتو کې د بشپړو یا ورته غبرګمانیزو او ډېرمانیزو ګړنو لړوډېرې بېلګې سهې کولای شو:
(۱)څومانیزې ګړنې
-سترګې پټول،وېدېدل؛ مړل؛ له ساختو سره د چا سترګې پټول، ځان ناګارول، ګنا ختا پټول)؛
-په ساوهل، پروچه(تنفسي) یا ساه لاره(قانقُرتک) اوبه، څښاک... تلل: زمر اوبه په سا ووهلې؛

-سا نیول یا سانیولی کېدل، ښې یا بدې پېښې، ننداري... ته له ډېرې تلوسې سا بندول یا قیدول: تور د زمر راتلو ته ساونیوله یا سا نیولی شو؛
-مار په سا(خوله)کې الوځول یا اخېستل، له وېرې ترهې سخت تلولی کېدل: زمر (په لوی لاس) مار په سا(یا خوله) کې والوځاوه یا واخېست .

څومانیزې ګړنې اوڅرګندنې چې دڅومانیزو وییونو غوندې تریوې زیاتې (بشپړې یاورته) ماناوې هم راونغاړې، لکه: (یوڅه یا چاته ګوته پر غاښ کېدل) او (ګوته پر غاښ کول) د (هېښېدل او هېښول) او(قارېدل او قارول)؛ یا لکه پاس یادې شوې درې هممانیزې ګړنې(لاس تر زنې کښېنا ستل،لاس ترزنې لاندې نیول-اېښوول) له دروماناوو سره: هېښېدل؛ په چورت واندېښنه کې کېدل؛ (د بد شګوم یا کړنې له مخې) د خوارۍ او بدمرغۍ رامنځته کول .

(۲) هممانیزې ګړنې
(دچا) سترګې له خوبه ډکې ډکې، پټې پټې یا مرغۍ مرغۍ کېدل. همداسې(تنۍ شکول-ګړېوان شکول، شلول یا ځیرول) د (شور و غوغا یافریاد کول؛ بې شرمې یا ناړامې کول) په جاج چې (بده ورځ اچول) یا (بدې ورځې کول) هم ویل کېږي.

ان داسې وړ ګړنې هم شته چې هممهاله، هم څومانیزې او هم هممانیزې دي ، لکه ← (سترګې پټول) چې له (سترګې وروستل) سره هممانیز کارول کېږي؛ پریوڅه سترګې پټول (چشم پوشیدن یا اغماز کردن) او د(مړل) په مانا په (و) ګړنې پښتو، پارسي... کې هم کارېده، خو بیاهم موږ ورته اوس اوس د پارسي (چشم از جهان پوشیدن) په پېښو (له نړۍ سترګې پټول) ادبي بڼه ورکړه.

په همدې لړکې که(له لاسه ورکول) هوبهو په ګړنې او وګړنې پښتوکې ونه مومو، له لاسه وتل)خو به ومومو. لیکوال په خپل سیمییزګړدوداونوروکې زیاتره د(لاس) (لاس) پرځای(ګوتې) د داسې څرګندونو د زړې یا هستې په توګه کارول کېږ ي، لکه: (له ګوتو وتل)، (تر ګوتو کول). په دې ډول(لاسته راوړل)- (ترګوتو کول)، (له لاسه ورکول)، یا داروابښاد دوست دخبرې پرخلاف (لاس له لاسه ورکول) څوک نا پښتو بللای نه شي!

هسې خو د نورو غړیو په څېر له(لاس) سره نورې ګڼې څرګندنې او ګړنې هم په ګړ نې پښتوکې سهې کولای شو، لکه: له... څخه لاس اخېستل، لاس پر سرکېدل، لاس تېرول، لاس مینځل، لاس اچول، لاسلګول، لاس تړل، لاس یوکول، لاس کول ، پرچا لاس پاکول، لاس چاته اوږدول یا غځول، لاس پورې کول،لاس مښل لاس یا لاسونه مروړل... او دا راز نورې بېلګې د هممانیزو یا ورته مانیړو وییونو په څېر له بېلا بېلو ګړدودونو له بېلابېلوجولو سره لیکنۍ ژبې ته پرلپسې راګډېږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څېړنیزه مخینه
د پښتوګړنواوڅرګندنو تشه ټولونه له پښتوسیندکښني سره هممهاله له شپېتو اوياکلو راهیسې پیلېږي.که څه هم کېدای شي، د ختیځپوهانو دخورو ورو څېړ نو پلټنو او وییزېرمو په ترڅ کې یې هم لږوډېر څرک هم ولګي. هرګوره پخپله د پښتنو لیکوالو او سیندکښونکیو په لړ کې یې جوته پیلامه له محمد ګل نوري سره رانښلي. دغه لیکوال هم د پښتو دوه ټوکیز او دوه ژبیز(پښتو-پار سي)، په نورو ټکو، پښتو قاموس(۱۳۳۰-۱۳۳۷ل) په ترڅ کې او هم په یوه سیندګي وزمه کوشنوتې ټولګه (پښتو محاورې اواصطلاحات)کې یو شمېر بېلګې له ابېځې اوډ(الفبايي رديف) سره راخوندي کړې دي.

لیکوال (ز.) دغه رغښتونه له ۱۳۶۰ ل راهیسې د دود پوهنتوني نصاب له مخې دپښتو پښوېي په دروګونو چاپونو، په تېره په روستي(۱۳۸۴ل) هغه کې ، د غو نډله پوهې(نحوې) د یوې برخې په توګه څېړلي اودلوست توکو په توګه یې شاګر دا نو او مینه والو ته وړاندې کړي دي. همداراز د ((انګرېزي- پښتو سربلونو-وستربلونو او ګړنو-څرګندنو سیندګي ۲۰۰۰ ز)) ردواخله.

خو دا ړومبی ځل دی، چې د غونډله پوهې (نحوې) دیوې پاموړې څانګې (غونډ پوهې(phraseolog په اډانه (چوکاټ) کې دننه د یوه خپلواک ځانګړي نښیر (اثر) په توګه چاپ ته سپارو. داسې چې نه یوازې د پو هنتوني لو ستلیکي (تکسبوک) یا لوست مرستیال (ممد درسي)، بلکې د لیکو الو، شاعرانو او نورو مینه والو د یوه ټولیز اخځ په توګه ګټور پرېوتای شي.

بر او لر (له شمالي تر سوېلي پښتونخوا) پورې له استاد نوريؒ پرته، دزاړه پښت لیکوالو او څېړنوالو دغه په زړه پورې ژبني توکي یا رغښتونه د متلونو یا نورو ژبنیو او ادبي لیکنو څېړنو په ترڅ ترڅ کې په خورا لنډ او څېرمه ډول راپېژندلي دي. خو د نوي ځوان اکادېمیک پښت د نورو ژبو، په تېره د انګرېزي هغو تر اغېز لاندې پوره ور ځېر شوی او په هماغه پلیونی یې پرې خپلواکې لیکنې څېړنې کړي او ځینو بیا په کتابي بڼه چاپ او خپراوي ته سپارلي دي .

په دغه لړکې بره خوا، تر لیکوال راروسته د استاد محمد آصف صمیمؒ د لرغوني شاعرۍ ګړنيؒ او لندن مېشتي لیکوال پیرمحمد باوري زما په هڅونه او لارښو ونه له تېرو څو کلو راهیسې د کندهار او په ځاګړي ډول د خپلې ارغنداو سیمې د ګړنو او څرګندنو راټولولو ته اوږه ورکړې چې تراوسه یې تر دوه- دوه نیم زرو رسولې او د یوې غوښنې برخې ړومبی ټوک یې له چاپه راپستلی دی .

هرګوره، د نورو یادو لیکوالو په څېر له دغه ډېرکاري ټولوونکي او خپروونکي څخه هم د یوې بشپړې څانګپوهیزې، ژب-پښو ییزې(لنګوېستیکي-ګرامري) شننې اوځېرنې تمه ځنې دومره کېدای نه شي.
محب سپین غر لومړی پښتون دی چې پر ۲۰۱۰ ز.کال یې تر ٌ کوټلي ګړنیز کا لبونهٌ نامه لاندې خپل اسپیرانتوري تېزس دفاع کړی دی (← د زیارکره کتنه(

پوهنیار شاه محمود کډوال ((ګړني، څرګندني او نومونې)) زموږ د لیکنو څېړنو او نومَونو په رڼاکې څوکاله وړاندې دننګرهار پوهنتون له لارې خپرې کړې دي چې له یوې لنډې کرونې سره د یوه په زړه پورې مرستیال لوستلیکي (ممد در سي) هومره ارزول کېدای شي او د پو هنځیو او ښوونځیو پرشاګردانوسربېره ترې نور مینه وال هم ښایسته ډېره ګټه اخېستای شي. همداراز د پوهنیار داود وفا او احسان وفا لږوډېرې لیکنې څېړنې هم درواخله.

تر کرښې ور اخوا، تر کوم ځایه چې راته پته لګېدلې، د شمالي پښتونخوا د بر سوات رښتپوه خیرالحکیم حکیمز ي شل- پېنځویشت کاله مخکې یو لړ ګړني دیوې وړې ټولګې په بڼه خپرې کړې او څو کاله وړاندې بیا د سوېلي پښتونخوا د (لورلايي) هڅاند لیکوال او څېړنوال عبدالکریم عامر په یوه پنډ وپېړ نښیرکې ښایسته ډېرې ګړني رانغښتې او د یوه ګڼ شمېر تیوریکي اخځونو لاسوندونو په مټ یې تر نورو ښه ترا ځیرلې او راپېژندلې دي .

اړتیااو ګټورتیا
دابه ومنوچې دغه بدلمانیز ژبني توکي یا وییونه او بیا ګړني او څرګندني لومړۍ پلا د یوې ځانګړې ډلې له خوا رامنځته کېږي او راروسته دټولمنلي تړون وړتیا مومي، او هله له آرو هغوسره لږوډېر دکارېدنګ جوګه کېږي. خو له دې سره داپو ښتنه رازېږي چې د کومې اړتیا له مخې رامنځته کېږي او ګټه یې څه ده؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې ځواب له دې پوښتنې سره پټليسووچې ولې انسان ښکلاييزځوب(ذوق) لري او د دې لپاره يې((هنر)) له دومره رنګار نګيو سره رامنځته کړی دی؟
او موږ يې د غبرګون لپاره فرويدېزم راننګوو چې وايي: وګړي دادب و هنر په مټ خپله ((سرباري انرجي)) ويلوي اوتمبول شوي ارمانو نه ورسره خړوبوي .
که څه هم زموږ ترڅېړنې لاندې ژبني انځورونه، لکه ورزش د هنر يوه ساده بڼه بلل کېږي او له همدې لامله يې ترڅنګه (و)ګړنی ادب يا فولکلور راپنځول کېږي او بيا پسې خبره ليکني هغه ته غځېدنه مومي.

سبک وسپما
ګړنې او څرګندنې د کېښکلتيا، سپما له پلوه له ورمو ورا شو، غورو ويناوو، او بيا متلونو سره په يوه ډله کې ټيکاو مومي او له عربي ((قَلّ و دَ لّ)) جاج سره سم په((لنډواو پخو ويناوو))، يا په پارسي نومونه ((سخنان قصار و بليغ)) کې راځي. داهغه څه دي چې د يوې ژبې ادبي- معياري ، په نورو ټکو، بد يعي سبک وستا يل rhetoric) (stylelپاره بنسټيز ارزښت لري. لکه واخلې په ارو پايي او څه ناڅه په عربي ،پارسي او ځينو نورو ختيزو ژبو کې.

په هره توګه، ګړنې(محاورې (idiomsاو څرګندنې(اصطلاحات(expres sions - د هرې ژبې، په تېره کره ليکنې ژبې له سپمايي، ادبي او سبکي (ستا يلېستيکي) له ځانګړتياوو او اړتياوو څخه بلل کېږي. په ګړنې ژبه کې نه دومره د وخت د سپماو نچوړ تيا(فشرده ګی)خيال ساتل کېږي او نه د ادبي او سبکي ښکلا؛ دارغښتونه له آره ژبني انځورونه دي او لکه شعري انځورونه د ژبې ښکلا ييز اړخ سمبالوي. هرګوره، دشعر په ذهني انځورونو کې بيا هر راز څرګندونه شو نې ده، که هغه له ژبني، په نو رو ټکو، له رغښتيز او پښوييز دوی (قاعدې) سره سمون ولري يانه او هم له بهرني واقعيت سره اړخ ولګوي يانه!

له بده مرغه په پښتوکې د ليکني- ادبي سبک دومره څرک ځکه نه ليدل کېږي چې تراوسه يې لا له بېشمېرو سيمه ييزو او ټبريزو ګړدودو څخه ((يوې- يوازېنې کره ليکنې پښتو)) ته لوړتيانه ده موندلې (د زيات پوهاوي لپاره←پښتو سبکپوهنه او ليکلارښود !(

هر ګوره،ګړنې (idioms)اوڅه ناڅه څرګندنې(expressions)،دکېښکليو نچوړ ليو يا (فشرده) ژ بنيو توکو په توګه د نورو توکو په توپير، لکه شعري انځورونه او سېمبولونه له څه زياتو مجردو ماناوو او بديعي پردازونو سره، په لنډه تنګه جو له کې ډېرڅه را نغښتلای شي. دا چې د ويناد لويترينو يوونونو،غونډلو دننه نا شننوړ او ناونجوړ(غير قابل تجزيه او غير قابل تعويض) جوړښتونه او بيا قا لبي رغنده توکي (stereotypes)او ژبني انځورونه ګڼل کېږي، نو په ليکنی- اد بي ژبه هم اړه پيداکوي.

له همدې ګوتېپره يې ليکوالو، شاعرانو، رسنوالو او ان څانګپوهيزو څېړنوالو ته د يوه پښتو ((ادبي سبک و ستايل)) د رامنځته کولو او رادودولو په موخه د کار ونې سپارښتنه هم کوو چې بې اړنګ برنګه زموږ د((يوې- کره ليکنې پښتو)) غور ځنګ د نيم پېړ ييز بشپړتيايي بهير يو زرين څېرکی رانغاړي.

رواني اغېز منتيا
ګړنې او څرګندنې، پر دې سربېره چې د شعري- ادبي ژبې، بلکې د ټوليز ژبني سبک وستا يل په لوړوالي اوکره والي کې يوه غوره ونډه پرځای کولای شي..د پوهې، فر هنګ تخنيک او بيا انفارماتيکي تېکنالوجۍ له پلوه غځېدلې او غوړېدلې ژبې له بېلابېلو لارولېلو، سبکونو سره، که په رسنوالي او ليکوالي ډګرکې کارول کېږي، يا په سياسي او رسمي، اقتصادي... ډګرکې، تر هرڅه له مخه له همدا وړ ځانګړو ژبنيو توکو ډېرکاراخلي. سوداګري انګروزې اوانګرو زي (تبليغات واعلا نات) خو لا پرځای پرېږده چې داغېزمنتيا په موخه تر بلې هر ژبني سبکه پر وييلوبه يا لفاظۍ (verbalism) زياته ډډه لګوي.

ناکره
۲=څېرکی
د پژنيو غړيو ګړنې-څرګندنې
د غه څېرکی مو د پژنيو(جسمی) غړيو اړوندو ګړنو او څرګندنو ته ځانګړی کړی، هغه هم په دې لاسوند چې په ورځنۍ ژبه کې تر ټولو زيات کارونګ لري .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بلخوا هم څنګه چې په لومړي څېرکي کې یادونه وشوه، د نورو هغو په څېر د دغه راز بېلګو ړومبنۍ سرچینه هم له بې شمېرو ټبریزواوسیمییزو ګړدودو سره بدایه (و)ګړ نۍ پښتو ده، دویمه یې متلونه، لنډۍ او نور فولکلوري ځېلونه او درېیمه یې لیکنی-ادبي زېرمه ده. په دې توګه مو تر روستي بریده هڅه کړې، دهرې ګړنې او څرګندنې د ښه ترا پوهاوي، او هممهاله د مینه والو د راڅکونې لپاره له همد غو په زړه پوریو زېرمو څخه بېلګې را واخلو.
په لنډیوکې یې بیا ډېرپېښې(بسامد) تردې بریده رارسي چې په یوه یوه کې څوڅو غړي، لکه سترګې، غوږونه، سر، لاس،پښې، ژبه سره یوځای راپېیل شوي دي، لکه:

په سر سرتور، پړی پرغاړه
راځه چې دواړه د حضرت روضې ته ځونه
په سر سرتور، په زړه غمجن یم
پرتا مین یم، تندی تل درته وهمه
په سر سرتوره، په پښو پښې ابله
بېلتون دې سر کړم پر دا چولې بیابانونه
++++++++++++
لاس پرنامه(نو) د خپل اشنا سلام ته ځمه
په غوږو کونې، په ژبه ګونګ شې
په سترګو ړوند شې چې ارمان درته درځینه
په سترګو ړوند، په غوږو کونې شې
په ژبه ګونګ شې چې ونه وایې حالونه

هرګوره، دګړنو او څرګندنو په رغاونه کې د بېلابېلو غړو ونډې سره یو برابرې نه دي، د ساري په توګه په بهرنیو کې د سر، سترګې- لېمه،لاس، خوله، مخ، او په دننیوکې د زړه دا له نورو سره هېڅ د پرتلې وړ نه دي.
ژبه،خوا،شونډې،وروځې، بانه، بارخو-اننګي، شا- څټ ، ملا،ورمېږ، پزه، پښې، ګوتې، ګورت، غاړه، غا ښونه، غېږ، غوږ،تندی-تندې، سینه- ټټر ،ګوګل،ستونی، مری، اړخ، اوږه، مټ، لېڅ، زنګون، ینه-ځیګر... نرینه او ښځینه نوږیز(جنسي) غړي ښایي دو یمه کچه را خپله کړي. نور څېرمه اوکوشني هغه،لکه نوک،وو رې،هډ-هډوکی،سپوغزې، پښتور ګی، تریخی، لړمون، وېښته، څڼې، کوڅی، پېکی،وربل، وربوز، ږیره، بربت،کو لمه، پونده، پنډی، پله، پوست،ککره،کوپړی، مرکنډی، کوټی، ما غزه،وینه، ور ون، پټون، ډډه، دو ډه، ښنګری، اته، ورغوی،وچولی(د تندي-تندې د همماني پ توګه)،منګول،مړوند، تالو، ژبې ، چنغړک . ...

۱ =اړخ- اړخونهaṛx-aṛxúna (پهلو، بغل، جنب، جانب، بُعد)
لړو ډېر له (← خوا، څنګ، ډډه،ګوټ) سره هممانیز کارول کېږي. د اړخ بېلنګونه: اړخی(د غره ډډه یا لمن)،اړخیز،اړخک(← اړخک کول)، نوې نوموال ترنګونه:یواړخیز-وا لی، دوه اړخیز-والی، څو اړخیز- والی، نیم اړخیز-والی، هراړخیز-والی، اړخ پراړخ (اخ پاړخ. ...(
* اړخ اچول← څنګ اچول.
*اړخ لګول- لګېدل، پر← (څنګ اچول، لګول...) څرګندنو سربېره سمون، همغږ ي(تطابق، هماهنګي) درلودل(ګړنه) هم رغوي: د زمر او تور اندوژوند، اندوواند، کړه وړه...سره اړخ لګوي، یا یې سره اړخ لګېږي.
* اړخ یا اړخونه لګېدل،← ډډه یا ډډې لګېدل اړخ لګېدل- له← (لګول) سره پر پا سنۍ ګړنې سربېره ځانته یوه بله (بې غمه کېدل،ډاډه کېدل) مانا هم ښندي: (له ډېر و ستونزوڅخه) د توراړخ (متې) ولګېد .(
* د خبرې اړخ لګېدل، خبره جوړېدل یا سمېدل، جوړجاړي یا هوکړې ته رسېدل: (له ډېرو تاویلو ماویلو روسته متې) د خبرې اړخ ولګېد.
*له (شپېنې) خوبه پر ښې اړخ پاڅېدل، د هغه چا په تړاو ویل کېږي چې کومه ورځ خوښ خوشال، ورینی یا خوږاروا (خوش اروا) وي او له نورو سره یې چال چلند په زړه پورې: زمر(نن).له خوبه پرښې اړخ راپاڅېدلی دی.
*له خوبه پر کینې اړخ پاڅېدل،د پاسنۍ ګړنې د منفي ځېل په توګه، په نورو ټکو، د هغه چا په تړاو ویل کېږي چې کرې ورځ بوڅ موڅ،ګوزموز، تریو تندی او بد چلندی وي: تور(نن) له خوبه پر کینې(ګڅ ،چپ) اړخ راپاڅېدلی دی() او یودوه ور سره نه کېږي .(
*پر اړخ اوښتل،له یواړخه پر بل اوښتل← اړخ بدلول، پرڅنګ- ډډه اوښتل.
*اړخ پراړخ اوښتل،کول- بدل،اړول یا اړول راړول، دځرګندنې په توګه:یوڅوک د درد و رنځ، غم اندېښنې پر کټ، بستر... یا ژوی، څاروی له ناروغۍ ،زېږون... کله پر یو اړخ کېدل، کله پر بل؛ د ګړنې په توګه: اړخ پر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اړخ یا اړخ پاړخ اړول(راړول) (سخت وهل ټکول): تور اړخ پراړخ اوړي؛سنک ببری اړخ پاړخ واړاوه (راواړاوه)، ، همداراز←اړخ بدلول، پر اړخ اوښتل .
*اړخ بدلول، له پا سني غونډ سره توپیر یې زیات انځوریزوالی او ټولیزوالی دی، په نورو ټکو، هغه څرګندنه ده او داګړنه، لکه چې وایي: وخت ژرژر اړخ بدلوي؛ وریځو اړخونه بدل کړل، اکربکر(حال احوال)...اړخ بدل کړ او داسې نور .
*اړخک کول، دام ته د مرغیو راړول، لکه یوبل ته چې وایي: مرغی را اړخک که(کړه.(
*اړخک وهل، په پاسنی مانانا، لکه چې وایي: اړخک ووهه چې مرغی تلکې ته راسي.
اړخیزه خبره کول،دوه اړخیزه یا دوه مانیزه خبره کول، لکه چې وایي: ستاخبره اړ خیزه ده یا اړخیز خبره دې وکړه؛ (اړخیزه خبره) د نوموالي ګړنې په توګه د پارسي (ګپ یا سخن پهلودار) انډول راځي.

۲=اوږه) oğá, wəğá, uğá دوش، شانه، کتف (
دغلته یېد اوږد-و (o)ګړدودي ځېل کره بربښي، خود درېواړو ځېلونو ډېرګړې اوړې او اوښتې بڼې(اوږې، اوږو) را ځي. ولی)wə́lay د دواړو اوږو ترمنځ هډوکی چې ښی او کیڼه اوږه سره بېلوي) هم څه ناڅه له (اوږې) سره همماني‌زکارول کېږي، لکه په متل کې: خپل عیب د ولو منځ، پردی عیب د کلومنځ ؛ وچولی(تندی) یې هم یوه ترښتي رغاونه ده او همدا راز په راتلونکو ګړنواوڅرګندنوکي.
د اوږې اړوند←جوتغونډونه ، لکه: داوږو بار(کېدل)؛داوږوکېښکل، کښېمنډل، اوږه اوښتل یا بېځایه کېدل یا پرځای کول؛ اوږه یې غاړه هغه ګرېوان چې د ګروې (طوقک ګردن) پرځای پر اوږه باندې پروت وي؛ اوږه یې توغندی (را کت یا مو شکِ سرشانه یی). بېلنګ، لکه اوږه ور(چارشانه)، ښایي(اوږی). هم د (اوږې) یو بېلنګ(مشتق) اوسي!

) *یوڅه د(بل) پر اوږو یاولیو اچول یا اېښوول، خپل کار پر بل تپل یا←تاوانول :
د څرګندنې په توګه:
تاته چې زما(یوڅېیز) پېغور بد ښکاري
زه مې بوږی پر اوږه ږدم،وطن پرېږدمه
بوږی دې ډک پر اوږوکېږده
دښمنان ډېر دي چې ډاډه درپسې ځمه
)*دچا) پراوږه-اوږو- ولي-ولیو اېښوول- سپرول ،.یو ماشوم، بار، ټوپک... پر اوږو-ولیو اېښوول- اخېستل – سپرول د(← له اوږو-ولیو اړول) بډ یا سرچپه:
تاله چې زما پېغوربد ښکاري
زه مې بوږی پراوږه ږدم، وطن پرېږدمه
*پر اوږه کول د تېر په څېر .
له همماني‌زو(ولو) سره (څرګندنه)، لکه:
ټک مې دملاپیوندو وکړ
چې مې جانان پر ولوکېښوول لاسونه
ټوپک دې بیا پر ولیو سپورکړ
لکه پر لوړ چینارچې واچوې ټالونه
همداراز دنده، پازه(مسؤولیت)... پر(خپلو) اوږو اخېستل یاد چا پراوږو اېښوول- اچول،هم نن سبا په لیکنی-ادبي پښتو کې د نورو ژبو پرپلیونی نوي رادود شوي دي، که څه هم دغلته د(اوږو) پرځای (غاړه) زیات نږه بربښي؛ له(اوږې-اوږو-ولیو) سره:
:د ګړنې اوشعري انځور په توګه، لکه:
ښکاري پر مینه مې باور نه لرې
داچې ږدې ژمنې د سبا پر اوږو(ساندې ۳۲)؛
یاپه سپین شعرکې :
له نارینه سره به
د ښځې د برابری خوب
هله رښتیاشي
چې داهم،
-لکه چرګه-
. خپله زېږنی دنده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ماشین پراوږوکښېږدي (پوهه۱۱۰)
په نمنځ سربه د مزدک سپېڅلي لمرږدم
چې تابوت د شپې پر ولو د سهر ږدم (د مرجانونوڅانګې۲۴).
* بار له اوږو یا ولیو اړول-اوښتل یا کوزول-ېدل، د← (اوږو سپکول-ېدل) په جاج، لکه :
که یووار زموږ پرکلي واړوي
د غم بار به مې له ولي واړوي
(استاد داوی، ښکلي شعرونه۱۳۴۰).
*(څوک د چا) د اوږو بارکېدل، ول- استل ، ← د اوږوبارکېدل، خپل بار د بل پراوږو اچول-اېښوول، څوک چاته ترغاړې کېدل
دومره دې مینه کې خوار زار هم نه یم
چې شمه بار د نن سبا پر اوږو(ساندې ۳۳)
*اوږه پر اوږه(سره) کول-ېدل، پرمخ وړل ،ول- استل، یو کار، سیالي... یو برابر او همماله کول یا(سره) په ګډه پرمخ وړل؛ یا په یوه کار، سیالی... کې(سره) خوا پرخوا ول- استل: تور و زمر هرکار (سره) اوږه پر اوږه کوي یا پرمخ وړي؛ تور و زمر(سره) په هرکار(همکارۍ ،سیالۍ ...) کې اوږه پر اوږه دي؛ همداراز:
← یوڅه څنګ پر(تر) څنګ(سره) کول، پرمخ وړل-بیول یا ترسره کول .
*اوږې نېغول یا نېغې نېغې، پورته پورته اچول، موږد پژ ژبې(body language) د یو توک په توګه د لویدیز کولتور تر اغېز لاندې راخپل کړي او موخه یې منفي یا بې توپیره غبرګون دی. که څه هم پارسي له پخوا راهیسې(شانه خالي کردن) ګړنه کاروي، خو ویونکیو یې زموږ په څېر دغه کلچر تازه له اروپایانو څخه له (شانه را بالا انداختن) ګړنې سره یوځای راپورکړی ؛ نو موږ یې هم پرخپل وار پاسني درې څلور رازه وراندولولای شو، لکه: تور له زمر پور وغوښت او هغه اوږې نېغې کړې.یا پورته واچولې.
*(د چا) پېټی پر اوږه، اوږو اخېستل،مرسته کول: زمر د هرچا پېټی پر اوږه (اوږو) اخلي یا← اوږه ورکوي؛ ← پرغاړه اخېستل، اوږه ورکول..
*د چا مرستې ته اوږه ورکول، لکه پاس .
*یوه کار ته اوږه ورکول، د یوه کار کړن ته متې رانغښتل، چمتوکېدل یا له یوه کاره غاړه نه غړول: تور هر سخت کارته اوږه ورکوي.
*(دچا یاله چاسره) اوږه یا اوږې سپکول-ېدل. ول-استل، له چاسره په یوه کارکې لاس مرسته کول یا یې کار وراسانول؛ له یوه کار یا دندې څوک ګوښه کول-کېدل: زمر د تور اوږې سپکې کړې یا د تور اوږې سپکې شوې، او یا د تور اوږه په زمر سپکه ده؛ چارواکو د زمر اوږې له دندې سپکې کړې؛← له اوږو یا ولیو اړول.
*اوږه کښل، له یوه کاره ځان کښل- بچول- ګوښه کول: ځیر له کاره اوږه کاږي.
*اوږه یا اوږې کښېښکل(کېښکل)، کاروزیار پرمخ وړل: زمر اوږه کېښکاږي؛ ← ځان کښل یا اېستل.
*اوږه لګول-ېدل، وروړل، ورکول، نیول یااړمېدل، ول- استل- یوه(سخت) کار ته چمتو کېدل؛ لاس مرسته کول: ځیر یوه(سخت) کارته اوږه لګولې (وروړې، نیولې، ورکړې، اړم کړې)، یایې ورته اوږه لګېدلې؛زمر له تور سره په کارکې اوږه...ورکړې ده ←اوږه ورکول، اوږه ور سپکول.
*اوږه لګېدل، د تېرې ګړنې دغه نالېږنده(لازمي) بڼه د(یوه کارته) پر (توان لرل) سربېره(لېوالتیا لرل) جاج هم رانغاړي، لکه: د زمر هرکارته اوږه لګېږي یا نه لګېږي؛ د ننګرهارخواته زیاتره(ډډه لګېدل) دود لري .
*اوږه له یوڅه سره لګول-ېدل،← اړخ لګول، سمون خوړل یا لرل: د زمر او تور خبرې سره اوږه لګوي، یایې خبرې سره لګېږي.
*اوږې (سره) جنګول- جنګېدل، دا څرګندنه د ننګرهار خواته لږو ډېر د زور ازما ینې په جاج دود لري: زمر او ځیر سره(خپلې) اوږې و جنګولې یا یې اوږې سره وجنګېدې .
*(یوڅوک) پر اوږه ګرځول، یو څوک ډېر نازول؛ د چاخدمت، پالنه... په ښه ډول کول؛: زمر تور پر اوږه ګرځوي؛← په غېږکې ګرځول؛ یوڅه (له بدوردۍ) پر ولي ګرځول،لکه په متل کې:
کلي پر کلي، ډانګ پرولي
او پر بنسټ یې رغېدلی شعر:
د سندا لکۍ پر ولي ګرځوې چې
د وزې په لکۍ خدای که جنت وکسې...
درنه نجونې، ژنې دلته پاتې نه شول،
نو به حورې غلمان هلته بیا ونه کسې!
(پوهه او ګروهه ۱۰۹)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوږې سولول-ېدل، لګول-ېدل، ډېر پېټي پنډونه د چا اوږې سولول یاژوبلول یا ترې سولېدل، ژوبلېدل: ډېر پنډونو پلنډونو د تور اوږې سولولې یاځنې سولېد لې دي؛ همداراز.←اوږه لګول-ورکول . ...

۳ =بارخو) bārxú-bārxwān بارخو- بارخوګان(
- اننګي- غومبري(رخسار، عذار) یې هممانیز دي چې له دغو ځېلوځخه(اننګیو) له استاد حمزه سره په شعري ژبه کې زیات دود موندلی دی.
*(چاته) اننګي په خوله کې ورکول
ستا اننګي پېړې د کوچو
موزي له ی خوله کې ورکوې، سندا دې کنه
*پر بارخو خوله لګول، د بارخو ښکلولو یو ښندیز ځېل:
پر مناسب دې نه پوهېږم
وایه پرکوم بارخودې خوله ولګومه

۴ =پزه-پزې /za-pázeáp پوزه-پوزې póza- póze
پېزه یې ناکره ګړدودي ځېل دی. پزول-ېدل (بو یو ل) ځنې رامنځته شوی کړ او پزی)pazáy شم، شامه) نوم دی؛ (پزېدل) د(اېشېد ل، جوشېدل) او(تپې کېدل) په مانا وو بیا ښایي ورسره همآری نه اوسي او یا هم له پارسي(پخت و پزسره) تړاوولري (پق)؛ یوې نیمې ګړنې یا څرګند نې په رغاونه کې له(وربوز) سره هممانیز هم کار ول کېږي؛ پیت پزې یا پلن پزی، خرم پزی (سخوار)، پزپرېکړی... یې ستاینومتړ نګونه دي؛ په(پېزوان، پېزوانی) کې یې ستې له کرلانې (پېزه) سره همغږي لري او له پارسي(پوز) سره یې (پوزه) نژدې برېښي او هغه داچې په (پوزکوه، بینیچهٔ کوه) کې هرګوره، له(وربوز) سره اندولېږي د کندهار پارسي آرې (سرپوزه) هم همداسې درواخله چې نږه پښتو اندول یې (د غره ور بوز) او(ورسک) دی؛ تمبو زک(پوز بند) هم له پزې او پوزې سره همآری اټکولای شو. پزیز(انفي (nasalنویزی د هغه غږ یا اواز ستاینوم دی چې په پزه کې ادا کېږي، لکه/ م/ او /ن/ چې ګنسي او غُنه یی یې هم بولي .

دادی، په لاندې ډول له دواړوګړدودي ځېلونو(پوزې-پزې) او په ترڅ کې یې اړوندو پسولونو(پېزوان- نتکی...) سره تړلې ګړنې-څرګندنې وړاندې کېږي:
*پزه پر هوا نیول، ښاخل،غاورېدل: زمر پزه پر هوا نیولې، چاته ګړسره نه ګو ري، ← وربوز پر هوا نیول.
*پزه پرېکول-کېدل، شرمول-شرمېدل: زمر د خپل تېر پزه پرې کړه، د زمر پزه پرې شوه..
*پزه تروه کول-ېدل، مرورېدل : زمر ببري ته پزه تروه کړه یایې پزه ورته تروه شوه؛ شدل ځېل یې(کونه تروه کول-ېدل) راځي..
*چاته د خمیرې پزه جوړول، د چا شرم پټول یا سکینده(جبیره) کول: زمر سنک ته یوه د خمیرې پزه ورجوړه کړه.
د یوڅه-یوڅه ته د خمیرې پزه جوړول-اېښوول، یوازې د یوې نیمګړتیا(سکینده کول) جاج ښندي.
* پزه نه درلودل، شرم و حیا نه لرل: زمر پزه(شرم) نه لري.
*پزه وتل یا← خوله وتل،تبخال ختل یا اېستل: د زمر پزه وتلې ده ،.
*پزه ټکوهل، پزه سونل یا سونول: زمر (خپله) پزه ټک وهله.
*پزه پر دېواله پاکول،ببوزله ول: ببری پزه پر دېواله پاکوي.
*په پزه کې غږېدل-خبرې کول، ګړنسي ول، دهغه چا په تړاو ویل کېږي چې په ارثي ډول، او یاد والګي، سېنوزیت... له کبله روان و روښانه نه غږېږي: ببری په پزه کې غږېږي .
*پزه ټکوهل،پزه سونول، لکه: زمرک ټک وهله(پزه سونې کړه.(
پزه نېښ کښل یاوهل،ډېرډنګرېدل، لکه چې وایي:(له ډېرې ډنګرتیا) د زمر پزې نېښ کښلی یا وهلی دی.
* تر پزې ډکېدل، ډېر مړېدل یا موړ- ول: زمر تر پزې ډک شو یا تر پزې ډک دی
*نر مچ پر پزه (مخ) نه پرېښوول، د←(پزه پر هوا نیول) یو ښندیز ځېل، غاورېدل؛ بوڅېدل؛ شوخ کېدل -ول: زمر نر مچ پر پزه نه پرېږدي.
*له پزې نیول او ساختل، ډېر ډنګر او کمزورې -ول: زمر دومره ډنګر وکمزوری دی چې له پزې یې ونیسي، سایې خېژي؛ ← سترګې کولکیو ته لوېدل.
* د پزې خت کښل،توبه کښل، توبه ګارېدل: زمر (پر) ببري د پزې خط وکېښ چې نور به بد کارونه نه کوي.
: *شرم د چا تر پزې رسېدل، ډېر شرمېدل: د زمر شرم تر پزې یا پوزې رسېدلی دی؛
د نوښاري ولسي شاعر(فریحان شیدا) پر پلیونې:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په تندرونوکې د وړو سترګو،
لکه هوسۍ چې ترهېدلې ښکاري...
چې يې رانغښتې د ټيکرې په وله کې،
))حيا يې پوزې له راغلې ښکاري))! (اندوواند ۱۹)

* پزه نه ويني کېدل،څوک هېڅ نه ژوبلېدل: په جنګ کې يوه) پزه هم د چا ويني نه شوه.
*(له چاسره-څخه) تر پزې يا سپړمو رسېدل، (له چاسره- څخه) پرتنګ راتلل- پکو کېدل: زمر له سنکه يا د سنک له لاسه پزې، تر پزې يا پزې ته رسېدلی دی ← ترسپړمو يا سونګو رسېدل..
*د پزې پر بريد تلل ،سم له سمونې نېغ تلل يا روانېدل: زمر د پلار په بولۍ هر کار ته د پزې پر بريد روانېږي.
* چاته د اوړو پزه جوړول، د چا يو څه پرده کول← دخميرې پزه جوړول.
*د خپلې پزې د پاکولو توان نه درلودل، ډېره پژني يارواني کمزوری لرل: زمر له ډېرې بېځواکی- بېواکی- تنبلی- ناغېړی خپله پزه پاکولای نه شي .
*په پزه کې غوښه شنه کېدل، دغه نوې څرګندنه د پزې په طبي څانګه اړه لري، داسې چې دچا په پزه کې سرباري غوښه را شنه کېږي او زياتره په سوځنه له منځه ځي ، نو په غونډله کې يې داسې کارولای شو: د سنک په پزه کې غوښه شنه شوې وه او ډاکتر ور وسوځوله.
په دې ډول (د پزې د غوښې سوځل) يوه بله نوې څرګندنه را دودولای شو.
*(دچا) پزه پرېکول-ېدل، شرم اړول- اوښتل: سنک د تور پزه پرې کړه يا پرې شوه؛← سر خريل-کلول-ېدل (په لومړي جاج.(
.*(يوڅه، څوک) د چا دپزې پېزوان کول-ېدل، تور و پېغور پورې کول يا تپل: لويديځوالو راته بنسټپالي يا بنسټپال د پزې پېزوان کړي دي.
* يو پسول پر پزه(پوزه) کول- سپرول، پزه په پېزوان، نتکۍ يا بل پساله پسولل
تا چې پر پوزه سور(سپور) پېزوان کړ
د عاشقانو ژوند دې تريخ تر زهرو کنه
پېزوان يې بيا پر پزه سپورکړ
لکه کوتره پر هوا چورلک وهينه
- - -- - -- - -- - -
د لوی پېزوان پتري مې شونډې غوڅوينه
پېزوان دې پاس پر شونډو سپور کړ
لکه ښامار د خزانې له پاسه وينه
*پېزوان- نتکۍ-چارګل پر پزه کول-اېښوول-ګرځول، لکه:
تاچې ټوپۍ پر وروځو کېښووه
زه به نتکۍ په پوزه لکه ګرځومه
پېزوان پر پوزه کړه خدای ياد کړه
چېرې نصيب دې له سپايانو سره شينه
*پېزوان له پزې-پوزې لوېدل-پرېوتل- ورکېدل...په لنډيو کې:
پېزوان زما له پزې پرېوت
ته راپسې وې، دا به تا اخېستی وينه
پېزوان مې شرنګ له پزې ولوېد
ته راپسې وې، دابه تا اخېستی وينه
پېزوان مې شرنګ له پوزې پرېووت
ته غلی غلی راپسې وې، پټ دې کنه
پېزوان زما له پزې ورک شو
اوس به تپوس ته زرګرانو کره ځمه
پېزوان مې خړو اوبو ډوب کړ
په سپينه خوله به لامبوزن ورکوزومه
پېزوان مې خړو اوبو يووړ
په غم شريکه ياره نيسه ګودرونه
.....
د کونډې زويه ورته ونيسه ورخونه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پېزوان مې سپينو اوبو يووړ
زه مېرې مور ته به اوس څه ځواب کومه
له (کوزول) سره، لکه:
پېزوان دې کوز له شونډو نه کړې
چې مينان دې په رڼا ګوري خالونه
*پېزوان جوړول،لکه:
پېزوان مې ښه جوړ کړه زرګره
يارمې زلمی دی، د پېزوان په رڼا ځينه
پېزوان به نوی درته جوړ کړم
ته خپه نه شې، زه هم ستا لپاره يمه
پېزوان په کورمه کې جوړېږې
د کندهار زرګره مات دې شه لاسونه
پېزوان دې جوړ دبوډۍ ټال دی
زما نصيب پرې زنګوې ببار به شينه
پېزوان مې تورو ستګو وخوړ
زه د نشتر(نښتر) تاويز پېزوان له جوړومه
*پر پوزه مات پېزوان راوړل، دا څرګندنه هله پر شعري انځوراوړي چې د(شرم-پېغور) په جاج وويل شي:
پېزوان دې مات پر پوزه راوړ(و(
لکه سپاهي له جنګه ماته نېزه وړينه
*پوزه(پزه) بې چارګله زړېدل، پزه تر پايه بې چارګله بې برخې کېدل-ول-استل
په سره قرآن به دې غوڅ نه کړم
که لکه پوزه بې چارګله زړه شومه
*پر پيته پوزه شرمېدل، داچې پيته پزه د ملنډو-پېغور موخه-پلمه کېږي، نو هم پرې پخپله پيتېزی شرمېږي او هم يې پرې کورنې غړي- يارودوست:
پر پيته پوزه دې شرمېږم
د خدای لپاره خميره کېږده مينه

۵ =پښتی pəx téy
(پوښتی) يې يو ګړدودي ځېل دی، پارسي يې(قبرغه) بولي، ديوه دننني پژغړي په توګه نه يوازې د زړه، ځيګر، سږيو، نس، ګېډې... د ساتنوالی او پاسوالی دنده پرغاړه لري، بلکې رابهرهم دګرد پژي- ځاندرې(وجود) په ټيکاواو غښتلتيا، په تېره ورزشي وړتياکې، له کړاو(تمرين) سره د پېړو پياوړو مرغېړو(عضلو) په مټ و مرسته په زړه پورې ونډه پرځای کوي، ان تردې چې په سياليو کې پرې له پاسه خښتي-کاڼي ماتېږي اويا ګاډي پرې تېرېږي. نو که(لاسونه) له بهره د پژي په سا تنه او ژغورنه کې دبلهارې (ماتېدنې) تر بريده پازه سرته رسوي، دايې له دننه، ورته چاره پرمخ وړي. په دې ډول د ګړنو او څرګندنو په رغاونه کې لږوډېره برخه اخلي. سرپښتي (سرسينه) ښايي يوازېنې وييرغښتي او بيا تړښتي بېلګه اوسي.

*پښتی ماتېدل، په يو سخته چاره کې سخت ژوبلېدل-رنځېدل:
پښتی مې ماتې په يارې شوې
مورته نارې وهم چې برېښ کوي مينه
پښتی مې ماتې شوې يارې کې
مورته بانه کړمه چې برېښ کوي مينه
(پښتی دې ماتې شه!) يې دښېرايوه بڼه ده .

۶ =پښه- پښې pxe-pxa
ناکره(شمال ختيز) ځېل (خپه (xpaيې پر (خ) د(ښ) داوښتني(اوړن(قلب) او وړې ماتونې disclusteralisationپايله ده؛ (پل)،(تله)، ګوټ او(ښنه /خنه) يې هم په ورته مانيزو کې راځي. سر ترپښو(سرترپايه)، بې لاس و پښو يا بې لاس و بې پښو چې پښتانه يې له آره د(معيوب او ناتوانه) په ماناوو کاروي، خو ليکوال يې نن سباد پارسي دنوموالي ګړنې (بې سروپا) د انډول په توګه هم کار وي، په داسې حال کې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې نږه پښتو اندول يې((بې سروبوله)) دی. (پښه) پر خپل وار د پژنی دندې او ارز ښت په پرتله (تناسب) يو لړګړنې او څرګندنې را منځته کړې چې يو شمېر لاسته راغلې ببلګې يې دلته وړاندې کېږي.
*پښه نيول يا پښه نيولی کېدل
چې په تلو تلوکې پښه نيولی شوله
بېرته کاته يې درضا نښه ده (راديويي مشاعره ۱۳۳۸(
*پښه ارتول-ارتېدل يا خلاصول-خلاصېدل،هلک ته تر کوژدې روسته د نجلې د ليدااجازه ورکول يا اجازه موندل چې نن سبا همدغه څرګندنه روغتون ته د ناروغ او زندان ته د بندي ليدلو اجازه هم رانغاړي او پښه ارتی pxa ártay(پايواز) او پښه ارتی)pxa artáy پايوازي) مانا لري: زمر پښه ارتی شو، يايي پښه ارته شوه او خپله نجل ليدای شي: زمر چې بندي وو، نه يې پايواز درلود او نه يې څوک پايوازی ته تلل ..
*پښه يا پل اخېستل،کوشنی نوی پرګړځېداراتلل؛ پر لار چټک تلل: د تور زوی (نوی) پل اخلي.
*پښه پر پښه اړول يا يوه پښه پر بله اړول، ارام، وزګار يا بېغمه کښېناستل: زمر پښه پر پښه يا يوه پښه پر بله اړولې ده.
*پښه يا تله پر... تېرول، ←پر يوڅه سترګې پټول؛ يوکار په پټه کول: تور پر خپله کړنه، تېروتنه... پښه يا تله تېره کړه.
*(د هلک) پښه تر کنده وراېستل- هلک ته کوژده کول: زمر د خپل زوي پښه تر کنده واېسته.
*پښه ټولول ياپښې اېستل (،له کاره ورو ورو ← ځان اېستل، ډډه کول يا پلمه کول:
*پښې اېستل يا سپکول، پر پاسنی مانا سربېره د کړې جرم يا تور تومت له کبله د چا (توره) تېښته راڅرګندوي: ببري پښې واېستې يا سپکې کړې؛ ځان کښل يا اېستل، اوږه کښل← يا اېستل.
*پر پښو ګوډېدل
پر پښو چالاکه اوښه ګوډشې
د يار ديدن به مې کاوه،تېره دې کړمه
*پښې پرېوتل
پر بلې ورو ځه، پښې دې پرېوځه
د پيکړې شنا دې کلي خبرونه
*(درسته) نړی،سيمې، هېوادونه... ترپښو اېستل- ډېر يونونه (سفرونه) کول: زمردرسته نړی،ډېرې سيمې، هېوادونه... تر پښو اېستلې دي.
*پښه نيول- په تلو تلوکې ناڅاپه ځای پرځای درېدل، تمېدل ؛ پښېمانېدل: زمر(په تلو تلوکې) پښه ونيوه يا پښه نيولی شو؛ تور(نوره له هرڅه) پښه ونيوه يا لاس پر سرشو ..
* لاس تر(له) پښو نه ختا کول، واروپار نه ختا کول يا له لاسه نه ورکول- د يوې ناڅاپې پېښې يا دچا په نابېره ليدو سره خپله وارختا يې پټول، ځان (ور نه) ارورتر ښوول: سنک لاس تر پښو ختا نه کړ
*لاس پښې ترلی څه کېدل
پر چاچې سين د مينې واوړي
لاس پښې ترلی ډوب شي، ځي، سېلاب يې وړينه
*د چاپښې يا لاس و پښې نيول، د ښښې ياد بل هرڅه د غوښتنې لپاره چاته زاری جګی کول:
خلک د پير لاسونه نيسي
ما د شين خالې ليلا پښې نيولې دينه
خلک د پير لمنه نيسي
ما د کمکوتې نجلی پښې نيولې دينه
* تر پښو لاندې کېدل، لکه:
جانانه جګه درته نه شوم
پر(تر) پښومې لاندې شول د زلفو تنابونه
*له پښو لوېدل، غورځېدل ، پرېوتل يا پاتېدل - د هغه چا په تړاو ويل کېږي چې د ژوبلېدنې، ناروغی يا زړ بوډی له کبله يې پښې خوځښت (حرکت) له لاسه ور کړي، پرځای پروت وي اونور يې د کار توان له لاسه ورکړی وي: سنک(نور) له پښو لوېدلی دی؛(له لاسو پښو لوېدل) يې بيا ښندیز اندول دی، خو له مرستيا لکړونو(ول- استل) سره يې اړوند نوموال اندول(بې لاسو پښو) د هغه چا په تړاو ويل کېږي چې په لوی لاس او له لټی تنبلی له کارو زياره ډډه کوي ، لکه: سنک (ډېر) بې لاسو پښو يا بې لاس و بې پښو دی؛ چاروال ځېل (غورځول، پرېستل).يې هم همداسې درواخله .
*پښې ماتول-ېدل، لکه ← له پښو لوېدل-غورځول-ېدل، خو، ماتول-ېدل د ګو اښ او ښېرا لپاره زيات کارول کېږي، لکه چې وايي: اوس به دې پښې ماتې کړم، يا پښې دې ماتې شه!← پښې پرېوتل، له پښو لوېدل.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

*دپښې ځای نه ول_ استل، زیاتره (له ګڼې ګوڼې) او توني کړول(مکاني قید) سره راځي، لکه چې وايي: له ډېرې ګڼې ګوڼې پکې-هلته د پښې ځای نه وو- نشته؛← پر سرو سره ختل.
* پر پښو درېدل یا ولاړ- ول، پرځان بسیا یا تکیه ول، لکه په لنډۍ کې:
اندېښنو لوی غرونه چپه کړل
شاباس پر ما چې زه پر پښو ولاړه یمه
*(د چا) پښې-تلې (په سترګو) ښکلول، د ډېرې مینې او درناوي څرګندونه او زبادونه، لکه په لنډۍ کې:
بېلتون دې قدر پر ما زیات کړ
تلې د پښو به دې په سترګو ښکلومه
*د پښو تلې تنا کېدل،له ډېر تګ مزله پښې له کاره لوېدل، لکه په لنډۍ کې:
تلې د پښو مې شوې تناکې
اوس سرې منګولې لګوم، یارته ورځمه
*د پښو تناکې اوبه کېدل
د پښو تناکې مې اوبه شوې
نصیبه مه مې ګرځوه پر وطنونه
*زولنې پښوته راتلل یا پښوته زولنې لوېدل- زولانه کېدل؛ له تګه لوېدل، لکه په لنډۍ کې:
چې د اشنا کوڅې ته راشم
شنې زولنې مې غیابانه پښوته راځینه
*پښې په کونده کې کښېستل یا کښېباسل، پرنه تګ سخت بندیز لګول،ل
پښه په کونده کې ته کښېباسه
د بې لباسه مه اخله لاسونه*
*پښې ماتول-ېدل← له پښو غورځول- لوېدل: د درو مخنیو لازیات ښندیز ځېل(

*پښې په نکریزو ول-استل (له ناغېرۍ او لټۍ له ځایه نه لټېدل)، لکه یو بل ته غږ کړي، اوبه راته راوړه او په غبرګون کې ورته ووايي: ولې ستا پښې په نکریزو دي یا دې پر پښو نکریزې اېښې دي چې له ځایه نه شې ښورېدای؟
*بوټ، څپلی، موزې، جرابې... پر پښو یا په پښو کې کول، لکه:
تا د سفر موزې پر پښو کړې
د ژیړو ګلو باغ پر چا سپارې مینه

۷ =پل- پلونهplúna pal-
پښه او همداراز ګام- قدم ورسره هممانیز کارول کېږي. پارسي همریښه انډول یې (پی) دی او پښتو پل د پورویي په توګه د(سراغ) په مانا له پی- نقش قدم- سره هممانیز کاروي په دغه مانا موږ هم (پل) کاروو چې ترڅنګ یې کرښپل د سوېل لوېدځ خواته ویل کېږي(← آرپوهیز سیندګی). پلیونی (لاروی، پیرو)، پلې لار یا یې کره ښه (پللار) د(پیاده رو) له نویزونو څخه دي.
*پل پټی کول، د پښو پل یا خاپ پټول؛ ویار یاعیب پټول؛ له رښتیا یا حقیقته تېرېدل یایې پټول: زمر د خپل غله ورور پل پټی کوي یا پل ور پټوي.
*(چېرې) پل(نه) اېښوول، چېرې روانېدل، لکه یوبل ته چې دګواښ په توګه وايي: که بیا دې دېخواته پل اېښی وو، پښې به دې ماتې کړم، لکه په یوشعرکې چې(پل نه اېښو ول) له←(پل اخېستل) سره یومخاوی رغولی دی:
وابه نخلم پل پر هغه لاره زه
چېرې چې رقیب ناولی پل اېښی
*پل اخېستل، لکه پل اېښوول(چېرې خوځېدل-روانېدل) مانا ښندي چې منفي ځېل یې پاسني بیت په لومړۍ مسره کې راغلی دی.(څانګې ۵۶(
*پل پر پل اېښوول، په چا پسې تلل، پېښې یا پلیوني کول): تور د زمر پر پله پل ږدي یا اېښی دی.
*د چاپل په توره وهل، له چاسره سخته دښمني کول: تور د زمر پل په توره وهي.
*پل اخېستل←(پښه اخېستل)، پل ور وړل یاوروستل. د غله یا بل مجرم پل تر... تر یوځای رسول یا پل پسې اخېستل-
تعقیبول: څارندویانو د غله... پل تر کوره (پسې) اخېستی- ور رسولی- ورورې -ور وستی دی.
* د چا پل سپېره-شوم ول- استل، د چا راتګ بد شګوم بلل: د سنک پل سپېره وو- دی:
چې ستا د شومو پلونوګرد پرې پرېوت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوې ترمې ترمې يومخ
د چمبلیو باغچې...(نوې نړۍ۳(
*د چا د پله یا پښو خاورې د سترګو رانجه کول، له ډېرې مینې او ګرانښته د رنجو پرځای د چاد پله یا پښو خاورې په سترګول:
زما ړانده کسي به جوړ شي
که یې د پل(پله) خاورې رانجه د سترګو کړمه

۸ =ترخ-ترخونه trəx-trəxúna
پارسي اندولونه یې (بغل، کنار،آغوش)) دي او(تخرګ) یې هم یو زوړ کوشینوم. لږوډېر له (غېږ)،(اړخ)، (ځنګ)،(او(خوا) سره همماني یا ورته مانیزکارول کېږي او پارسي اندولونه یېراتلای شي، خو ځنګه چې د کوشینوم تخرګ اودرې-ځلور ورته مانیز یې زیاتره ځایناستي کېږي، نو کارونګ یې لنډګنډ پاتې شوی دی.
* یوځه په ترخ کې نیول- ول-استل، یوځه په ترخ یا غېږ کې اخېستل-لېږدول:
سالو پر سر، منګی په ترخ کې
د مازیګر ګودرته ځي، رنځور یې کړمه
*(ځوری یا بل)ځه ترخ(← ځنګ) ته اچول، زیاتره له ځوري-کوري سره ویل کېږي چې (د یانه-سفر تیاری نیول یا تلل) جاج ښندي ، لکه د خرښبون بابا په شعرکې:
ځمه ځمه چې اوږد یون مې دی و مخ ته
د یانه ځوری به اچوم و ترخ ته (پټه خزانه ۲۰(

۹ =تریخی- تریخي tríxay-tríxi (تلخه، زهره، مراره)
*پر ینه تریخی(نه) درلوول-درلودل)، ننګ و مېړانه لرل: تور پر ینه تریخی نه لري.
*د یوه ځیز یا کار تریخی نه لرل، وړتیا یا جرئت نه لرل: سنک د مشرۍ تریخی نه لري یا د سخت یا سترکار تریخی نه لري؛← زړه نه لرل؛ مثبته بڼه (د یوکار تریخی لرل) هم کېدای شي، لږو ډېر دود ولري.

۱۰ =تن- تنونه tan-tanúna
داویی هم له خپلوانو ژبو سره ګډون لري زیاتره د (تنه)، (ځان)، پڑي(بدن) د ورته مانیز په توګه کارول کېږي،هغه هم، لکه پخپله(تن) غوندې له پارسي هغو سره څه نا څه شریکې ګړنې او ځرګندنې رغوي. د تن- تنې اړوندې ګړنې-ځرګندنې هم یو ځای وړاندې کېږي.
*(یوه څه یاچا ته) تن اېښوول،قانع کېدل ، منل): تور ځیر یا د ځیر خبرو) ته تن اېښی، کښېښووه یا ږدي؛ (تن ورکول) یې تر ډېره هممانیز کارول کېږي.
*تن پر(ې) اېښوول،ځوک په ورته ښوچارو کې خپل سیال ګڼل: تور پر ببري تن اېښی دی
*تن پر... اېښوول(ځوک په سول، پوهه، زړورتیا... کې د ځان سیال ګڼل)، تن ورکول(برخه او رښته ورکول←
تن اېښوول-ورکول
*په تن یا ځان کې وینه وچېدل، له ډېر او سخت کاروزیاره له لاده باده لوېدل: (له ډېر او سخت کاروزیاره) د تور په تن کې(بېخي) وینه وچه شوه.
*له خوښۍ په تن کې جامې نه خایېدل، ډېر خوښ ځوشاله ول-استل: (له خوښۍ خوشالۍ)د تور په تن کې جامې نه ځایېږي؛ بل ځېل یې (له خوښۍ نه په جاموکې نه ځایېدل) راځي.
*جامې، ختې-کالې پر تن کول، جامې یا هر پوښاک اغوستل: ببري نوې ختې یا خت پر تن کړ.
*د تن جامه کول-ېدل -ول-استل
تومت زما د تن جامه ده
د تن جامه خلک پخپله زړوینه
* سر پر تنه ول-پاتېدل، ژوندی ول:
چې سر یې وي په تنې پورې
خوشې امېد یې د اشنا د دیدن وینه
له شعري انځور سره اخښلون:
ګوره په زړه کې دې څه ونه ګرځي
لا پر تنه باندې مې سر پاتې دی(ګلکځونه۴(
* سر له تنه جلا کول-ېدل← سر پرېکول-ېدل.
*سر له تن - تنې جلا کول-ېدل ← سر پرېکول-ېدل:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سرمې له تن څخه جلا کړئ
که مې پګړئ د بې ننګۍ تړلې وینه
تلوار په کار دی، رارسېږه
نن مې دا ستا په تومت سر جدا کوینه
*په جامو کې تن اور اخېستل یا په تن کې جامې سوراورکېدل، ډېر بېتاب و توانه کېدل؛په یوه لنډۍ کې(جامې په تن کې سورانګار کېدل) راغلې چې ښايي، ولسي آره ولري:
جامې مې تن کې سور انګار شي
خطا مې وار شي، چې له تانه جداشمه
پر هر ګړۍ چې را پر یادشي
کمیس لمبه شي، تن مې اور واخلي مینه
* تن په تنهايۍ کېدل ← (هر څوک) په خپل ځان کې کېدل.
*پر تن اور لګېدل ، په تن اور یا لمبې پورې کېدل یا تن اور اخېستل- ډېر ناخواله او خوشینی کېدل: (له ډېرو غمونو، کړاوونو) د زمر پر تن اور ولګېد یا یې تن اور واخېست.
*تن خاورې کېدل یا خاوروته تلل- مړل، ګورته تلل:
له خپله حاله خبر نه یم
چې به مې تن د کوم وطن خاوروته ځینه
*کفن پر تن کېدل یا یوڅه د تن کفن کېدل-
که په خپلو وینو نه وم لمبېدلی
ستا پړونی دې زما د تن کفن شي(همېش خلیل(
*تن پر تن جنګ د پارسي (جنګ تن به تن) د اندول په توګه، یوه نوموواله څرګندنه ده چې په غونډله کې (تن پر تن جنګ کول) یا(تن پر تن جنګېدل) کارول کېږي.
پر تن()تور) چېنجی اخته کېدل- ډېر درد و رنځ او کړاو ګالل: د سنک پر تن چېجی اخته شو؛ لنډۍ:
پر تن مې تور چېنجی اخته شو
زړه ترې ساتم چې پکې ستا مینه لرمه

۱۱ =تندی- تندي)tandáy-tandí پیشانی، ناصیه(
(تنده- وچولی) یې ګړدودي ځېلونه، په نورو ټکو، همماینزونه دي. هرګوره، د تندي دوه نور همجولیزونه(متشابه وییونه) او ماناوې(د ژوي، څاروي تیخوری بچی، لکه(تندی خوسی)؛ نوی راټوکېدلی یا تېغ وهلی کښت) دغلته پامو نه دي.
نوموالي رغاوني ، لکه: (د) تندی لیک (برخلیک)، د تندي خال، ورین تندي، ارت تندی، روڼ تندی پراخه تنده... ؛ هرګوره، د تندي درېیم همماینز (وچولی) یو تړښتي رغاونه (وچ+ولی) ده.
*تندی تریوول یاتریو نیول، دچا د نازغموړ کړن، پوښتني ابښتني ستغې سپورې ... په غبرګون کې قار، اندېښنه، ناخو ښې یا بدنیت څرګندول یا ورته بوڅېدل ← ځان یا شونډې بوڅول یا نیول : ځیر د تور پر غوښتنه،پوښتنه یا غبرګون تندی تریو کړ- تریو ونیو یا.تنده تروه کړه.
* تندی سره تلل، تندی غوړېدل یا رونېدل، خوشالېدل یا خوشالي څرګندول: د ببرک تندی سره ولاړ یا وغوړېد.
*پراخ - ارت- واز تندي- ورین تندی- وچولی لرل - نیول، د پاسنۍ ګړنې د یوه مثبت ځېل په توګه.
*په تندي کې رڼا ښکارېدل یا ځلېدل، د تېرې ګړنې پر ماناوو سربېره دنېکمرغۍ یا زبرګۍ(روحانیت) ماناوې هم رانغاړي: د زمر په تندي کې رڼا ښکاري یا ځلېږي.
*د چارون(رانه) تندي ته کتل، په مېلمستیا یا بل ورته ژوند ژواک کې د چاښه نیت و اخلاص په پام کې نیول، نه تشلاسی-ببوزلی ته، لکه په متل کې:
تالي ته مه ګوره، تندي ته ګوره
په شعرکې:
ستا راتلل ښادي ښادي ده، که قبول کړې سوکړک سپور
زما روڼ تندي ته ګوره، که خالي وي زما شکور(سلمی شاهین۸۲(
*یوڅه په ورین- روڼ(رانه)- ارت- پراخ -واز تندي وچو لي- پراخه تنده... منل-کول، یوڅه په خو ښیخوشالۍ منل: تور د زمر هره خبره، غوښتنه، مرسته... په ورین تندي مني، یا: مرسته کوي.
*د تندي خال ښه اېسېدل، لکه:
په لنډۍ کې:
د تندي خال دې داسې زېب کا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لکه پر سپینه واوره کاغه ناسته وینه
*تندي غوټه کول← تندی تریوول.
*پر تندي مالګه-مالګي-مرچ دوړول، د(←تریوول- غوټه کول) یو ټینګاري ځېل: تور پر تندي مالګه، مالګي یا مرچ دوړولي دي؛ د پېښوریانو(د مرچکیو پر ځټه کېناستل) یې همماانیزېدای شي.
*تندی داغل یا ماتول، په دې کړنه انګېرنه چې ښه یا بد، نېکمرغي یا بد مرغي وار له مخه د وګړو په تندي کې لیکل شوي یا لیک دي، نو یو نیم ځنې سرټکوي او وایي: زه دومره بدمرغه یا خواروځار یم چې غواړم تندی مې داغ یا مات کړم، یا مې تندی د داغلو، سېزلو، ماتولو... دی؛ په یوه لنډۍ کې وایي :
تندیه داغ به درله درکړم
تا پر خپل ژوند باندې زه ډېر ستومانه کړمه
همداوړ له(بخت په تنده دی، نه په منده،روزي په منده نه ده، په تنده ده) متلو څخه رامنځته شوې نوموالـه ګړنه، لکه ورسره رغېدلی شعر:
اوس ژوندون بویه په پوهه،
په هاند هڅه او په منده ...
د هغو برخه ده خواره،
چې ګروهېږي لا پر تنده!
*تندي ته تیره نیول← تندی ماتول.
*تندی سوی ول، په ورته جاج، لکه:
تندی مې سوی دی عالمه
ځکه جانان راځني واخېستل لاسونه
* تندي ته تس ورکول، له یوې نابېرې پېښې سره د هېښتا ، خواشینی، نهیلی‌او ارمان غبرګون یاڅرګندونه چې څوک یوې ګټې یا برې ته کلک په تمه وي او ناڅاپه د بل چا په برخه شي، خپل تندي ته په لاس یو تس ورکړي، د بېلګې په توګه زمر چې تور ورځني په سیالۍ یا ګټه وټه کې مخکې شو، نو(خپل) تندي ته یې (یو) تس ورکړ .
*د اسمان هر کاڼي ته تندی نیول،هرې پېښه، ناخواله، بخوله، ناورین، خواري سختي زغمل یا ورته چمتو ول- استل: تور د اسمان هر کاڼي ته تندی نیسي.
*تندی سولول-ېدل- د هغه چا په تړاو ویل کېږي چې ډېر لمونځغاړی وي: سنک په ډېرو لمنځونو(خپل) تندی(بېخي) سولولی دی.
*تندی د چا په در(وره) کې سولول، مینې یا کوم لوی یا بډای ته ځان لاسکتوی یا مریی ښوول: سنک د... په درکې تندی سولوي؛ دا ګړنه ښایي له شعروادبه آره اخېستې وي، لکه اقبال فناچې وایي: تندیه ماتوم دې، ټیټومه خو دې نه/ پر در د سنګدلانو سولومه خو دې نه... همدارنګه له(لګول) سره یې د پېښاوو(جهاني) دا: خالق مې ککرۍ سجدې ته نه ده پیداکړې/ تندیه ماتوم دې، لګومه خو دې نه (بد لمېچ۴۲۵).
*په تندي کې کښل یا کښل(نویشته) کېدل یاکښلي(لیکلي) ول- استل،ښه یا بدوار له مخه (له ازله) د چا په برخه ول او نه بدلېدل، لکه ملنګ جان چې وایي:
دادی لیک د ازل
څوک بې نه کا بدل
که لقمان یې شي مل
هوو- هوو... ماملنګ جان ته یې لیکلې بېماري
*پر تندي د چاد وینوخال اېښوول (وهل)، د ډېر ښاخ ،ویاړ او پاس څرګندول ، لکه په دې رزمي لنډۍ کې چې (تندی) پکې پټ (مضمر) دی:
خال به د یار د(له) وینو کښېږدم
چې شینکي باغ کې ګل ګلاب وشرموینه
*د چا د تندي خال کېدل، له چا سره د مینې او پیوستون (وصال) څرګندول، لکه چې وایي: کاشکې ستا د تندي خال شم.
*تندی وهل، له غم، خواشینی... سر پر دېوال، په لاسونو وهل؛ له بده بخته سر ټکول او ژړا فریاد کول(←تندی داغول...): سنک(له ډېرغمه خپل) تندی وهي- لکه په لنډیو کې :
تندی وهه کوڅې وکاږه
کوڅې به بیا وشي، اشنا به خاورې شینه. ...
تندی مې سوی دی عالمه
ځکه جانان راځني واخېستل لاسونه
تندی وهم په وینو ژاړم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلکه ګرم نه یم، له جانانه جدا شومه
په سر سرتور، په زړه غمجن یم
پرتا مین یم، تندی تل درته وهمه
تندی وهم پر ژړا ژاړم
یار مرور اوړ سفر له ماکوینه
- - - - - - - - - -
یار مرور دی پر سفر له ما نه ځینه
*سر(و)تندی وهل، سخت کارو زیار یا خواري مزدوري پرمخ وړل یاکول: ببری (اوړی ژمی)سروتندی وهي، لکه:
تابه سرتندی واه پراوړي ژمي
د ملک خان په چوپړ به دې ساتلم(سوزون او سازونه ۳۹)
په دویمه مانا، لکه په لنډیو کې:
بېلتونه دادې څه انصاف دی
چې ستا له لاسه مدام سرتندی وهمه.
خزانه خدای دې ځوانیمرګ کړه
بلبلان ستا له لاسه سرتندی وهینه
*یوڅه(درد،تاو، تودوخه...) تندي ته ختل، پر ډېر درد و رنځ یا سخته تبه کېدل، لکه چې وایي: ځان مې دومره خوږېږي چې درد مې تندي ته وخوت، په یوه لنډۍ کې بیا (درزونه) د یوه ښکلي انځور د منځتوکي په بڼه راغلي دي:
بېلتون مې زړه ته پاني ورکړې
د غم درزونه مې تندي ته وساتنه
*لمر پر تندي راتلل، ورځ نیمېدل یا نیمایي ته رسېدل، (پر دوبي) ټکنده غرمه کېدل، لکه په لنډۍکې:
لمر پر تندي راغی غرمه شوه
ورځ مې کړه شوه، جنۍ خوله نه راکوینه
سترګه دلمر پر تندي راغله
ورځ مې کړه شوه، جنۍ خوله نه راکوینه
سترګه دلمر تندي ته راغله
ورځ مې ښه نه شوه،لیلا خوله نه راکوینه
دغلته (دچا) ورځ ښه نه کېدل- ورځ کړېدل- ګرځېدل-بدېدل، بیاد (بدمرغه کېدل) په جاجه غبرګې ګړنې دي.
*لاس پر تندي کول-ېدل، اېښوول یا لاس پرتندي درېدل-ولاړ ول-استل، سلام و هرکلی کول ، لکه په لنډۍ کې:
لاس پر تندي درته ولاړ یم
زه سلامي له یوسفزو راغلې یمه
په یوه بدله کې:
زه وړه جلکۍ کله یاري کوم
لاس به پر تندي کړم
پاک الله ته به زاري کوم
*منګولې یر تندي اېښوول، په ماناکې له پاسنیو بېلګو سره اړخ لګوي او په جوله کې له دې لاندې بېلګې سره:
که دې زما پر سلام ښه شي
زه به داسرې منګولې تل پر تندي ږدمه
*(چاته) لاس پر تندي(سینه، نامه-نو) درېدل یا ول-استل، د چا د هرکلي- درناوي لپاره لاس پر تندي درېدل- ولاړول، ول-استل:
لاس پر تندي درته ولاړ یم
زه سلامي له یوسفزو راغلی یمه
*وربل پر تندي یا مخ راخپرېدل یا خپور(خور) ول-استل، ←وربل.
د تندي اړوندې نوموالې او کړولي رغاوني:
)*ټیک-ټیکه، روپۍ... پر تندي-ټنده ول، لکه
ټیک پر تندي، پېزوان پرشونډو
اوړۍ پر غاړه د نجلۍ مزه کوینه
ټیک پر تندي چارګل پرپوزه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر لنډه زنه دې شين خال مزه کوينه
ټيک پر تندي پېزوان پر پوزه
سپکان دې بوځه، زه دې روغ لېونی کړمه
ټيکه دې پاس پر تندي خوند کړي
لکه سپوږمۍ چې پر اسمان پړکا کوينه
*نوموواله رغاونه(لغړې ټنډې) په يوه لنډۍ کې داسې کارېدلې:
سلام سلام تورو پيچکو
لغړو ټنډوته څوک نه کړي سلامونه

١٢ =تی-تي- تيونه) tay-ti,tayúnaپستان(
(غولانځه) همماني يې د ژويو او څارويو هغه ته ويل کېږي او ښځمنو ته د کنځا او سپکاوي له مخې، چې ستا ينوم يې(غولا نځوره) راځي. تيور د پارسي (پستا ندار) په څېر د اړوندو ژويو لپاره يوه نوې رغولې ستاينوميزه نومونه(تيور ژوی- ژوي) برېښي؛ ښځينه اېلخارويو ته چې ښې شودې کوي،(پيوره - پيوري) ويل کېږي.
د تي يو بېلنګ()تيي) د پارسي(دايه) انډول دي؛ (د) تي مور يا تيمور (مادر رضاعی)، تيخوری، وچموری(شيرسوخته)، تيخورتون (شير خوارگاه)... يې هم زاړه او نوي تړنګونه دي← له چاسره تی روول.
په ورځنيو خبرو اترو کې يې پر ځای((سينه-سيني)) کارول کېږي او له((تي)) سره زياتره شډلې څرګندني دود لري او په لنډيو کې ورسره تر ډېره شعري انځورونه رغېدلي، لکه:
سينه دې تخت د پاچاهۍ دی
دادواړه تي دې شاهزادگان حکم کوينه
*(بچي ته)تی ورکول، (بچي ته) شودې(پی) ورکول: زرينه خپل کوشني ته تی ورکوي.
*تی رول، شودې رول، لکه په متل کې چې وايي: ماشوم چې ونه ژاړي، مورتی نه ورکوي؛ دغلته تر(شودې ورکول) څخه(تی ورکول) څرګندنه زياته کارول کېږي، بې له دې چې شډله ونګېرل شي.
*له تي پرېکول- شکول - غوڅول، جدا يا جلاکول، تيخوری ماشوم د مور له شودو جلاکول- نور تی نه ورکول: ځيني مينډې په درېکلنۍ کې خپل بچي له تي پرې کوي يا غوڅوي.
*تی ګوډېدل -په تي کې شودې وچېدل: د زرمينې تی ګوډ شوی او کوشني يې له شودو بې برخې شوی دی؛
وچموری (شيرسوخته) هم همداسې چاته ويل کېږي چې په لومړي وختو کې يې د مور د تي له ګوډېدو سره له شودو، او همداراز له وچو يا پوډري هغو بې برخې پاتې شوی وي او دچاخبره نروچکی اويا زېږ زېښلی برېښي.
* له چاسره تی روول، له چاسره(له يوې موره) يوځای شودې روول اوسره رضاعي ياد تي ورور-خور، خويندې يا ورونه کېدل: زرينې له زمر سره تی روولی يا زرينې او زرين سره (يوځای تی رولی (او له دې پلوه، سره خور ورور شوي او واده سره نه شي کولای).
د عربي(رضاعي) انډول نورې پښتو نومونې، لکه :
(د) تي مور- تيمور(رضاعي مور) چې کېدای شي تيي(دايه) هم وبلل شي.
(د) تي ورور و خور(ورونه او خويندې)؛
(د) تي مينډې، بيا دهغه چا په اړه ويلای شو چې د يوې پرځای يې د څو مينډو تی روولی اوسي .
په دې توګه د اړوندې تيمور هماغه هلک يا نجلۍ نه، چې يوځای او هممهاله يې تی ورکړی وي، بلکې د هغې ګرد نرينه او ښځينه بچي د هغه (پردي) هلک- نجلۍ خور و ورور، په نورو ټکو، خويندې او ورونه بلل کېږي.
*پر تي چونګاښ دانه-مردارداني ختل، تی په چونګاښ(سرطان) اخته کېدل: نن سبا په لويديځ کې د تي چونګاښ دانه -چونګاښ ډېر شوی دی..
*(له يوځه) تی ياد تي سر- څوکه راوتل يا ښکارېدل چې ترڅرګندني يې شعري انځوريز رنګ زيات برېښي، لکه په لنډيو کې:
کميس زرغون تی ترې ښکارېږي
لکه ګلاب چې تربلګو ښکاري مينه
کميس د تي پر سر سوری دی
لکه غاټول چې له پردې وتلی وينه
*د مور تی، يوه نوموواله څرګندنه ده چې سوېل-لوېديځ خواته د مور له ښکنځاوو څخه بلل کېږي، لکه چې يو بل ته وايي: د مور دې تی څنګه يې!...
*تی(نه) ببنل-بخښل ، يوه نيمه مور د(پيو- شودو) پرځای لور-زوی ته وايي: تی مې دربښلی(نه) دی.

١٣ =ټټر- ټټرونهtatár- tatarúna

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تر ډېره يې له پارسي او نورو نژدې خپلوانو ژبو سره ګډ(سينه (siná هممانيز دود لري..ټټرى(واسکټ، سدرى)، ټټرى (ښځينه سينه بند) نويزونه يې تازه رامنځته شوي دي، په هر ډول، ددواړو همماني‌زونو ګړنې-څرګندنې سره يوځاى وړاندې کېږي .
*ټټرول-ېدل، ول- استل←ټټر ياسينه نيول- نيول کېدل، په برېښ (سينه وبغل، ګريپ) اخته کول-ېدل، ول- استل: يخ ژمي زمر ټټرکړى، سينه يې ورته نيولې يا ټټر دى .
په ټټر اخته کېدل←ټټرېدل.
*ټټر يا سينه (را-در-ور) نيول- نيول کېدل، د تېر په څېر جاج، خو تر ډېره يې د کړند(يخ ژمي...) پرځاى نومځرى((يې)) کارول کېږي، لکه: د تور ټټر يې نيولى دى؛ او د (تور) پرځاى هم د درېيم وګړي پلوي نومځرى(ور) کارول کېداى شي، په دې ډول د لومړي وګړي پرځاى (را) او دويم پرځاى (در) هم همداسې درواخله: ټټر يې رانيولى، ټټر يې در نيولى دى.
*پر روغ ټټر مالوچ پخته) اېښوول، بېځايه يا بې ګټې کار يا احتياط کول: ببرى پر روغ ټټريا سينه مالوچ (پخته)ږدي .
*(چاته) ټټر يا سينه ټپول يا وهل، چاته د مرستې چمتووالى ښوول يا ډاډ ورکول: زمر تور ته سينه يا ټټر و ټپاوه يا وواهه.
*ټټر سورى کول-ېدل
سترګې مې ډېرې وليدلې
د نجلى سترګې مې ټټر سورى کوينه
*لاس پر ټټر-سينه اېښوول، چاته درناوى کول،لکه:
چېرې نه شي راپسې پښتنې سترګې
ورته سر نه ټيټوم، لاس پر ټټر ږدم←سترګې.
*(چاته) ټټر(سينه) ټپول يا وهل، چاته د يوڅه کار يا مرستې ډاډ ورکول يا چمتو والى ښوول: تور ځيرته د(هر راز مرستې) ټټر وټپاوه يا وواهه
.*(يوڅه) پر سينه زنګېدل ، پسول-ټال خوړل، امېل-لونګين- ګلونه... پر سينه زنګېدل- ځړېدل-ټال خوړل، لکه په لنډيوکې:

سپرليه ستا له برکته
د جينکو پرسينه زانګې زېړ ګلونه
ټيک دې پادشاه ، خال دې وزير دى
تورلونګين دې پر سينه وهې ټالونه

*سينه خامېدل (سينه تخريشېدل). سينه مې خامه شوې ده.
*دسينې په زور جګېدل پاڅېدل يا تلل (به زور سينه حرکتى کردن، رفتن...)، دا دهغه چا له خوا ويل کېږى چې له ناروغى ياد پښو کمزورى له ځايه په اسانه خوځېداى يا تللاى نه شي.
*(پرچا) د سينې زور کول، دچاپرسينه د خپلې سينې زور اچول، لکه په لنډيو کې :
دسينې زور راباندې مه کړه
سينې مې نوي غندل کړي مات به شينه
کلکه مې مه نيسه په غېږکې
يا په کنايې توګه:
سينه دې وخورې سينه ورې
پردى دېوال دې په سينه ونړاونه

*سينه ډال کول، په مېړانه او سرښندنه جنګېدل او دفاع کول، لکه په لنډيو کې:
سپينه سينه مې ورته ډال دى
اشنا ګوزار د خونړو سترګو کوينه
سينه دې ډال کړه زما ياره
پر ټال به خېژو، د سينو جنګ به کوونه
*سينې جنګول-لګول، له مينې نه سينې سره لګول، د روستى لنډۍ د دويمې مسرې ترڅنګ دانورې بېلګې:
راځه چې دواړه ټال کې کښېنو
ټال به بانه کړو، د سينو جنګ به کوونه
راځه چې دواړه ټال کې زانګو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یو واري جوخته سینه راکړه
لکه ترکان چې خولۍ تیر له ورکوینه
*سینه ټکورول یا د سیني ټکور کول،له والګي- ټټرېداسینه په تودوخه-مالوچو، پټخول... تودول-ټکورول:
په دروازه کې راته پټ وې
ما دسیني ټکور کاوه، ودې لیدمه
*پر سینه ځای نه ورکول، د هغې میني په تړاو څرګندنه چې له یوې لویې اوږۍ –غاړه کې سره یې پر سینه لونګین((مین)) لپاره نور ځای پاتې نه وي:، لکه:
تور لونګین پر ژړا راغی
سپینه اوږۍ پر سینه ځای نه راکوینه
*(دچا) پر سینه سراېښوول یا خوب کول،ویدېدل، لکه:
نور به ارمان راپاتې نه شي
که مې داستا پر سینه وکول خوبونه
تومت دې ټول زما پر سر شو
پر نارنجي سینه دې بل وکړه خوبونه
*پر سینه ښوییدل، د میني پر سینه د مین غځېدل
له پاولو ډک کمیس مې ولید
زه وارختا شوم، پر سینه(ور)وښوییدمه
*د سیني یا ټټر ټکورول، له والګي یا بلې ناروغۍ له کبله سیني- ټټرته ټکور ورکول:
په چونیانۍ کې راته پټ وې
ما د سیني ټکور کاوه ودې لیدمه(چونیانۍ- تشناب(
*(څوک د چا)پر سینه پرېوتل- څه کېدل- څملاستل،د کوروالي په موخه یو پربل پرېوتل:
پر سینه غلی راته څمله
غږبه و نه کړم، که ورسته درلاندې شمه
پاس پر سینه باندې راپرېوځه
که چا پرې مړ کړې، ځوانان تل پر سینه مرینه
*(چاته)لاس پر سینه(تندي، نام-نو) درېدل یا ول-استل، چاته د درناوي لپاره لاس پر سینه درېدل یا ول-استل،لکه:
لاس پر سینه درته ولاړ یم
سلام مې واخله، زه پردېس راغلی یمه

۱۴= چنغړک (حنجره،حلقوم، قانقُرتک، سیب آدم (
لږو ډېر له (ستوني، غاړې، غړۍ، مرۍ) سره همانیز کارول کېږي او ورسره ورته ګړنې څرګندنې رغوي؛ چنغړک لږو ډېر د ستوني د همانیز په توګه د ځینو غږونو وتوځی هم بلل کېږي، لکه عربي(ح-ع) چې (چنغړکیز) یې ستاینوم راځي.
*پر چنغړک یا په چنغړک کې اوبه تلل، د څښاک پر مهال د لمدې غاړې پرځای، پر وچه غاړه اوبه تلل: د سنک اوبه پر چنغړک ولاړې؛ همداراز← مار په ساکې اخېستل.
*له چنغړکه نیول، له ستوني نیول یا زندۍ کول: زمر ببری له چنغړکه ونیو.

۱۵=ځان-ځانونهjān-jānúna
همانیزونه او ځایناستي یې: نفس، تن، بدن، جُثه، جسم، وجود(ځاندره-پڑی) تر ټولو زیات بیاد←غبرګون نومځري په توګه پامور دی چې پارسي اندول یې ((خود)) راځي او ترڅنګ یې، په تېره لیکنی-ادبي ژبه کې د ورته (انعکاسي) چار لپاره کمزوري تولنومځري(ام-مان؛ات-تان؛اش-شان) زیات کاروي (کارم را کردم). په دې ډول(ځان)تر نوروغړیو ډېرې څرګندنې رارغوي چې کله ناکله ورسره ورته مانیز د پارسي اندول ګډنومځري(خود) اندول (خپل) د ټینګارتوک (intensifier) په توګه هم ملګری کېږي،لکه:خپل)ځان ژوبلول، ځان وژل... چې له دویمې بېلګې یې بېلښتي او تړښتي رغاوني(او غونډونه) نوموالي څرګندنې تازه رامنځته شوې دي. جوتغونډونه، لکه: په یوځاني ځان، په یوه ځان، ځان پرځان سودا،له ځانه بېځانه، ځانله ځاني،...؛ بېلنګونه، ځاني،ځانته،ځانتني،ځانلواله، ځا نګړی، ځانګړتیا، ځانګړواله...؛ زاړه او نوي تړنګونه، لکه ځانځاني، ځانساتنه،ځانساتی، ځانژغور نه، ځانسپا رنه(تسلیمېدنه)... ، ځانوژنه،ځانمرګی(په دویم خج: خودکش)،(په سر خج: خودکشی)؛ غونډونه: ځانمرګی برید، ځانمرګی بریدګر. ...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*(په زوره) ځان ځایول، دا څرګندنه د هغه چا لپاره راځي چې په یوه تنګ ځای یا ګڼه ګوڼه کې ځان ته ځای پیداکوي او زیاتره ورسره ټینګاري کړول(په زوره) مل کېږي: زمر په ګاډي کې(په زوره)ځان ځای کړ .
*ځان څرګندول یاځان زبادول ، خپله توره،مېړانه، پوهه... په کړن کې ښوول:
که مېړنی یې ځان څرګند کړه
ستا پر کوڅه مې لاس تړلې تېروینه
*ځان ایغر یا غرګېل، ځان لوی ګڼل: زمر ځان ایغر یا غر ګڼي؛ ← ځان من من کول، ځان پړسول، ځان ورکول(ورک کول.(
*ځان غټول← لکه پاس..
*ځان نېغ نېغ کول، څوک په برید یاجنګ ګواښل، ننګول: تور (زمر ته) ځان نېغ نېغ کوي.
*ځان سپمول، له مرستې ځان ژغورل خوداری کردن، دریغ کردن؛ همداراز← (هر څوک) په خپل ځان کې کېدل؛ همداراز: ←ځنګ کېښل، پر ځنګ کېدل، ډډه کول، ځان کښل...
*(له چا) ځان خلاصول، په دروغو دربو، چل ول یاپلمه د چا له اښتنې پوښتنې یا غوښتنې ډډه کول: زمر له سنکه ځان خلاص کړ؛← ځان تېرول، ځان ژغورل ، ځان سپمول،ګپ ورکول.. ...
ځان تېرول، لکه پاس.
*ځان بچول- ژغورل، له یوه له یوې شخړې ،خطر، لانجې، مرګ،...ډډه کول ، : زمر له یوه تړلې(تیار) مرګه ځان بج کړ یا وژغوره.
*ځان ساتل، لکه پاس ، خو هممهاله له نورو(ټولنیزو، سیاسي...) کارونځایو نو،لکه: له تاو تریخو الې، نویوالې، پرمختګ، ادلون بدلون ...ځان ساتل یا پکې نه ښکېلول، چې له(لرې) یا(خوندي)کړولونو سره ټینګاري ځېلونه رغوي: زمر له هرې شخړې... ځان(لرې، خوندي) ساتي، ترې رارغول شوی ستاینوم(ځانساتی) د(زاړه پال اومحافظه کار یا کنسرواتیف). په ماناووپق راخېستی او رادود شوی دی.
له یوڅه ځان لرې) یا(خوندي) ساتل، د ←(ځان ساتل) یو ټینګاري (تاکیدي) ځېل دی..
*ځان ته یوڅه ویل، ځان ته یو ارزښت ورکول: زمر ځان ته یوڅه وایي.
*ځان په سړیو کې شمېرل، ځان د نورو سیال ګڼل یا انګېرل: سنک(هم) ځان په سړیو کې شمېري؛ همداراز← ځان ته یوڅه ویل.
*ځانته ژړل
په لارکې ناسته، ځانته ژاړم
خدایه د لارې مل مې راولې چې ځمه
*ځان پړسول یا غټول، ځان لوړ و لوی ښوول،کبرو لویي کول: تور ځان پړسوي یا غټوي .
*(له یوڅه) ځان کښل-اېستل،له یوې ډلې، جنجال یاکاره ډډه یا تېښته کول چې شډل ځېل یې (کونه کښل-اېستل) راځي،لکه: تور ځان له... وکېښ
(ښکارندوی(پخ ۵۶) پخپله نامې بوللـه کې وایي:
زمری کله کاږي ځان له یرغلګرو
څو یې نه کا مات متونه ورمېږونه
*ځان له اوله اېستل،سرغړول؛مغرورېدل: تور ځان له اوله اېستلی یا باسي .
*ځان پورته پورته کول، اچول یا ښوول-ساتې باتې وهل: زمر (هسې خوشې) ځان پورته پورته کوي، اچوي یا ښیي.
ځان نېغ نېغ کول، پر پاسنی مانا سربېره، یوڅه(پلندی، جنګ...) ته د چارابلل یا راننګول: سنک تورته ځان نېغ نېغ کوي.
*ځان پل کول، د ژرندې(دلاندېني) پله غوندې هرڅه پر ځان- زړه تېرول- زغمل: تور (هرې ستړې، ستونزې...ته) ځان پل کړی دی.
*ځان خوږول،خواخوږي او مر سته کول: تور(پر هرچا) ځان خوږوي.
*ځان (د یوڅه یا چالپاره) زهیرول، (د یوڅه یا چالپاره) پر ځان زیار زحمت منل یا ځان ستومانول: زمر(د هرڅه یا چالپاره) ځان زهیروي.
*ځان (چاته)کم نه راوړل، خپله پړه، کمزوري، تېروتنه پټول یا←ځان تېرول: زمر په منډه کې روسته پاتې شو، خو پر ځان یې رانه وړه.
*ځان تېرول، یو بد چلند یا کړه وړه د نورو له پامه پټول یا یې د تېرېستلو هڅه کول: د زمر پښه زما پرپښه ولګېده، خو ځان یې تېرکړ او یوه ښښنه یې هم ونه غوښته.
*په بدرګه-بدرګوځان تېرول، له یوه ځایه بل ته دغلو-شوکمارو... له وېرې په بدرګه تلل، یوه څرګندنه رارغوي، لکه په دې لنډۍ کې:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داخپل ښايست راپورې اور شو
لکه پردی په بدرگو ځان تېرومه
*ځان خوندي کول، ځان گوښه کول؛ سرپنا پيداکول، ←سر پرسيورې کول: زمر له بادوباران(يا بلې پېښې) ځان وساته يا وژغوره؛ کور اور يې نه لاره، يوه سرپنا يې ځانته پيداکړه.
*ځان (پر يوه کار)کتل، په يوه کار کې خپل زور يا وړتيا ازمايل، زمر پر ورزش ځان وکوت (وازمايه)، خو دومره برى يې په برخه نه شو.
*پرځان وړل← پرځان تېرول.
*(پريوڅه) ځان... وژل، پر يوڅه ډېره خواري کول؛ پر يوڅه يا چاځان بلهارول: زمر پر کښت وکار ځان وواژه؛ بري پرانگورو (بېخي) ځان وواژه.
*(يوه گران کارته) ځان تريخول، يوه گران کارته ←اوږه ورکول يا ورته هوډ کول: زمر (هر گران کار ته) ځان تريخوي(ترخوي).(
*ځان کونډ اچول، ← ځان ناگاره اچول ،← غوږونه کنول يا غوږونه کانه اچول..
*(يوڅه) پرځان منل ←(يوڅه ته) غاړه ايښوول
*ځان لرې اچول← ځان غلى نيول.
*ځان ناگاره- بې خبره اچول-کول ناگارول، پر يوه پر بوه خبره، پېښه، سکا لو... له خبرېدا سره سره ځان ناخبره اچول، پارسي يې پر وړاندې(تجاهل عارفانه کردن، دانسته خود را نادانسته نشان دادن، خود را به کوچهٔ حسن چپ زدن) کار وي: ځير ځان ناگاره واچاوه يا ناگاره کړ؛ نور همماني‌زونه يې: ← ځان تېرول ،ځان کونډ اچول ،← غوږونه کنول يا غوږونه کانه اچول؛ د يوه سمت غزل د لړ(رديف).په توگه، لکه:
لمر د ورځې په وژون کړ ځان ناگاره
هسک د شپې پر زړه چاودون کړ ځان ناگاره
د سپېدو د سپېدارو تورو بلوسگرو
پر رنوب د سباوون کړ ځان ناگاره...() ساندې او سندرې ۴۳.(
*(يوڅه) پخپله پر ځان کول، يو څه په خپل لاس-په لوى لاس(قصداً) ځانته زيان- تاوان رسول:
دامې پخپله پر ځان کړي
يارمې خپه کړ دسنگسار لايقه يمه
*له ځانه تراشل يا رااېستل ، له خپل انده يو څه بېدويه يا بېدوده رامنځته يا رامخته کول چې د نورو لپاره د منلو جوگه نه وي، د چا خبره خپللاسي(مصنوعي) بڼه ولري: سنک هرڅه له ځانه تراشي يا راباسي .
*ځان ساتې و باتې کول← ځان يو غوړوپ کول.
*ترځان لوى بار وړل يا اخېستل، تر توان و وړتيا پورته يا زيات څه کول: تور تر ځانه لوى بار وړي يا اخلي..
* ځان تل کول،له چاسره په يوه کارکې ځان شر يکول: زمر له ببري سره په کاروبار کې ځان تل کړ.
*ځان له چاسره په جوال يا خلته کې اچول، د چا په داوه دنگله، يا جنجال کې ورگډېدل ياځان ښکېلول: زمر له تور سره ځان (په زوره) په جوال کې واچاوه؛ (ځان په زوره يا په لوى لاس په لېتې ککړول) هم ورته جاج ښندي.
*ځانته تېشه يا رمبى وهل،دخپلې گټې لپاره دبل په تاوان يوڅه کول: تور په هر کاروبارکې ځانته رمبى وهي.
*پرځان تېرول -وړل، لکه ←(ځان پل کول) زغمل،گالل: تور هرکړوکړاو پرځان تېرکړ.
*ځان جوړول،ځان سينگا رول يا سمبالول؛دب کول: تور د هرجا پر وړاندې ځان جوړوي؛ ملنگ جان وايي :
ځان جوړوي- ځان جوړوي
بيا د زړونو ښکار پسې ځي
عاشقان الالوي (وژني عاشقان!)...
لنډې:
پر کوټه سر کړه رادننه
دا پېغله نجل په لونگين ځان جوړوينه
پر کنډوگي مې ځان ورهسک کړ
د کونډې لور، لکه سپاهي ځان جوړوينه
په سيخکو به ځان سينگار کړم
که موټر وان لالى مې سپټ ته خېژوينه
*پر ځان گوتې وهل(←ځان جوړول،سينگارل يا رازل: تور پرځان(ډېرې) گوتې وهي.
*ځان يوغوړپ (غړپ) کول، ډېر ځان سينگارول: تور ځان يوغړوپ کوي.
ننگرهارى انډول يې (پرځان ډېره خواري کول) راځي.
* په ځان ورکول، يوڅه چاته په ملکيت کې ورکول يا(جنساً) ښښل: زمر تورته په ځان ورکړل.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

* ځان ویلې کول،ځان ډنګرول-خوارول: تور په ډېرکاروزیار(کې) ځان ویلې کړ.
*ځان مېښه کول، دغه کړنه د پښتونخوا لوري ته له دې متله رازېږېدلې چې وا يې: (پېښې ته ځان مېښه کړه) يا(چې درته شوه پېښه، ورته ځان کړه لکه مېښه)، مانا يې داچې هرڅومره غم يا ستونزه درپېښه شوه، ځان يا زړه ورته د مېښې هومره لوی کړه او ويې زغمه.
*(د يوه کار لپاره)ځان(نه) زهيرول، زيار ګالل – زيار پرځان منل، لکه پارسي (خودرا زحمت- تکليف دادن): سنک په هر کارکې ځان (نه) زهيروي.
*(پرچا-دچا لپاره) ځان(نه) زهيرول، دچادګټې-پالنې-ځارنې... لپاره زيار ګالل:
برى د زمرک لپاره-پر زمرک ځان(نه) زهيروي.
*ځان په غم، سختى، خوارى... کې ورکول، غم، سختي، خواري منل اوګالل: ځير ځان (په لوی لاس)په... کې ورکړ.
*ځان((په لوی لاس) په غم، جنجال... ککړول يا اخته کول، په لوی لاس يا بېځايه ځانته... پيداکول: تور ځان په... ککړ کړ.
*ځان ته غم کرل← د تېر په څېر.
*په ځان کې (څه) متره نه ليدل، ناتواني يا نه وړتيا نګېرل(احساسول): زمر په ځان (خپل)کې (څه) متره نه ويني.
*ځان(پخپله) په ګير (ولکه)کې يا پر لاس ورکول، داخرګندنه زياتره د(بل چاپه تړاو ويل کېږي ،لکه چې وايي.
زمر تور دپوليس، دښمن.. په ګيرکې ورکړ يايې ور.پر ګوته کړ، پر لاس وکړ او يا ور وسپاره
*په خپل ځان کې کېدل د بل په سوچ ياغم کې نه ول،ځانځاني ژوند کول: سنک په خپل ځان کې دى؛ ← (تن په تنهايى کې کېدل)، (هر سرى په خپل ځان کې دى) يې ورته ځېلونه دي.
*په ځان پسې (نه) ګرځېدل، د خپل ځان خيال (نه) ساتل، يا د خپل ځان په اړه بې توپيره ول، لکه د روغتيا، خوراک، پوښاک، هوسايى، ډول و ډآل او نورو اړتيا وو له پلوه: ببرى (تل) په ځان پسې ګرځي يا(هېڅکله، دومره) په ځان پسې نه ګرځي ..
*په ځان ياتن کې وينه وچېدل، له ډېر او سخت کاروزياره له لاده باده لوېدل: (له ډېر او سخت کاروزياره) د تور په ځان کې(ښېخي) وينه وچه شوه.
*ځان پر يوه او بله کول ياځان پر يوه خوا بله خوا، يوخوابلخوا، اخوادېخوا، دورې دورې... کول، په نه څه پلمه له يوه کاره ډډه کول: تور له هرکاره ځان پر يوه او بله... کوي.
*ځان پرچاتلَل يادرانه خرڅول(به رويش آوردن)، څوک پاسلل،پرې منت بارول: تور يې پر هر چاتلي يا زبادوي.
*ځان ته د سر سيورى پيداکول← ځان خوندي کول، سر پر سيوري کول، سرپنا پيداکول يا موندل: زمر ځان ته د سر سيورى پيداکړ
*ځان خوړل← زړه خوړل.
*(له يوڅه-چا-لپاره) ځان ځارول- جارول- وژل- حلالول- بلهارول- قربانول،(له يوڅه-چا-لپاره) د ډېرې مينې او لوربينې پاس پرځاى کول:

ځان به داستا پر مينه جارکړم
لکه پتن چې د ډيوې په مينه مرينه
ځان خو به ستا پر يادو جار کړم
لکه پتنګ چې ددېوې په مينه مرينه
سر مې وتاته قرباني دى
ځان به قربان کړم، که وصال مې نصيب شينه
که سرى ځان ورته حلال کړي
نه منظورپريماشوقوته خذمتونه

*(خپل) ځان غولول، دا دهغه چا په تړاو ويل کېږي چې ښه پوهېږي چې څه پرلاس نه ورځي يا موخې ته نه رسېږي،خو بياهم په يوه خوشې ياتوزنه هيله ځان تسلوي؛ ← زړه غولول
* ځان زمرى زمرى کول، په لاپو شاپو ځان زورور او باتور ښوول: تور ځان زمرى زمرى کوي.
*ځان هېرول،د يوه چا لپاره له خپلې ځانګړې ګټې تېرېدل :

که ځان مې هېرکړ، تابه هېرکړم
جې دواړه هېرشو، نوربه يوشى شو مينه
که ځان په يادو دچا هېرکړم
اشنابه هم راڅخه هېر په يادو شينه
که ځان مې هېرکړ ستا په يادو
په ډېرو يادوبه تاهم هېرکړم مينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که ځان مې هېرکه، ترې وېرېږم
نه چې دا هېر صورت به بیا را پر یاد شینه
که ځان مې هېرکړ، ته به راشې
که ته مې هېرکړې،نوربه ځان وپېژنمه
ځان و جهان مې واړه هېر کړل
مینې دې داسې پر ما زور وکړ مینه
ځان و جهان که دواړه هېر کړې
دا هېرېده د یار پر یاد همېشه وینه
ځان خو مې هېر، ته مې پر زړه یې
د بل وطن جانانه تل دې یادومه
←(یو څه- څوک) هېرول- هېرول، پریاد(نه) لرل ، د پاسنۍ ګړنې پر وړاندې زیاتره څرګندنې رغوي،لکه:
ستابه زه یاد یابه دې هېریم
زه چې قدم پر قدم ځم تایادومه
*ځان پېژندل، د پاسنۍ هغې سرچپه ماناوې رانغاړي، لکه چې وایي: تا تراوسه خپل ځان نه دی پېژندلی-له ځانه خبر نه یې...؛
یا ورته فلسفي رنګ ورکوي: ځان پېژندل، جهان پېژندل دي، که ځان ونه پېژنې، جهان به څنګه وپېژنې او له ګروهیزلید سره، لکه: که ځان ونه پېژنې، خدای به څنګه وپېژنې؛ هرګوره، تصوف بیا (ځان هېرونه) د خدای پېژندنې شرط ګڼي!
*ځان من بلل یا من من کول یاګڼل، ځان لوی او لوړانګېرل: سنک ځان من بولي یا من من کوي.
*ځان ته غره کېدل یا ځان ور(ک)کول ، ښاخل-غاورېدل-مغرورېدل: تور ځانته هسې بېځایه مغرورېږي یامغروره دی؛ په لنډۍ کې:
پام کوه ځانته غره نه شې
که ته چنار یې، زه د سبر ونه یمه
- - - - - - - - - - - -
د دېواله د سر څېپاکه دې ګڼمه
په قد بالا، په حسن پوره
پر ځان مغروره، چاته نه ګوري مینه
همداراز←ځان اېغر اېغر کول، ځان من من کول، ځان ور(ک) کول، ځان پرسول، ځان غټول.
*یوه څه ته ځان نیول یا ټینګول، د یوڅه پروړاندې له ټینګار(مقاومت) څخه کار اخېستل، لکه په متل کې:
د پشۍ اول ټس ته څوک ځان نیسي؟
*ځان غلی نیول- اچول،د هغه چالپاره ویل کېږي چې که د تاوان په ځای کې غلی یا سترګې پرلار پاتې کېږي ، نو دګټې په ځای کې بیا په دې ځان غلی نیسي چې نورو ته ←ځان کم رانه وړي یا وړسولی ښکاره نه شي: زمر ځان غلی ونیو(وګړنی پارسي اندول یې: چوپ یا خپ خوده ګرفتن)، همداراز← ځان لرې نیول، ځان نا ګارول- ناګاراچول- ځان تېرول . ...
*ځان(خېټه) پر چا تاوانول، یو څوک د ډوډۍ پرمهال چاکره تلل او ځان یا خېټه ورسره مړول: تور دغرمنۍ لپاره) ځان پر زمر تاوان کړ...
*ځان ګول، ټګ یا پر ټګۍ اچول، لکه ځان ناګاره اچول یا ناګارول...: خپله کړې ګناه ختا پټول (تجاهل عارفانه کردن): زمر پر خپله تېروتنه ځان ګول... واچاوه..
*ځان مړاچول، د ځینو خوځنده وو، یاداسې وګړو په تړاو ویل کېږي چې دښمن یې زخمي ژوبل کړي او د ژوندي پاتېدو په اسره، ځان مړ وښيي:ګونګټ ځان مړ واچاوه؛ سنک (له ټپي کېدو سره) ځان مړواچاوه.
*ځان ویده اچول،د پلمې له مخې ځان ویده ښوول: ځیر ځان ویده واچاوه .
له ځانه راایېستل یا تراشل(له ځانه یوه لاره یا در وغ ودرب جوړول،بدعت کول: تور هرڅه له خپل ځانه راباسي؛ شړه یا شډله بڼه یې (له خپلې خېټې یا ګېډې راباسي.(
*د ځان لپاره یا ځان ته څا کېنل ،ځانته تاوان رسول: تور ځانته څا(کوهی) کني، کېني یا کاږي.
*ځان غورځول، په یوڅه پسې وردانګل؛ له کومې عصبي، عقلي ناروغۍ یا بلې ناچارۍ(په لوی لاس د ځان وژنې په موخه) اور ،اوبو، کندې، ګړنګ... ته وردانګل، لکه:
پورې کمره کې زېږه ګله
یا به دې پرې کړم، یابه ځان وغورځومه
*ځان (چا-ځای-موخې) ته رسول،یو چا-ځای- موخې ته درسېدو برې ترلاسه کول:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د یار له دره نه صبرېږم
سربه پرې ورکړم،ځان به یارته رسومه
*ځان ته یوڅه ویل، له ځانه (ډېره)تمه لرل- ځان یوڅه ګڼل یا ځان په سړو- مېړو ... کې شمېرل: زمر(هم) ځانته یوڅه وایي،ځان لوړ ګڼي یا ځان په یوڅه کې شمېري
*ځان سپینول، خپله بېګناهي زبادول: تور ځان(له ګناه یا تورتومته) سپین کړ
ځان پټول، غیبول یا درغلول،د شرم، تور، پېغور، غچ، جزا... له وېرې پټېدل: زمر ځان پټ کړی یا درغل کړی دی.
*ځان سپکول، چې یو څوک د خپلې ګټې په پار هرکس و ناکس ته←خوله اچوي اویالوڅې پوڅې کوي:
تور(هسې) ځان سپک کړ یا سپکوي.
*ځان ور(ک) ول-ېدل← ځان اېغر اېغر ګڼل، ځان من من کول.
*له ځان سره کرل او رېبل،په زړه کې یوڅه سنجول یا د یوې چارې، رېږې پر پایلو سوچ و غور کول: ځیر د خپلې راتلونکې په اړه له ځان سره کرې او رېبې؛← په زړه کې شاربل راشاربل.
ځان یا بل ته(په بد نیت) پام یا مخ کول-ېدل یا ول-استل، ځان یا بل چا ته زیان رسول:
بېلتونه پام دې چاته مه شه
ځانته دې پام شه، له سیلۍ دې واېستمه
.....
ماته دې مخ شو، له سیالۍ دې واېستمه
.....
ماته دې مخ شو، د دوهۍ ملنګ دې کړمه
*ځان شرمول، د هغه چا په اړه ویل کېږي چې دخپلې ګټې په پارله هر بد چالچلند یا چل ول څخه کار اخلي:
تور(هسې ببځایه) ځان سپکوي.
*له ځانه دمچ شړلو توان نه لرل: تور له ناغېږۍ -کمزورۍ نه له ځانه مچ شړلای نه شي. ..
*ویې دې پرځان!، دیوې ننګونې په توګه یوبل ته وایي:که له دې کار یاچلنده ډډه ونه کړي،نو ویې دې پرځان چې څه درپېښ شول، یا مې هرڅه درسره وکړل، له خپل ځانه به ګیله کوې؛ په دې توګه (له خپل ځانه ګیله کول) ګړنه هم هممهاله همدلته کارول کېږي.
*پر ځان مین ول-استل، ځانخوښی یا ځانمنی(خودخواه) ول:
پر ځان مین یې، پر ما نه یې
یاري په داسې مینو نه کېږي مینه
* (یوڅه) په ځان پسې راکښل، یوڅه له شالوري لاسنیولي رالېږدول:
پلو په ځان پسې راکاږي
خاونده خدایه مېلمنه به دچا وینه
پلو دې ځان پسې راکاږي
زما ګومان د مېلمنې درباندې شونه
*په مټه ځان ساتل← مټ
*ځان بسیاکول-کېدل، ول-استل، په پاسني جاج: تور ځان بسیا کړی یا پرځان بسیا دی؛ ځان بسیا(خود کفأ)، ځان بسیاینه(خودکفایی) یې نوې نوموالي رغاونې دي.
*پرځان پېرزو- ول یا کول-ېدل، پر خپل ځان ښه یا بد لورول، په خپله ګټه یا تاوان یوڅه راخپلول، لکه په لنډۍ کې:
دابه دچا پرځان پېرزوي
چې تله واخلي، پردی غم ځان ته تلینه
*له ځانه بېځانه کېدل← له لاده باده وتل.
*له ځان سره وړل یا بیول،داخرګندنه هله پر ګړنه اوړي چې د وړلو څیز نانګېروړ یا مجردوي، په نورو ټکو، انځوریزه یا مجازي مانا راخپله کړي، لکه د اروابشاد
ننګیال په روستي شعرکې:
یو باد رالګېدلی ما له ځانه سره وړي...
او یایې پر لیکه ویل شوې بېلګه:
اجل مې لاسنیولی، نن له ځانه سره بیایي...(ساندې ۶۷)
*له ځان سره سره غږېدل، لګیا یا ګډ- ول، له له ډېر غم اندېښنې، سودا، بادسا رۍ - لېونتوبه څوک له ځان سره غږېدل: ببری له ځان سره غږېږي، لګیا یا ګډ دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*له ځان سره خندل، داهم لکه← (له ځان سره غږېدل) د هغه چا په تړاو ویل کېږي چې د ورته لاملونو له مخې له ځان سره پر خپل سر خاندي.
*نور په ځان پورې یا پرځان خندول، ← ځان شرمول؛ داګړنه د هغه چا په تړاو ویل کېږي چې بېځایه، خنداوړ یا سپک ورک کارونه کوي: سنک نور په ځان پورې یا پر ځان خندوي؛ (پرځان درست جهان خندول) یې یو توند ځپل دی؛ د دواړو شعري بېلګې، لکه:

ما لېونی د مینې، مه بولئ ګرم
لېونی چاوېل چې پرځان نه خاندي
چې په لوی لاس پرځان جهان خندوم
ولې دې ماباندې جهان نه خاندي

*ځان تېرول، له یوې غوښتنې، مرستې،خبرې... په چل ول یا پلمه← ځان کښل- ناګارول...: تور ځان تېرکړ .
په یوه متل کې له څه ناڅه ورته ماناسره وایي :
یاله کوڅې تېر کړه، خوند یې واخله رنګ یې هېر کړه
*ځان - ځنګ، یا (د سپکاوې په ګړدود) کونه کښل، ځان سپمول، یاډډه کول د(اجتناب، کنار رفتن) په مانا: تور له کار، مرستې... ځان و کښه یا وکېښ..
همداراز(چې ځان نه وي، جهان دې نه وي)، (یاځان دی یا جهان)، ځانه ځانه، تر هرچا ګرانه)، (ځان ځانې، خپله خواري)... متلونه د خبرو په بهیر کې د غونډلو د جوتو(ثابتو) غونډونو په توګه تر ډېره پر ګړنو او څرګندنو اوړي ..
*له چاسره ځان برابرول، له چاسره سیالي کول: سنک له ځیر سره(هسې بېځایه) ځان برابروي.
*ځان دبل چایا څوک د ځان په رنګ کول، یو رنګ یا یوشان کول، همرنګول، سیالي کول: تور ځان د زمر په رنګ کوي؛ ببری سنک د ځان په رنګ کوي،لکه:

زه خو شرابي یم، شېخه څه راسره جنګ کړې
برخې ازلي دي، کاشکې ما د ځان په رنګ کړې (خوشال(

* روغ ځان رنځورول، په لوی لاس ځان په ناروغی اخته کول:

په یاری روغ سړی رنځور شي
څه مې ضرور دی چې روغ ځان رنځورومه

*ځان رسوا کول-ېدل،رازاشواکول- راز اشواکولوته لار برابرول، لکه:

پر لوړه مه کښېنه مینه
ځان به رسواکړې، مابه ورک کړې له وطنه

*ځان لېونی کول یا ځان پر لېونتوب اچول، لکه:

ځان لېونی کړه، تر ما راشه
د لېونیانو لارې چا نیولې دینه

*ځان ملنګول- فقیرول،لکه:

ځان خو ملنګ کړه، ترما راشه
د ملنګانو لارې چا نیولې دینه

*ځان کتري کتري یا توتې توتې کول،

ځان به سل ځای کتري کتري کړم
وطنه، تابه له دښمنه وساتمه

*(له چا) ځان راتولول، له چاسره اړیکې پرېکول یا ترې ګوښه کېدل، لکه:

ځان یې له خلکوځنې تول کړ
ځکه کاغذد اشنا وکړه دیدنونه

*ځان وژل یامړکول، خپل: خپل ځان پخپله وژل، ځانوژله(خودکشی، انتحار) کول:

زهر به وخورم، ځان به مړ کړم
د ډېرو خلکو منت کله قبلومه

*(د چا لپاره، د چا پر نامه) ځان خاورې کول-ېدل، له چا یا د چا پرنامه ځان بلهارول

که جانان مړشو، نوم یې شته دی
زه د جانان پر نامه ځان خاورې کومه

*له ځانه اور اخېستل، له ډېرې نهیلی او خواشینی سره مخامخېدل:

له ځانه اور واخلې چیناره
مین پرما دی، خوب ترتا لادې کوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*(یوڅه) له ځانه (را) چاپېرول یا راګرځول- د ځان ژغورنې یا خوندیینې په موخه له ځانه یوڅه را تاوول،لکه:
بېلتون جګړې لره راغلی
ځان نه د وسپنې کلا چاپېرومه
.....
ځان نه د وسپنې کلا راګرځومه
* ځان سمبالول ، ځان سینګارول← ځان جوړول:
د پسرلي پر باندې راغلم
ګلان غوړېږي، وختي ځان سمبالوینه
پر کلا دوې کوترې ناستې
یوه ویشتل کړي، بله ځان سینګاروینه
د پلي خانه، بد دې وکړل
خانان دې مړه کړل، ځان دې خپل کمزوری کنه
*ځان سوځل- سېزل:
پر ما کاني د ققنس وشوې
پر میرو ډکي ټولوم، ځان پرې سېزمه
*ځان سیال- مخی کول-ېدل-ول-استل، دغلته سیال د(کفو) او مخی د جوګه (لایق) په جاج کارول شوي دي، لکه په دې لنډۍ کې:
سیال خومې یې، مخی مې نه یې
ځان دې مخی کړه، بیا سیالي کوه مینه

۱۶=ځانګ-ځانګونهcāng-cāngúna
د (وزر-وازره-وزرونه) یې کمدودي همانیزونه دي، هغه هم یوازې د ډېر ګړي(جمع) په توګه، لکه په دغو روستو ګړنو-ځرګندنوکې
*(یو ځوک) مړاوي ځانګونه ول، تلل...
...اشنا زما له غېږې ځي مړاوي ځانګونه
*ځانګونه نغښتل،دلېږد-کوچ تیاری نیول، دا چې په لره پښتونخوا کې (کډې نغښتل) یې همانیز دی، نو د شعري انځور خرخشه یې له منځه ځي، ملکندي شاعر اکبر سیال (نورې کډې نغاړمه) هم له (ګړنی)پښتو راخېستی دی،لکه:
:نن مې د زړه توتي خپه دی
ځانګونه نغاړي، نا اشنا وطن ته ځینه
*خواره-خپاره ځانګونه ول، د پاسنی ګړنې سرچپه جاج رانغاړي:
سپرلی راغلی نوبهار دی
هرځای چغاردی، دبلبل خواره ځانګونه
ربه دا پورې غر سوری کړې
چې ترې راووځي شنه توتیان خپاره ځانګونه
*(له یوڅه)ځانګونه سوي ول ،لکه په لنډۍ کې:
توتي پر وچه ونه ناست دی
د بېلتانه لمبو یې سوي دي ځانګونه
پرچا ځانګونه سیوری کول
اشنا مې پورې شاکې لو کړي
کوتره نه یم چې پرې سیوری کړم ځانګونه
ځانګونه پورته کول، د الوت په هڅه وازره(مخ پر هوا) پورته کول:
زړه مې هوا وخوړه خدایه
لکه هیلی چې له ډنډ پورته کړي ځانګونه
*ځانګونه ستړي کېدل، له ډېرې الوتنې د کوم الوتونکي ستومانېدل، لکه د بورا په اړه چې وایي:
مخ دې(یې) د خدای له نوره ډک دی
په تلو راتلو د بورا ستړي شول ځانګونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۷ =څټ چې آره مانا يې(د ورمېږ شا، د سر او وليو تر منځ برخه) يا پارسي(پس گردن) ده او انځوريزې(مجازي) ماناوې يې(د هرڅه شا)، بېرته،واپس) او(د هرڅه چپه مخ.(
*څټ گرول،پلمه کول؛ ټکنی کېدل؛ ځان ناتوانه ښوول يا څرگندول؛ نټه کول ؛ شرمېدل؛ نهيلېدل: سنک(خپل) څټ وگراوه؛ په روستی مانا يې پارسي انډول (پشت را خاريدن) دی: تور (له شرم، دوه زړی، نټې...) څټ وگراوه؛ همداراز ← سرگرول.
*څټ کوزول، نا خوښمنېدل (ناراضي کېدل)؛ نه منل: زمر ځير ته څټ کوز کړ.
*پر څټ بارول-ېدل، يوڅه د بل پر اوږو يا غاړه اچول، پازوالول (مسؤلول، مکلفول): ځير د کور چارې د زمر پر څټ بار کړې يا د کور چارې د تور پر څټ بار شوې.
*څټ يا شاته ته اچول، ← روسته کول، ځنډول: زمرخپل يون(سفر) څټ ته واچاوه.
*پر څټ تلل- راتلل، پر څټ وړل- بيول- پرمخ نه تلل،(مخ) پر شا تلل، وړل- بيو ول، نه پرمختگ کول: افغانستان پرڅټ ځي يادرومي او يا پر څټ بيول کېږي.
* پر څټ کول يامخ و څټ کول-ېدل، ول- استل- پر بل مخ کول، چپه کول -ېدل- پر بل مخ کول-اړول يا چپه کول...، (مخ وڅټ کول) په بېوزلوکي زياتره هغه مهال کارول کېږي چې خت،کوسو(کوسی)،کنځول(چپن،کوټ)، ټټرې(واسکټ).... يې مېنو دی (مستعمل) شي، سپخي يې او پر بل مخ يې بېرته گنډي چې يوڅه نوی ښکاره شي: درزي د سنک کنځول (کوټ) پر څټ کړ يا مخ وڅټ کړ؛.تور خپل خت مخ و څټ کړ .
*پرمخ- ول- څټ گرځول، دغه غبرگې څرگندني سره د دغې لاندېه لنډۍ په دويمه مسره کې يو مخاوی(تقابل-کونترست) را منځته کړی دی:
د خدای ښه ډېر دې وي وطنه
لومړی مې مخ وو، اوس به څټ درگرځومه
*پرڅټ اغوستل، خت، پرتوگ... پر بل مخ اغوستل: سنک خت پر څټ اغوستی دی.
*(يوچاته) پوستين پر څټ يا چپه اغوستل، ډارول، تور برېښ کول: تور سنک ته پوستين پر څټ واغوست؛ له پوره انځوريزوالي سره د څټ په تړاو همدغه بشپړه (گړنه) بلل کېږي او نور بېلگې تشې (څرگندني(.
*(را-در-ور) پرڅټ کول-ېدل، راستنېدل، بېرته راتلل: ببری له خوسته را پر څټ شو يا خونې(کور) ته ور پر څټ شو .
*(څوک) له څټه رانيول، څوک له تگه بيرته(پرڅټ) راگرځول، لکه بشرنويد چې کاږي: له څټه يې راونيو.
*په څټو الالول ، په ډېر کړاو او شکنجه الالول، وژل يا ځورول او زيانمنول ، په دې جاج چې د يوې چړې، چاکو يا بل کوم تېغ په تېره مخ، خوله يا (په تېرو) د يوه ژوی څاروی او بيا انسان الالول دومره گران نه پرېوځي، لکه په څټو: سنک خپل غليم په څټو الال کړ، يايې له زومه زښت ډېراو ملا ماتوونکی ولور واخېست.
*له څټه الالول، چې څوک د ستوني يا غاړې پرځای د چا پر څټ تېغ کښېږدي او په ډېر کړاو او سختۍ يې الال کاندې: زمرک سنک له څټه الال کړ؛ سخترين ځېل يې(له څټه په څټو الالول) راځي؛ په يو شعرکې:
...هغه زوړ مکار غليم مې
- له دې دومره نوو نوو جنگ اوزارو سره بياهم-
لاهغسې د دين گروهې
په زړه او زنگوهلې پڅه توره
په څټوسره له څټه غوڅوي سر!(اندوواند۱۳۹(
له چانه پر څټ(ته) يا شا(ته) راتلل
که له دښمن نه پر څټ راغلم
بيامې پښتون د تيرا مه بوله مينه
د کوټې څټ کړکی ته راشه
يوڅو خبرې د گيلې درته کومه
که له ميدانه پرشا راغلې
کوردې ځای نشته، بل وطن ته ځه مينه
په بډه مانا بيا د څټ يا شا پرځای (مخ) راغلی:
که د دښمن مخ ته يې مخ کړ
سپينه خولگی به لکه څوری پسې وړمه← مخ.

۱۸ =څنگ-څنگونه) caŋgúna caŋg- بغل،پهلو، کنار، طرف، گوشه(

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د پژنوم یا زاتنوم(اسم ذات) او څه ناڅه، د مانانوم(اسم معی- اسم مجرد) په توګه)، په بله وینا، د آرې (وضعي) او انځو ریزې(مجازي) مانا) له پلوه، له (اړخ- ترخ -خوا-(ډډې) او یوڅه (پلو- لوري،-ګوټ) سره ورته مانیز راځي او په دې ډول یې ورسره هممانیزې ګړنې اوڅرګندنې رغولې دي،لکه څنګ پرڅنګ، اړخ پر اړخ، خواپر خوا او داسې نورې.

له(پلو) سره د(څنګ)هممانیزوالی په دې بدله کې ښه ترا سهي کولای شو :

یوپلو مې یار، لونګین مې پر دا بل پلو

لا وړوکي(-یه) دې پلو را واوړه

یا: نه ځم د کابل پلو) د یوې بلې بدلې سر!

بېلنګونه او ترنګونه یې:څنګری(بغل: د یوه مېچ-مقیاس په توګه،لکه یوه څنګرې وابنه)، څنګی(دکاریز سنګچین)، څنګی(وندر)، څنګزن(ګوښه ګیر)، څنګواښی (پشتي، متکأ)، څنګوښی(بند تفنګ)، څنګوپردی(پشتي؛بند تفنګ)، څنګ پر څنګ؛ همداراز یې (څنګل) چې د یوه ارکاییک کوشیننوم په توګه پر څیز نوم (آرنج) اوښتی او همداسې یې څنګل(د کېږدی-خېمې سکام) هم درواخله.

* د چا تر څنګ، څنګ تر(پر) څنګ یا خوا پرخوا کښېناستل، له چا سره نژدې کښېناستل، لکه په لنډۍ کې:

راشه زما تر څنګه کښېنه

که تماکو غواړې، لونګ به درکومه ....

زوی مې څوک نه دی چې به تا ولاړوینه

که ته شرمېږې، لاس به زه درواچومه(← لاس)

*پرڅنګ کول – څنګ- ډډې، یوخوات ته کول، بڅول- ژغورل: ځیر خپل کتابونه پر څنګ یا بچ کړل.

*(له یوڅه نه) پرڅنګ کېدل یاڅنګ کول، له پاسنۍ او (← ډډه کول)

سره څه ناڅه په ورته جاج، لکه په لنډیوکې:

له تورو څنګ مه کړه لالیه

ځوانان پر سرو تورو ورځې، نجونې ګټینه

پر مورچل نېغ ورځه، ټیټ نه شې

ښایسته زلمي له مرګه څنګ نه کړي مینه

*(سره) څنګ پر(تر) څنګ کېدل، ول، (سره) نژدې یا مل و همکارکېدل؛ یو برابر کېدل-ول: تور له زمر سره څنګ پر څنګ شو یا څنګ پرڅنګ دی؛ همدارنګه :

←اوږه پر اوږه(سره) کول-ېدل، پرمخ وړل ،ول- استل؛ د پارسي(همتا) او انګر ېزي(کونتر پارت) لپاره(همڅنګ) نویزی هم په ورته جاج رادود شوی دی؛ څنګزن (فرعي؛ سطحی)که څه هم ولسي آره لري، خو(څېرمه؛ سرسري) ترې کره ارزول کېږي.

*(دچا) تر څنګ یا په څنګ کې (پرخوا، په خواکې) درېدل،پلوي، ننګه یا ملاتړ کول، زمر د ځیر ترڅنګ ودرېد یا ولاړ دی...

د پاچاهي داوه به وکړم

که بې پروا د چا تر څنګ ودرېدمه

پر څنګ اوښتل، ← اړخ بدلول، پر اړخ اوښتل، پر ډډه اوښتل..

پر ګډېدو راشه سرداري

پر څنګ راواوړه چې دې شرنګ دبنګړو شینه

*څنګ اچول یا ایښوول، چې په (لګول) کې ورسره بیا(اړخ) او(ډډه) همانیز(تکیه کول) کارېدای شي، لکه: زمر پر څنګواښي(څنګواښتي) یا څنګوپردي(بالش، پشتی، متکأ) څنګ اچولی، ایښوولی یالګولی دی.

*یوڅه څنګ ته اچول، لکه←ترخ ته اچول، یو څوری-کوری د یانه(سفر) په موخه له ځان سره اخېستل، لکه د یوه کامه وال په دې طنزیه ټپه کې:

تا د شړومبو کټۍ پر سرکړه

ما دسوکړکو کوری څنګ ته واچونه

*یوڅه څنګ یا ترخ ته اچول، کوم ځای، یانه (سفر) ته روانېدل:

تا د شړومبو کټۍ پر سر کړه

ما د سوکړکو کوری څنګ ته واچاونه

*څنګ کښل ← ځان کښل، ځان سپمول، پر څنګ کېدل، څنګ کول، ډډه کول...

څنګ کول، لکه پاس، په دې بېلګه کې:

پر مورچل نېغ ورځه، ټیټ نه شې

پښتون زلمی له مرګه څنګ نه کړي مینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*(سره) څنګ پر څنګ اچول، اړخ پر اړخ یا خوا پرخواکول، یوځای کول : زمر دوي ربړي(مسألې) یا سکلووي(موضوع ګاني) سره څنګ پرڅنګ اچولي دي.
*(له چا یایوه چاره) پرڅنګ کېدل، له یوڅه ځان یوخواته کول یا ډډه کول چې پارسي اندول یې (کنار رفتن؛ پهلو تهی کردن) راځي او(کنار آمدن) یا(باهم کنار آمدن) یې بیا په مثبته مانا له ←(څنګ پر څنګ کېدل) سره اړخ لګوي.
*(یوڅه، څوک) څنګ ته کول- یوخوایا ډډې،ته کول، له کتاره ایستل، هیسته کول؛ له پامه غورځول: زمر خپل ګاډی یا سامان یو څنګ ته کړ.
* .پر(تر) څنګ لیدل- کاږه لیدل :
سترګې توري، تر څنګ ګوري
د سپوږمۍ خوري، په شغلو دي واخېسته
سترګې دي توري پرڅنګ ګوري
د نجلۍ سترګې مې له ملکه ورکوینه
.....
د پچا لوري مخ راواړوه چې مرمه(← مخ(

* .څنګ ته راتلل- څوک د چا خوا یا لوري ته راتلل، د دې څرګندني ناکره بڼې (څنګ څخه راتلل) او (څنګ سره راتلل) له لغمانه تر پېښوره لږوډېر ویل کېږي چې موږ یې په لنډیو کې یې یوازې د کره بڼې څرک لګولی دی،لکه:
څنګ ته مې مه راځه جانانه
سبا به بوی د لونګین درڅخه ځینه
*پر څنګ تلل یا پر ډډه تلل- (له چاڅخه) پر څنګ تېرېدل یا له مخامخېدو ډډه کول:
پټې له شمې پر څنګ نه ځې
زه به دیار له غمه ولې پرڅنګ ځمه
* .پر څنګ تېرېدل، لکه← پر څنګ تلل:
څنګه پرڅنګ رانه تېرېږې
ناترسه یاره لېونۍ درپسې شومه
*د چا له څنګه یاله خوا جدا کول-ېدل- څوک له چا بېلول-ېدل:
پا چاپې تخت مې په کار نه دی
ما دې دیار له څنګه نه جدا کوینه
*(اغزی) تر څنګونو ختل- پاتې راتلل، نه بریالی کېدل،لکه:
بورا د ګلو په(پر) بوی راغی
ګل یې بوی نه کړ، خاریې وخوت ترڅنګونه
(څنګونه) کېدای شي، له آره څانګونه(وزرونه، لاسونه) اوسي!
*یوڅه ته څنګ یا څنګونه ورکول- ←(څنګ پر څنګ کېدل)،(غېږ پر غېږ کېدل) او (غېږ ورکول) سره په ورته جاج :
پروسږ دا مهال ژوندی وي
سږ خو دې ورکړل تورو خاوروته څنګونه
*دواړه څنګونه خوړل، دالکه ځینې نور غړي(سر، سترګې...) چاته د ښېرالپاره کارول کېږي، لکه:
تپوس کوتره پرخوله یووړه
شاباز وخوري مرکندۍ، دواړه څنګونه
*سره همڅنګ کېدل، مل کېدل، یولاس کېدل، لکه:
سپک به د سپکو په دوستۍ شي
خس چې له باد سره هم څنګ شي، بادیې وړینه

۱۹ =څنګل-څنګلې caŋgə́l-caŋgə́le(آرنج)
انګرېزي یيelbow,crazy-bone ،(دلاس د پاسنۍ اوکښېنۍ غبرګېدونکي برخې، په نورو ټکو، د(متې) او(لېڅې) په منځ کې د یوځای کېدنې خوځنده درېګوټ (زاوي) مخ و _څټ ته ویل کېږي، هغه هم زیاتره شا ته وتلې(محدبې) برخې ته چې د سوک غو ندې ترې د وهنې کار اخېستل کېږي- دننه ژوره(مقعره) برخه یې په یومتل (چېرې...،چېرې څنګل) کې له ښځینه نوږیز غړي سره ورته ښو ول شوی دی. له تاریخي - آرپوهیز پلوه هم د(څنګ) ووړنوم دی او د(څنګ) غو ندې دومره ګړنې یا څرګندني لنډې تنګې دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

×سر پر څنګل اېښوول
سر پر کړه څنګله کېږده
مخ مې راستون کړه، ښکلوه شینکې خالونه
سر پر نرۍ څنګله کېږده
تا د نرۍ څنګلې ډېر کړه ارمانونه
سر مې پر ښۍ څنګلې کښېږده
پر کینه لېچه مې بنګړي دي، مات به شینه
*(د چا)تر سرلاندې څنګل اېستل یا کول، لکه:
څنګل اوږده رالاندې باسه
مټ دې بالښت کړه چې پرې سر د یارۍ ږدمه
*(دچا) پرڅنګل خوب کول یا ویدېدل، لکه:
ځانله پالنګ ورته انګار شي
چاچې دیار پر څنګل کړي وي خوبونه
*څنګل یا څنګلې ماتېدل د ننګرهار خواته، هغه هم زیاتره د ښېرا لپاره کارول کېږي، لکه چې وایي: څنګل دې ماته شه! څنګلې دې ماتې شه!

۲۰ =خواxwā-xwā́we
څنګ، اړخ، ، ډډه، پلو، لورى، زړه،خاطر،اشتها،هیله، ملاتړ... ان (نس)، لکه په (خواګرځېدل، خواګرځن) کې یې هممانیزونه اوځایناستي راځي. په دې لړکې تر ډېره د←(زړه) له اړوندو ګړنواوځرګندنو څخه توپیر نه لري.
جوتغونډونه (د مړوخوا، یوخوا، بلخوا، هرخوا، له هرې خوا، لره خوا، بره خوا...)، بېلنګونه (خواګرځن، خواګرځی، خواګی، خوایيز...)، تړنګونه (پښتو نخوا،نیمه خوا، خواپرخوا، خوا ترخوا، شاوخوا، خواوشا، خواوخاطر، خواتورن، خوا توری، خوابدی، خواستغی،خواچپی،خواټول،خواټولی، خوا خپور، خواخپوری، خوا خوړی، خواخوښی، خواشینی،...).
نوموالي (اسمی) او کړوالي(فعلی) ګړنې-ځرګندنې یې په لاندې ډول ګڼې بېلګې وړاندې کېږي .

*خوابدول-ېدل(خپه کول-ېدل، خوابدی یاپیکه کول-ېدل (خپه کول- کېدل؛← زړه را جګېدل: زمر له توره خوا بده کړ، یې خوا ځنې بده یا پیکه شوه.
*خواته کېدل یا زړه ته کېدل- یوڅه ته هڅه، میل کېدل، اشتهاراتلل: د زمر خواته څه نه کېږي؛(خوا پوټه کېدل) ورته جاج رانغاړي.
*خواتورول-ېدل یا خوا تو ری کول-ېدل (له یوڅه یا چابېزارول-ېدل: له ببري نه د زمرخواتوره شوه، یا: ببري له ځانه د زمر خوا توره کړه.
*خوا شنه کول-کېدل یا خواشینی کول-ېدل -خپه کول-ېدل: تور د زمر خوا شنه کړه، یا: له توره یا له تور سره دزمر خوا شنه شوه.
*خواپرخواکېدل یا ول-استل-ډېر نژدې کېدل: زمراوتور(سره) خواپرخوا شول یا ول-دي.
*خواګرځول-ېدل (کرکه کول، راتلل یابېزارېدل، ګرځون یاکانګې کول: زمر له توره خوا ګرځوي، د زمر خوا ګرځي
*په خوا (او) خاطرکې نه ګرځېدل- ببخې هېرېدل یانه یادېدل: زمر د تور په خواخاطرکې نه ګرځي (د ټینګار یا شدت لپاره، یا پر((خوا)) پیاوړی خج راځي او یا تر وستربل روسته خجن((هم)) سرباري کېږي..
*له خوا خاطره وتل← د تېر په څېر.
*خوا سړول-سړېدل، یخول-ېدل،بېلابېل کارونځایونه یې، لکه← زړه سړول :(...
بېلتونه ښه خوا دې سړه کړه
د غم ګېډې راته تړه، زه به یې وړمه
ټوکر ټوکر مې کورته یوسئ
چې دملالو نجونو خوا راسړه شینه
ټوټې ټوټې مې ورته یوسئ
د لېونۍ دمور چې خوا رایخه شینه
ذرې ذرې مې ورله یوسئ
چې د کاسیرې لنډۍ خوارایخه شینه
(روستۍ لنډۍ: سلمی شاهین ۲۳).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*له دوو-دواړو خواوو یوڅه کول، یو کار په ګډه ترسره کول،لکه:
ټپ-ټک خو په دواړه لاسه کېږي
اشنايي هم له دواړو خوا(وو)مزه کوينه
*خوا (پر چا-چاته) پيکه کول-کېدل، خوا پرچا بدول-بدېدل: زمر ته(له قاره) د تورخوا بده شوه پيکه شوه؛(له خواخوږۍ)تور پر زمر خوابده کړه. ...
*د چا خوا نيول، د چا پرخوا- په خواکې درېدل، د چاپلوي کول)؛ څوک په خوا پورې نيول ياپر چا پام ساتل يا ژغورل: تور د زمر خوا ونيوله...يايي وژغوره.
څوک خواته نژدې نه پرېښوول-له چا لرې ګرځېدل يا بېزارېدل، تور زمر ځان ته نژدې نه پرېږدي يا ځني لرې ګرځي .
*خوا مړېدل يا مړه خوا کېدل-ول-استل يا ګرځېدل ← سترګې مړېدل، بې نيازه کېدل؛ بېغمه کېدل، لکه په لنډۍ کې:
که مې نصيب د بدو نه واى
ياربه مې يار وو، مړه خوا به ګرځېدمه
*يوڅه يوخواته کول، د هيسته کولو يا بېځايه کولو په جاج:
پېکى دې يوخواته شانه کړ
د وروځو منځ کې دې شين خال راښکاره شنه
*خوا يا څنګ ته راتلل يا له خوانه تلل، لکه:
پرېږدې ده ناخوالې نور، راشه زما خوالره
نه لرم اسره بله، بې له تا بل چالره(ګلکڅونه ۵.(
*د چاخوا يا څنګ ته درېدل، د ځان ژغورنې او پنا وړنې په جاج:
بېلتون دباب راباندې وکړ
زه ژړغونې د يار خواته ودرېدمه
*نيمه خوا کېدل،بې برخې کېدل،نهيلېدل
راشه چې سوله سره وکړو
عاقبت مرګ دى، نيمه خوابه شو مينه
ته په ځوانى کې ځوانيمرګ شې
ستا په يارۍ کې نيمه خواشومه مينه

xwle -xwlə۲۱ =خوله-خولې
ژبه، خبره، او مچې يې مجازي ځېلونه ګڼل کېږي، هرګوره، د مچولو يا ښکلولو لپاره يې زياتره کوشينه يا تصغيري بڼه (خولګى) کارول کېږي؛ خو د(خبرې، وينا) په مانايې،له زړه سره د مخاوي (تقا بل) لپاره آره بڼه(خوله) راځي؛ په شعرو لنډۍ کې هرګوره، داتوپيرد تول وتال اړوندېږي. اړوندجوتغونډونه اوهمداراز بېلښتي او ترښتي وييونه چې په اسانه له کړ، په تېره مرستيالکړ سره پرګړنواوڅرګندنواو ړي:
وازه خوله(هېښ، بېځوابه← وازه خوله نيول يا پاتېدل)،کړشوپه خوله(بې غاښو، کنډاس)؛ خولور يا خوله ور، بې خولې، خولپوتى، خولبورى، پوچ خولى، وېرخو لى، وچخولى؛ ارتخولى، چينګخولى وازخولى، لوى خولى (پق: د دغو پېنځو پر ماناسربېره،دهن پاره يا پوچخولى هم مانا کړى)، پټخولى،خولخوږى(ګنده بغل)، خولخونده (مېوه)، خوله خندا،خولخوټکه(پوکنى، کوبى ياحباب)،خوله پرخوله، خوله پرخوله -غاړه پر غاړه، خوله پر خوله -شونډې پر شونډو. ...
* خوله خندا ته نه جوړېدل، (چاته له دردو غمه) خندا نه راتلل؛ خپه، خواشينى... ول: (له ډېر غمه) د زمر خوله خنداته نه جوړېږي، په لنډۍ کې، لکه:
خوله مې خنداته نه جوړېږي
پر مخ څېپړې بېلتانه راکړې دينه
په دغه بله کې يې مثبت ځېل راغلى دى:
خوله هې خنداته جوړوله
هجران تر منځ شو، زه يې ګير په غمو کړمه
*خوله پر خوله کېدل-ول، سره ستغې سپورې يا مناقشه کول ؛يوبل سره خولې ښکلول: ببرى او سنک سره خوله پرخوله شول؛ زمرک او مکى سره خوله پر خوله شول دي ياول. د وييرغاونې له پلوه يې له (غاړه پرغاړه) سره جوړه ترنګ(ترکيب) بيا زيات دودلري،لکه چې وايي: دواړه سره خوله پرخوله او غاړه پرغاړه شول، شوي، ول يا دي؛← غاړه.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

*خوله د خولې له پاسه اېښوول- له مانيز پلوه د← (خوله پرخوله کېدل) له دويمې مانا (په خولو سره ښکلول، يوبل سره خولې ښکلول) سره سمون لري، خو له جوليز پلوه يې په دې لاندې لنډيو کې سهې کولای شو :

خوله دې زما پرخولګۍ کښېږده
ژبه مې پرېږده چې ګيلې درته کوينه
خوله مې پر خوله کېږده هلکه
ژبه مې پرېږده چې ګيلې درته کومه
خوله خو د خولې له پاسه خوند کا
لکه برغولی پر کټوئ مزه کوينه
دابله يې له نټې سره:
خوله مې پرخوله مه ږده جانانه
لاس مې پر زړه کښېږده چې زړه مې کلار شينه

*خوله اخېستل- ښکلول، مچول، لکه په لنډيو کې:

خوله به په زور درڅخه واخلم
وړوکی نه يم چې زاري درته کومه
خوله به په زوره درنه واخلم
يو مې همزولی، بل زاري درته کومه
خوله مې په بيړه بيړه واخله
شکره نه ده چې په تول به کمه شينه
خوله مې دڅټ له لورې واخله
چې خماري سترګې پرڅنګ درواړومه
خوله مې له دواړو خواوو واخله
منګی مې ولې ښوروي، لمده دې کړمه
خوله مې تر زنې لاندې واخله
مورمې ميره ده، بند پر بند مې لټوينه

خوله يا خولګۍ (مچې) غوښتل اوورکول ، لکه ستر خوشال چې وايي:

زه خوشال کمزوری نه يم چې به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چې خوله يې راکړه

په لنډيوکې، لکه:

خولګۍ دې راکړه، پر خندا شوې
زه دې له خولې نه پر خندا خوشاله شومه
خولګۍ دې راکړه، موړ دې نه کړم
ته مړه مه شې د دنيا په نعمتونه
خوله مې واړه هلک ته ورکړه
زړګی مې رېږدي، چېرې حال به ووايينه
خوله دې له دواړو خواوو راکړه
يو دې همزولی، بل زاري درته کومه
خوله دې په خپله خوښه راکړه
بيادې ناري کړې چې لړم چيچلی يمه
په خپله خوله چې سوال ونه کړې
په هغه دغه خولګۍ کله درکومه
راشه راشه چې خوله درکم
بېګا مې مړ پر خوب ليدې، زهيره ومه
رادې وستم، خوله دې را نه کړه
جانانه دادې مناسبه نه وينمه
په وربش لو کې دې خوله راکړه
په غنم لوکې به ګېډۍ درسره وړمه
خوله تر مماني لاندې راکه
خلک به وايي، تور سپرلی دی، پاڼې خورينه
زما په تشه خندا مسته

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که خوله درکړه، لېونی به شي مینه
خوله مي دي غوښته، رادي نه کړه
تشه خندا خو دي اوس اور رالګوینه
زما په تشه خندامسته
که خوله مي درکړه، لېونی به شي مینه
د خولې غوښته مي په تا پورې
تېر مي بېلتون کړ، خوله مي ډکه له ګردونه
خوله مي ترې غوښته، غېږ يې راکړه
خدایه خیالي لیلا ته ورکړې جنتونه

په سپینو غاښو راته خاندې
مابه د تور ټوپک په خوله ورکړې مینه
راځه چې شرع په ملاکړو
پور پر ابا دی، خوله له ما غواړې مینه
ملا داخپل سپرلی مي راکړه
داستا په کوډو لیلا خوله نه راکوینه
ملا دمینې تاویز وکړه
په شکرانه کې سپینه خوله به درکومه
خولګۍ دې راکړه خپله یاره
سخته جګړه ده، د مورچل پر لورې ځمه
د جنازې بازو مي نیسه
چېرې به ما په راستۍ خوله در کړې وینه
)...پښتو لنډۍ ۱۳۶۱-۱۳۶۵(
*خولې ته سوړ اسوېلی راتلل- خواشینی کېدل، لکه په لنډۍ کې:
خولې ته مي سوړ اسوېلی راغی
زړګیه ستابه اشنا بیا یاد شوی وینه
*خوله خنداته نه جوړېدل
خوله مي خنداته نه جوړېږي
پر مخ ځېپړې بېلتانه راکړې دینه
خوله مي خنداته جوړوله
هجران ترمنځ شو، زه یې ګیر په غمو کړمه
*په ډېرو ویلو خوله ستړې کول-ېدل، دا څرګندنه د هغه چا له خوا کارول کېږي چې اورېدونکی یې خبره نه مني او ډېر ورته غږي، لکه چې وایي: پلاني ته مي په ډېرو ویلو یا وینا خوله ستړې کړه یا ستړې شوه(خو و یې نه منله.)
*(یوچاته) خوله اچول یاپرچا خوله ېپله کول، پرې خوله راپرانېستل، یا← پرچا
خوله خلاصول، تر یا دخولې تېری کول - یو څوک کنځل، رټل یا پرچاژبنی تېری کول: زمر (بېځایه) تورته خوله واچوله یا یې پرې خوله ېپله کړه؛ دغه غونډ له آره له سپي سره تړاو لري او د انسان لپاره له سپکاوي کارول کېږي، لکه چې وایي: سپي سوالګرته خوله واچوله(حمله وکړه)؛←
*خوله چینګول ،چینګه (وازه،ورانه، وېره، ویته، خلاصه) نیول یا پاتېدل – شرمېدل، بې ځوابه پاتېدل، سوال کول: زمر خوله چینګه کړه یا چینګه ونیوله، د زمرخوله چینګه (وازه) پاتې شوه؛ (خوله وېره یا ویته نیول) پر پاسنیو ماناوو سربېره (بېځایه خندل)، همداراز(پر خپله پېره منښته کول) او(په خبرو کې بېځوابه پاتېدل) جاجونه هم رانغاړي.
*خوله ورانول (ورانېدل)- څه ناڅه په پاسني جاج: د زمر خوله ورانه شوه.
*(خوله ورانه ورانه کول) ورته کړن د(پرلپسېوالي) له جاج سره راڅرګندوي..
*چا ته په سوال یا غوښتنه خوله ورانول- له چا په ← ټیټو یا نه سترګو یو څه غوښتل : تور زمر ته (د یوې مړۍ ډوډۍ) په سوال یا غوښتنه خوله ورانه کړه.
*خوله کړول یا خوله کړه کړه کول د پاسنیو ګړنو په ورته جاج.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*د چاله خولې چونګ، سوڼ یا سپڼ نه ختل یا خبره نه وتل- پر پاسني جاج سربېره، (کو رټ چوپ پاتېدل) مانا هم رانغاړي: دزمر له خولې یو چونګ (هومره) و نه خوت یا نه خېژي، یا یې یو سوڼ، سپڼ، خبره له خولې ونه وتل یا نه وځي.
*خوله پرېکول یا نیول- خبره پرېکول،هېڅ نه غږېدل: تور(خپله) خوله پرې کړه.
*خوله په مومو وهل- د پاسنیو ګړنو ← سپڼ یا سوڼ نه کول، خوله چوله کول-ېدل ، بېخي چوپېدل اوڅه نه ویل، په ورته جاج.
*خوله پر جوپه تلل، لکه پاس.
.*خوله وازه وازه کول- کېدل- په پرلپسې ډول غځوني کول، ستوماني، اررېمي یاارږمي (کهالی، فاژه، خمیازه) کېدل، اېستل، خوب راتلل یا خوبولی کېدل:(له ستوماني یا خوبه) زمر خوله وازه وازه کوي، یا یې خوله وازه وازه کېږي، غځوني کوي یا اررېمي کا ږي.
*(خوله دوه جریبه وازول یا خلاصول) د پاسنی ګړني یو سخت و سپک ځېل دی .
*(چاته)خوله وازول یا خلاصول- کنځل، ستغې سپورې یا بدردویل؛ ښېراکول: مېرمني مېړه ته خوله وازه یا خلاصه کړه.
*ترخولې تېری کول- بلوسل، تېری یا تجاوز کول، سپکې سپورې ویل: زمر تورته تر خولې تېری کوي چې له نوې جاج سره (د خولې تېری کول) هم دود شوي دي، پارسي اندول یې(تعرض زبانی کردن، زور گویی کردن) راځي.
*خوله له خندادکه ول-استل- خوښ خوشاله ول-استل، لکه په لنډۍ کې:
که خوله مې ډکه له خندا وي
چې را پر یاد شي، پر ژړا، پر ناروشمه
*خوله نه درېدل یا نه پارچاوېدل- پرلپسې غږېدل او چاته وار نه ورکول یاد اورېدونکیو د زړه تنګۍ خیال نه ساتل، لکه چې وایي: د سنک خوله نه درېږي یا نه پارچاوېږي او یایې درېدل او پارچاوېدل نشته، او لا کله وایي: د سنک خوله لکه ماته ژرنده پرلپسې کړنګېږي یا ګړېږي ....
*د خولې جلو سستول_ېدل- ګډې وډې، بې ادبه یا بې سروبوله غږېدل: سنک د خولې جلو سست کړ یا سست شو.
*خوله ستړې کول- له ډېرې غږېدا او خبرلوڅی په جاج: سنک(خپله) خوله ستړې کړه.
*خوله وېښتان کول- ډېر او بېواره او بېځایه غږېدل: د سنک خوله وېښتان کړي دي.
*خوله له واکه وتل یا بېواکه کېدل، ول-استل، په پاسنیو جاجونو.
*پر چا خوله راخلاصول- څوک بېخرته کنځل، نتل، رټل یا سپکه سپانده کول: زمر پر سنک خوله راخلاصه کړه؛ کله ناکله پرې داهم ورزیاتوي: او سخت ردبد یې ورته وویل؛ نور(اوږده او توند) ځېلونه یې: (سترګې یې پټې کړې او خوله یې پرې راخلاصه کړه)، (سترګې یې پټې کړې او څه چې یې پر خوله راتلل یا راتلای شول) هم ویل کېږي یا(سترګې یې پټې کړې او هغه څه یې ورته وویل چې بل چا کله نه دي ویلي) او داسې نور؛ همداراز: ← تر خولې تېری کول، خوله اچول، خوله ایله کول.
*دخولې خوند بدول، پیکه کول یا خرابول - له هر لګه او لوګه، سړي نه سړي سره غږېدل، یا ځنې پوښتنه غوښتنه ...کول چې د چا خبره، په خبرو نه ارزي: زمر(له توره د پور په غوښتنه هسې) د خو لې خوند بدوي .
*خوله خلاصېدل- روژه یا دروژې میاشت پایته رسېدل: د تور خوله (نوره) خلاصه شوه، یا د خلکو خولې خلاصې شوې.
*له چاسره د خولې خندا یایوه خوله خندا درلودل- له چاسره یوه(تشه) سلام الیکي لرل: زمر له تور سره(یوه تشهد) خولې خندا لري؛ (د خولې خندا) د نوموالي ګړني په توګه پر دغه جاج سربېره(ظاهري یا لباسي او ریاکارانه خندا) مانا هم رانغاړي؛ (خولې خوند) بیاد لومړۍ یا څرګندیزې مانا (مزۀ دهن) تر څنګ ګړنیز جاج (خور منځ، سلیقه) مانا هم ښندي؛ خولخوند یا خولخونده(مېوه)،خولوېش(د یوې پلرګنۍ د غړیو تر منځ د ځمکنۍ ویېرې یا حاصلاتو وېش) هم د ورته نوموالي لړۍ بېلګې بللای شو← تولیپر(ټاکنترنګونه.(
*خوله وازه نیول تلل یا ختل- یوه کارته هېښ یا ناتوانه پاتېدل: ببري خپلو زده کړو ته خوله وازه ونیوه یا یې خوله وازه ولاړه (وخته.(
*خوله لګول- په خوله ژوبلول؛ سخت ښکلول؛ باد، سیلی، ساړه یا ناروغي رامنځته کېدل: زمر د تور پر لاس خوله ولګوله؛ سنک د زرمینې پر مخ خوله ولګوله؛ په ژمي کې باد، سیلی...(بېخي) خوله لګوي؛ په لنډۍ کې:
کمیس مې لنډ ونیسه موري
وطن پردی دی، بوټي خوله رالګوینه
کمکۍ نجلۍ پر یارۍ پوه شوه
لکه لړم پر دېوالو خوله لګوینه
راشه یو نوی کفن راکړه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*خوله چاته اړول، ګرځول یا مخ چاته اړول- یوڅه له چا غوښتل، یا هیله غوښتنه کول: زمر تور ته خوله یامخ واړاوه.
*خوله مسکول- مسېدل، موسکی کېدل یا موسکا کول : زمر خوله مسکه یا موسکه کړه، ومسېد یاموسکی شو.
* خوله (خوراکوړ څیزته) نه درېدل یا نه ټینګېدل- د یوڅه خوراک ته تلولی یا بې زغمه کېدل: سنک روښې(حلواته) نه درېږي؛ یا په یوڅه سخت ګړدود: په رسیو نه ټینګېږي.
*غوټه په خوله پرانېستل یا خلاصول- یو اسان کار په لوی لاس ځانته ګرانول چې له (غوټه چې په لاس خلاصېږي، په خوله یا غاښو یې مه خلاصوه) متله یې سر چینه اخېستې ده؛ د دغه متل بل ځېل: د لاس غوټه په خوله یا غاښ مه خلاصوه؛ هر ګوره، پر ګړنو او څرګندنو د نورو اوښتو متلو په څېر دغه ګړنه د ګړهار په بهیر کې سبکې ادلون بدلون مومي، لکه چې وایي: د لاس غوټه په خوله یا غاښ خلاصول په کار نه دي یا څه په کار دي .
*خوله پر غلطه ښورول یا خوله ناسمه ښورول(خوځول)- سمه خبره نه کول: ځیر خوله پرغلطه ښوروي یا سمه نه ښوروي؛ (خوله سمه ښورول) زیاتره د ګواښ لپاره راځي، لکه چې وایي: خوله سمه ښوروه یا خوځوه!
*خوله اسمان ته ختل- هېښ پاتېدل: د ځیر خوله اسمان ته وخته.
*خوله وتل- پر خوله تبخال ختل: د تور خوله وتې ده.
خوله اړول یا← ژبه اړول - خبره یاسکالو بدلول: تورخوله... (بلې خواته) واړوله یا ژبه، خبره بدله کړه .
*خوله ګرځول- رښتیا نه ویل، نټه کول: ځیر خوله وګرځوله.
*پرخوله نه راوړل- ټپ منکرېدل د (←د چاله خولې چونګ، سونې یا سپنې نه ختل یا خبره نه وتل) ګړنې یو ټینګارې بڼه: سنک (ټکی) پر خوله رانه وړ..
*خوله پریوڅه پټول- پر یوڅه منکرېدل، هېڅ نه ویل: زمر پر خپله تېروتنه خوله پټه کړه
*خوله پټول -پټېدل، ټپول-ېدل، تړل، پورې کول-ېدل- د پاسنۍ مانا تر څنګ (ساختل،مړل) مانا هم ښندي: زمر خوله پټه کړه، یا یې خوله پټه، ټپه، پورې یا وچه شوه.
*خوله وچېدل- خبرې بندېدل، په خبرو کې ټکنی کېدل←(خوله وچه وچه کېدل، خبره په خوله کې ژوول)؛له تندې یا نارو سورو په خوله کې لاړې وچول-ېدل؛ مړل یامړکېدل: د سنک خوله وچه(پټه، ټپه، پورې) شوه .
*خوله وچه وچه کېدل- په خبرو کې ټکنی ټکنی کېدل: د سنک خوله وچه وچه کېږي؛(په لومړۍ مانا) ←ژبه وچېدل، غاړه وچېدل، ستونی وچېدل.
*خوله په مرګ ټولول_ېدل- د ښېرالپاره کارول کېږي، لکه چې وایي: خدای دې په مرګ خوله ټوله کړه یاخوله دې په مرګ ټوله شه!
*د چا خوله پلټل، لټول، بویول، سپړل د چاله خولې خبره اخېستل او یا خبرې کښل، اېستل - په چل ول له چاخبره اخېستل، څوک پټ او نا سیده په اښتنه پوښتنه پر خبرو راوستل: تور د زمر خوله وپلټله، ولټوله یا یې ځنې خبره واخېسته.
خاورې پرخوله کېدل، ډېر تاواني یا دېوالي کېدل؛ مړل: د سنک خاورې پرخوله شوې.
*خاورې په خوله پورې مښل، ځان تشلاس ، نېستمن او بېوزله ښوول یا د چا خبره (اقتصادي ریاکاري) کول: ببرۍ په خوله پورې خاورې مښي؛ همداراز د(بد مرغه کېدل) او (مړل) په ماناوو هم دود لري.
*خوله اسمان ته نیول،ډېر بېوزله، بې رزمنې یابې نفقې کېدل: تور خوله اسمان ته نیولې ده. ....
*خوله د ماتولو ول-استل، دا ګړنه د لومړي وګړي(متکلم) له خواډېره کارول کېږي او هغه هم پر خپلو کړو خبرو د پښېمانۍ پر وخت: خوله مې د ماتولو ده.
*خوله په سوک ماتول-ېدل یا خولې ته سوکان نیول- دا ګړنه پرخپلو خبرو د پښېمانۍ یا د بل چا پر خبرو د قارژلي غبرګون په موخه کارول کېږي چې په لنډۍ کې له شاعرانه انځورسره غاړه غړۍ شوې ده:
خولګۍ د مرګ په سوک ماتېږي
زه پټه خوله د مرګ له غمه ګرځومه
* په خوله کې خبره وچول، د چا خبره نابېره پرېکول: زمر د تور په خوله کې خبره وچه کړه.
* د چا په خوله (نه) ول یا استل- چې زیاتره له(نه) سره راځي، د چا خبر ه منل یا نه منل): تور د زمر پر خوله نه وو یا نه دی.
د چا په خوله پیاز نه خوړل- چاته یا د چا خبرو ته څه ارزښت نه ورکول: زمر د تور په خوله پیاز(هم) نه خوري.
*خبره په خوله کې ژوول-سمه سهي یاسپینه خبره نه کول: زمر خبره په خوله کې ژوي؛ یا دپارسي متل او ګړنې په پېښو(شپ شپ کوي او شلتالو نه وایي)← شونډې زبېښل...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*خبره په خوله یازړه کې نه ساتل یا د ساتلو توان نه درلودل- راز نه ساتل یا یې د ساتلو توان و ججوره نه درلودل_ ببری یوه خبره په خوله(زړه) کې نه ساتي، نه شي ساتلای یا یې د ساتنې ججوره(وړتیا) نه لري؛←
خبره په زړه کې نه ساتل.
* پرچا خوله (راسپړل یا) پرا نېستل - چاته توندې تېزې ویل: زمر پر تور خوله را پرانېسته؛← خوله خلاصول، خوله ایله کول ....
) *دچا)پرخوله یوڅه(او) پرزړه بل څه ول-استل- رښتینی نه ول، دوه ژبی ول ، په نوروټکو، په خوله یوڅه وایي او په زړه کې یې بل څه وي :
پر خوله یوه، پر زړه دې بله
مرگ دې مېلمه شه چې دې خلاص له غمه شمه
* خوله او زړه یو نه ول، یایوژبی نه ول ←زړه او خوله یو نه ول ، لکه پاس.
* یوه خوله ول- یو ژبی ول، پر یوه خبره ول یا درېدل: زمر یوه خوله دی.
* سره یوخوله ول- همژبی، همبولی ول: تور او زمر سره یوه خوله دي.
* خوله(دچا) غوږته نژدې کول- یوڅه د چا په غوږ کې ویل، چاته یوه پټه خبره ویل یا رسول چې بل څوک یې وانه وري: زمر خوله د تور غوږته ورنژدې کړه یا په غوږ کې یې یوڅه وویل؛ ملنگ جان وایي: چا غوږکې راته وویل چې جانان مه یادوه ...
* د یوڅه خواږه د چا له خولې(نه) وتل، یو چا په یوڅه کې گټه لیدلې وي او لایې ارماني: د تور له خولې د کاروبار، واک و ځواک.... خواږه لا نه دي وتلي(هدایت الله همیم.(
*خوله پرېکول، هېڅ نه ویل، ببخي چوپېدل: زمر خپله خوله پرې کړه← خوله نیول.
*خوله(ور) تړل، چوپېدل؛ بدې ورکول: زمر (خپله) خوله وتړله؛ بري د والي خوله وتړله.
* خوله وردکول، بدې ورکول: تور د قاضي خوله ور ډکه کړه. ...
* پر(خپله)خوله لاس ایښوول،چوپېدل، چوپ پاتېدل)؛ خبره پټ ساتل- نه اشوا کول،لکه چې وایي: (غماز راغی، پر خوله مې لاس کېښووه
په لنډۍ کې:
...غمازان ډېر دي، اشنا تېر به دې باسینه (← لاس)
*خوله نیول، لکه پاس.
* دچا پر خوله لاس ایښوول یا خوله ورتړل یاور تپول(چوپتیاته اړېستل:(
سنک دببرک پر خوله لاس کېښووه .
* د چاخوله گنډل یا ورته کولپ اچول او یاپرې برغولی ایښوول ،د پاسنۍ گړنې یو توندوتېز ځېل دی او د یوچا له خواهله ویل کېږي چې څه ښه یا بد یې کړي وي او ټول ورپسې پرلپسې بدرد وایي، او غبرگون یې داسې کوي: پرېږده چې هرڅوک هرڅه وایي، د چا چا خوله به گنډم یا به ورته کولپ اچوم!
*خوله.پر خوله- خوله د خولې له پاسه (نه) ایښوول، ښکلول، مچول، لکه په لنډیو کې:
خوله مې پرخوله کښېږده هلکه
ژبه مې پرېږده چې گیلې درته کوینه
خوله مې پر خوله مه ږده جانانه
لاس پر زړه کښېږده چې زړه مې کلار شینه
خوله خو دخولې له پاسه خوند که
لکه برغولی پر کټوۍ مزه کوینه
خوله پرخوله، شونډه پر شونډه
ژبه مې پرېږده چې گیلې درته کوینه
خولگۍ دې پاس پر خولگۍ کښېږده
له جنجالې پېزوانه واخله جوابونه
* په خوله-خولگۍ څه نه ویل- ، د څه ویلو توان-کابو نه لرل، لکه:
په خوله ویلای درته نه شم
چې دې جفا رایادوم، ژړا راځینه
په خولگۍ حال ویلای نه شم
مینې دې پټ پر زړگې راکړه تور داغونه
په خولگۍ هېڅ ویلای نه شم
پټ په اشنا پسې رنځور له غمه یمه
*خوله په خوله کې ایښوول، د پاسنۍ گړنې یو ټینگاري ځېل، لکه :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوله دې په خوله کې راته کېده(کښېږده(
ژبه مې پرېږده چې ګيلې درته کوينه
* خوله له دواړو خواوو اخېستل، دوه ځلې ښکلول، لکه:
خوله مې له دواړو خواوو واخله
منګی مې ولې ښوروې، لنده دې کړمه
*خوله چوله کول_ېدل، هېڅ نه غږېدل- نه ويل: سنک خوله چوله کړه؛ د تور خوله چوله شوه؛←← خوله پر جوپه تلل(په دويمه مانا.(
*خوله پرجوپه تلل، بېخي چوپېدل يا له خبرو لوېدل: د زمر خوله پر جوپه تللې ده؛←.خوله چوله کېدل، خوله ګنډل، خولې ته کولپ اچول....
*خوله چړپول، په وړسولی يا بې ادبی يوڅه خوړل؛ پر يوڅه شخوند وهل: سنګ خوله چړپوي؛ پق: څه خوړل (خوراک کول.(
*د چاد خولې پېښې کول، د سپکاوي په موخه د غږېدا پر مهال د چا د خولې له ښورېدو سره سم ←خوله ورانه ورانه کول
*د چا په خولې پورې خندل، دملنډو اوسپکاوي په موخه، په خندا خندا د چا ← دخولې پېښې کول؛ په يوه متل کې وايي: زه دې مړی ژاړم، ته مې په خولې پورې خاندې!
*په ګوړه ګوړه ويلو- کولو خوله (نه) خوږېدل،دا ګړنه له(ګوړه ګوړه کوه، خوله به دې خوږېږي) په نورو ټکو، (په ګوړه ګوړه کولو يا ويلو خوله نه خوږېږي) متل څخه آره اخلي او ورته شانزول راپرزړه کوي: يو چا د ګوړې په ارمان ګوړه ګوړه ويل چې ګوندې خوله يې خوږه شي.
*روژه پرخوله ول، روژه،روژه تي ول: زمر روژه پرخوله کارکوي؛ يا سنک روژه پرخوله او دروغ وايي.
*خوله (نه) خوځول،(نه) غږېدل چې زياتره په منفي ځېل چاته د چوپېدا ګواښ په توګه ويل کېږي، لکه: خوله مه خوځوه،(پام نوره) خوله و نه خوځوې، يا: که خوله دې وخوځوله، درماته به يې کړم!
*خوله خوځولوته نه پرېښوول،غږېدا يا خبرو ته څوک نه پرېښوول: زمر ببری خوله خوځولو ته پرې نښووه.
*خبره(دچا) په خوله کې وچول، پاس ورته يو ښندیز ځېل، چا خبره له پيلېدا سره وربندول او نورې دکولو مخه ورنيول : ببري د سنک په خوله کې خبره وچه کړه، همداراز←خوله-ستونی- غاړه وچول-ېدل.
*له چاسره خوله ګډول،له چاسره خبره يا خبرې شريکول: لمر له زمر سره کوله ګډه کړه
*خوله خوله کول_ ېدل، يو څوک د بېلابېلو خلکو له خوا په دک و دليل ګرمول کېدل او بېځوابه پاتېدل يايې خوله تړل کېدل: ځير ته ټول خوله خوله شول؛←← په خولو کې لوېدل.
*خوله خوږېدل، څوک يو چېرې د يوڅه پر خوړلو روږدېدل او تل پسې ور تلل: د سنک خوله خوږه شوې ده (او تل د زمر کره ور روان وي.(
*خوله غوږی کېدل، له نورو ځنې په پټه خپل راز يوه چا ته ويل: ځير تورته خوله غوږیکوي؛ ←(له چاسره غوږی غوږی کېدل) د(پس پس کول) په مانا ورته جاج ښندي(جانيخېل منګل.(
*پر خوله نه راوړل، دا ګړنه پر (څه نه ويل، چوپېدل، نټه کول ...) جاج سربېره ←(چاته يوڅه نه يادول يا يادونه نه کول) مانا هم رانغاړي.
* .پرخوله يا خولې ته څه راتلل، يوڅه پر ژبه راتلل يايې د ويلو توان لرل، لکه چې وايي: څه مې چې پرخوله راتلل، ورته مې وويل؛ په لنډی کې:
زړګی زما زخمي زخمي دی
ځکه مسرې په وينو سرې خولې ته راځينه
*(د چا) له خولې وينې تويول- تويېدل، غورځول يا خولې ته وينې راتلل- څو پر يوسخت کړاو اخته کېدل:
راشه د يار خبر دې واخله
پر غرمو(غارمه) پروت دی، ترخولې وينې تويوينه
راشه داخپل مين وګوره
زړه مې چاودلی، ترخولې وينې څڅوينه
پر هر ساعت چې راپرياد شې
پرځای کښېنمه، له خولې وينې غورځومه
(تر- له سترګو وينې تويول)
بل هممانيز ځېل يې (له خولې وينې څڅول) په دغه بله لنډی کې راغلی دی:
راشه، داخپل مين وګوره
زړه يې چاودل، له خولې وينې څڅوينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

* په خوله کې ژیړې اوبه درېدل، بدنامېدل، شرمېدل؛ تورنېدل یا ګرمېدل؛ ډېر نېستمنېدل؛ سخت وږی کېدل: د تور په خوله کې ژیړې اوبه ودرېدې؛ (ترخولې ژیړې اوبه بهېدل) بیا یوازې(خورا کمزورېدل، ناتوانېدل؛ ډېر نېستمنېدل؛ سخت وږی کېدل) ماناوې ښندي.
* په خوله سره جوړول، دروغ(په وچ زور) رښتیا کول: ځیر په خوله سره جوړوي.
*په خوله سره جوړېدل، په ګړنی(شفاهي) توګه یوه جوړجاړي ته سره رسېدل: زمر و ځیر سره په خوله جوړ شول.
*په خوله کې سره جوړول یا خوله یوڅه ته جوړول: زمر(یې) په خوله کې سره جوړوي.
*دچا پر خوله باور(نه) کول، پرچا یا د چا پر خبره باور (نه) کول، یا نه باورول: تور پرځیر یا د ځیر پر خبره باور(نه) کوي یا(نه) باوروي
*(یوڅه) په خوله کې تویول، ارمانېدل، خواشینېدل یا تأسف کول: تور(یې) په خوله کې تویوي.
*خوله ټولول، زیاتره د ګواښ او سپکاوي په توګه څوک له غږېدا منع کول، لکه چې وایي: خوله دې(نوره) ټوله کړه! ← خوله نیول ، پټول، ټپول، پورې کول .....
*په خوله کې سره توکل- سره همژبې کېدل: تور او زمر سره په خوله کې توکي یا توکوي.
*په خوله یوڅه په زړه بل څه کول (په ښکاره یوڅه ویل او په پټه نورڅه:(
په خوله به جنګ درسره وکړم
د زړه کوڅې به درنه ولې بېلومه
په خوله توبه توبه وباسم
پرتا مین زړګی توبه نه قبلوینه
په خوله خو غږ کولای نه شم
پرېږده چې غم دننه زړه کې وساتمه
*(چاته یوڅه) په خوله ویل ، یوڅه په ټینګار ویل: زمر تورته په خوله وویل چې نور له ماسره مه نښله.
په لنډیوکې :
په خوله به نوم د وطن ناخلم
که پردېسی کې مې اشنا راسره وینه
په شعرکې
یوې ورځپاڼې رانه وغوښتل چې
د ازادۍ په باب یوڅه ولیکم
ماورته تش دومره په خوله وویل
چې ازادي نشته، نو څه ولیکم (وینه او مینه ۲۵.(
*په لویه-غوټه خوله ویل- په زیات ټینګاري یا اخطاري ګړدود چاته په څرګنده څه ویل: زمر سنک ته په لویه خوله وویل چې دا کار وکړه یا مه کوه.
*په خوله نه ویل یا نوم نه اخېستل) اوبیاله تواني دود (امکاني صیغې) سره یو مخاوی(تقابل) رامنځته کوي:
په خوله مې هېڅ ورته ونه وېل
تر سره پېزوان لاندې دې وچیچل غاښونه
په خوله دې هېڅ راته ونه وېل
تر سترګولاندې دې باڼه ورپاونه
په خوله دې نوم اخېستای نه شم
پټ په زړګي کې وطنونه لټومه
.....
پټه ژړا دې په دیدن پسې کومه
.....
پټې سلګۍ دې په دیدن پسې کومه
.....
تر سپین پېزوان لادې دې وچیچل غاښونه
.....
تر سترګو لاندې دې باڼه ورپاونه
.....
په تېغ د سترګو دې زخمي کړمه مینه
په خوله ویلای درته نه شم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې دې جفارايادوم، ژړا راځينه
پر لاره ځم، توبې وباسم
ستا له يارۍ توبه مې خولې ته نه راځينه
همداراز← په ژبه هېڅ ويلای نه شم
پټ په اشنا پسې رنځور له غمه شومه
*(ځوک) د چا په خوله ول- کول، ځوک د چا له خوښې-غوښتنې سره کول:
ته چې دا اوس د مور په خوله يې
زه خپلې تورې کمځۍ چاته سپينومه
*وړه خوله او لويه خبره کول- دا ګړنه د نورو ګنو بېلګو په څېر هممهاله د متل او ګړنې غبرګ کارونګ لري. او هغه چاته د خندۍ او سپکاوې ، اريانتيا،ګواښ يا نيوکې په توګه ويل کېږي چې پر ساتو باتو راشي او تر خپلې پوهې يا دريځه پورته يوه خبره کوي يا رامخته کوي، په نورو ټکو، د دې پرځای چې ورته ووايي، دا خبره ستا له(کچې(سويې) پورته ده، لنډپرلنده يې په يوګواښنده او بيا هېښنده ګړدودترغوړه ورتېروي: وړه خوله او لويه خبره!
*(يوڅه ته) خوله نه دربدل- له ولړې او سراښتيا(حرصه) يوه خوراک ته ترور اوتلو لی کېدل: دببرۍ خوله روښې(حلوا) نه درېږي.
*واښه پر خوله رسۍ يا پړی پرغاړه داله غبرګو ګړنيزو کړولو(قيدونو) رغېدلې غونډ او هممهاله جوړه ترنګ د(((ننواتو چاته يا چاکره ننواتې ورتلل)) جاج رانغا ړي چې د پښتونولۍ دکوډ يا دويغوندِ(دقوانينو يانرخونو ټولګې) يو رغنده ټوک بلل کېږي. دا وړ سختې ننواتې پخپله خوښه ياد ولس په سپارښتنه د يوې خورا سختې ګناه، لکه وژنې، کور سوځونې... د ښښې په موخه ترسره کېږي چې ردول يې هم له دغه کوډه سرغړاوی بلل کېږي.← غاړه.
*پوچه، بده ياسپکه خوله لرل يا پوچخولی ول- پوچه،بده، سپکه ژبه لرل يا بد ژبی ول← خوله د چا په واک کې نه ول ..
*په خوله کې(را-در-ور) لوېدل- يوه خبره بيا بيا راغبرګول؛ د نورو په خبرو اتروکې ور لوېدل يا غوټه کېدل(مداخله کول: د واده خبره د تور په خوله کې لوېدلې؛ سنک د هرچا په خوله کې ورلوېږي .
*په خولوکې لوېدل، غورځېدل يا پرېوتل- يوه خبره، سکالو، پېښه... په خلکوکې خپرېدل، اوازه دروازه کېدل، ګونګسه کېدل يا پرګونګوسو (افواهاتو) بدلېدل: د زمر مېرانه په خولوکې لوېدلې ده؛ (خوله پرخوله کېدل) هم ورته جاج رانغاړي.
*په خوله کې وهل- په ځاځ ياګواښ د چا خبره پرې کول، لکه← خبره په خوله وچول: تور سنک په خوله کې وواهه.
*پر وچ هډوکې خوله وهل- يو بې ګټې وتې کار کول: تور(هسې) پر وچ هډوکې خوله وهې.
*خولې ته سوړ اسوېلی راتلل يا له خولې سوړ اسوېلی وتل-ايستل- خواشينی کېدل:
خولې ته مې سوړ اسوېلی راغی
زړګيه ستابه اشنا بيا ياد شوی وينه
خولې له مې سوړ اسوېلی راغی
زړه ته مې بيا جانان له کومه پر ياد شونه
*تر خولې يا تر سر شنه دودونه ختل (← تر شونډو شنه دودونه ختل(
تر خولې مې شنه دودونه خېژې
زړګی مې سوځې د بېلتون په سره اورونه
تر(له) خولې وينې تويول يا وينې ګرځول- پر سخت رنځ اخته کېدل:
پاس پر کمره ولاړې زرکې
يار مې رنځور دی، تر خولې وينې تويوينه
*تاو د زړه له پاسه تېرول- د زړه درد پرځان تېرول يا زغمل
تاو به د زړه له سره تېر کړم
بې درده يارته به و نه وايم حالونه
*له خولې وينې راتلل- سخت نولېدل:
تر خولې مې سېل د وينو راغی
د بېلتانه لړم پر زړه خوړلی يم
خوله خنداته نه جوړېدل- چاته له غم و درده خندا نه ورتلل:
خوله مې خنداته نه جوړېږي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پرمخ ځېږي بېلتانه راکړي دينه
بېلتون ځېږي پر سپين مخ راکړي دينه
خوله مې خنداته جوړوله
بېلتون ترمنځ شو، زه يې ښکېل په غمو کړمه
*کړشوپه خوله ول_ استل يا نيول-)بې غاښونو تشه خوله) چې يوازې کړشوپ هم(بې غاښو) ته ويل کېږي: دسنک خوله کړشوپه ده يا کړشوپ دی .
*زړه خولې ته راتلل- ډېر تنګېدل← زړه.
*خوله بېځايه ښورول يا خوځول- بېځايه غږېدل: تور(هسې) بېځايه خوله ښوروي؛ (خوله مه ښوروه!)، (خوله وښوروه!) يې ورته امرو نهې دي.
* خوله وتل← پزه وتل- تبخال ختل يا اېستل: د زمر پزه وتلې ده يايې پر خوله (او يا پزه) تبخال ختلی دی .
*خوله د ماتولو- استل - ول، دا دهغه چا په تړاو ويل کېږي چې پر کړو خبرو خورا پښمانه، په پښېمانو پښېمانه، يا په شډله بڼه(د غولو پرخوراک) وي، لکه چې وايي: خوله مې د ماتولو ده(چې هسې خبرې مې کولې .(
*دچا په خوله (نه) کول-څوک د چا په امر يا غوښتنه يوڅه(نه) کول: ببرى هر کار د زمر په خوله(نه) کوي.
*زړه خولې ته راتلل← زړه
*خوله کړول يا کړه کړه کول- په ←ټيټو سترګو، په مات مخ... له چا څه غوښتل؛ همدارازـ← چاته په سوال خوله ورانول.
*پرخوله يوه او پر زړه بله، د (دروغو) په جاج، لکه:
پرخوله يوه، پر زړه دې بله
مرګ دې مېلمه شه چې دې خلاص له غمه شمه
*په سپينه خوله يوڅه کول-ېدل يا ول، د سپينې خولې(په ورکړه) څوک يوه کار ته هڅول:
پېزوان مې خړو اوبو ډوب کړ
په سپينه خوله به لامبوزن ورکوزومه
په سپينه خوله لېوني مست دي
ځکه د تورو خولې ته غاړه غړۍ ځينه
*(يوڅه) د چا په خوله(نه) کول
د چا په خوله غولېدل، تېروتل- تېرېستل يا دوکه کول-ېدل
د چا په خوله چې دوکه نه شي

۲۲ =خېټه-خېټې)xéṭa-xéṭe معده-شکم (
ډېرى پښتانه خېټه-ګېډه-نس سره هممانيزکاروي او پق هم درېواړه(شکم، بطن) ژباړلي، خو داچې عربي پاسنۍ برخه (معده) بولي او لاندې برخه(بطن) او همداراز نورې ژبې، لکه انګرېزي هم د دوو بېلابېلو فيزيولوژيکي برخو د توپير لپاره پر (stomach) او (belly)ويشلي دي، نو پښتو يې هم پر(نس -خېټه) يا لږه ادبي (نس-ګېډه) سره وېشلای شي؛ هرګوره، د(خېټې) اړوندې ګړنې او څرګندنې بيا زيات دود لري. بېلنګونه او تړنګونه تر ګېډې د خېټې او بيا نس ډېر مخې ته را ځي،لکه: ګېډو، ګېډور؛ خېټو،خېټور؛ نسو، نسور، نسواند، نس پرسی، نسخو ږی(پر دويم خج ستاينوم او پر روستې نوم)، نسګير(قبض، قبض) نس بهی، نس ناسته؛ نس تشول(ډکې متيازې کول)، نس(نه) مړېدل، له نسه کول-ېدل(اسهالول -ېدل)، د نس يا خېټې غم تر هرڅه زيات دی. ...
*خېټه (پربل چا) اړول ياتاوانول- د هغه چا په تړاو ويل کېږي چې له کنجوسی پرخپل کور يا په خپل لګښت څه نه خوري او د يوبل کره يا ديوبل په لګښت د څه خوړلو هڅه کوي- سنک(خپله) خېټه پر بل اړوي يا تاوانوي؛←
ځان پر بل چا تاوانول، پر بل ډوډۍ اړول يا تاوانول..
*خېټه، نس يا ګېډه ډکول- مړۍ خوړل، ځان مړول؛ بډې ورکول: تور(خپله) خېټه ډکه کړه؛ سنک د قاضي خېټه ډکه کړه.
*خېټه، نس تشول- ډکې متيازې کول: بې شرمه سړی (ځای بېځايه) خېټه يا نس تشوي
*خېټه کول- څرېېدل، چاغېدل؛ بلاربېدل: ببرې خېټه کړې ده؛ زرمينې خېټه کړې ده.
د مستې خېټې کار کول- بې له کومې اړتيا يو کارکول: ځير د مستې خېټې کار کوي؛ ← (د مړې خېټې پارسي ويل) يې د يوې مانا له مخې هممانيزه راځي او دويمه يې مانا يې له دې رازېږي چې چا د خېټې ډکولو لپاره پښتو غږېده او چې موړ شو، پارسي يې راخپله کړه، يو شاعرځنې همدا مانا اخېستې او ويلې دي :
په نهاره دې خبرې په پښتو کړې
اوس پارسي وايې چې خېټه دې مړه شوه
*پر يوڅه خېټه اچول- يوڅه بلوسل(غصبول): تور د ځير پرځمکه خېټه اچولې ده.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

*یوڅه ته خېټه په اوبوکي اېښوول- د یوڅه لاسته راوړلو په موخه کلک په تمه ول یا یې د بلوسې(غصب) لپاره کابو لټول:
تور د نیکه پاتوړې(میراث) یا سرکاري ځمکې ته خېټه په اوبوکي اېښي ده.
*له خېټې (او خوټې) ځارول- د هغه چا په اړه ویل کېږي چې خپله شتمني (یو مخ) پر ببځایه مزو چرچواو لوچګریولګوي:
زمرک هرڅه له خېټې(او خوټې) ځار کړل یا یې ځاروي.
*هرڅه په خېټه خوړل، ورکول یا له خېټې ځارول- د هغه چا په تړاو ویل کېږي چې هره ګټه وټه یا شتمني یوازې یا زیاتره پرخوراک(اوڅښاک لګوي: ببری هرڅه په خېټه خوري یا ورکوي.
*پر خېټه مین ول- په پاسني جاج.
خېټه ډکه، خوټه لکه ول- داغبرګغونډله که څه هم له آره متل دی، خو د متل په توګه جلادومره نه ویل کېږي، بلکې د ګړنې په توګه د خبرو په بهیرکې ډېره ویل کېږي؛ هغه هم د داسې یو چا په تړاو چې له دغو دوو پژنیو غړو یا غریزو پرته ورسره بل سوچ و سودا نه وي؛ دا بولنه(مقوله) هم لږوډېره ویل کېږي: په ژوندکې یا خېټه ده یا خوټه، یا په نورو ټکو: په دنیا کې له خېټې او خوټې نور څه دي، لکه په دې طنزیه څلوریزه کې:
هغه خبرې مارکس و فروایډ وکړې
چې وې له مخه له نورو پټې
د انسان آره اړه به څه وي
پرته له خېټې، پرته له خوټې (اندوژوند۷۹(
*له خپلې خېټې یا ګېډې راایستل← له ځانه راایستل، دا دهغه چا په اړه ویل کېږي چې بې دک و دلیل یا اخځ و لاسونده پرکومه علمي،فرهنګي یا انفارما تیکي ځرګندوني یا لیکني ځېړني کوي، لا یونیم یې دغه کړن ته (ګېډولوژي) وایي.
*(له ولړې) په خېټې پورې تیرې تړل- سخته ولړه تېرول یا ډېر وړی ول- استل:
سنک له ولړې په خېټې پورې تیرې تړلی، یا دومره وړی دی چې په خېټې پورې یې تیرې تړلې؛ داسې هم وایي: چې کار و نه کړم، په خېټې پورې خو تړې تړلای نه شم
*(دچا) پر خېټه ختل- دا ځرګندنه یوبل ته د ګواښ په توګه وایي: پر حېټه به دې وخېژم!
*خېټه نه ده،پېټی دی- داهم هغه ته له ټوکو یاسپکاوي ویل کېږي چې لویه خېټه لري؛ خېټه یا ګېډه، لکه خیږ، جوال، ګودی... پړسېدل، لویېدل یا لویه ول- استل هم ورته کارونګ لري.

۲۳ =ډډه- ډډې) ḍáḍa-ḍáḍe پهلو، بغل، جنب، جانب(
زیاتره له(اړخ) او(څنګ) او څه ناڅه(خوا) سره هممانیز کارول کېږي او له دې سره لږوډېرې ورته ګړنې ځرګندنې رامنځته کوي.
*ډډه کول- یوځیز-کار، مرسته...له چا درېغول یا ←ځنې(ځان) سپمول :
تور د زمر له مرستې ډډه وکړه.
* پر ډډه کېدل، اوښتل← پراړخ- څنګ اوښتل .
*ډډه- اړخ اچول - دغځېدل، پرېوتل، څملاستل) ورته جاج ښندي، داسې چې څوک پر(ډډه) پرېوځي، نه سم ستوني ستغ:
زمر پر ارام څوکې یا توشک ډډه اچولې ده.
*ډډه یاڅنګ لګول- تکیه کول، له تېرې ځرګندنې سره یې توپیر دادی چې هغه په ملاسته او دا په ناسته(تکیه کول) مانا رانغاړي: ځیر څنګواښتي، ډډې یا سر وېږدي نه ډډه یا څنګ لګولی دی؛ له← (یوڅه پر ځان منل) یا (پرغاړه اخېستل) جاج یې له←(اوږه وروړل-ورکول) سره په دویمو ماناوو هممانیز کارول کېږي: ځیر د زمر مرستې ته ډډه(اوږه، څنګ) ورلګولی یا وروړی دی.
*(یوه کارته) ډډه(نه) لګېدل، یوه کار ته هڅه-زړه(میل) نه کېدل: د ځیر کوم کارته ډډه نه لګي.
*ډډه یا ډډې لګېدل سولېدل، ټپې کېدل یا ورستېدل - دا ځرګندنه زیاتره له باري ځاروي سره ویل کېږي چې بار یې یوه یا دواړې ډډې سولولې او پوستکی یې تور سره اوښتی او یا ببخې ټپې او ور شړولې اوسي؛ له یوه وګړي سره هله ویل کېږي چې له ناروغۍ نه ډېر مهال ځای پر ځای پروت وي او راجګېدای نه شي،لکه:
داوږدې ناروغۍ له لامله د سنک ښې، کینه یا دواړې ډډې لګېدلې دي؛ یایونیم وایي: برایې خوب نه راته،او له ډېرو اوښتو راااوښتو مې (ببخې) ډډې ولګېدې- پخوابه چې په روسته پاتې کلیوالوکې پېړې او پستې توشکې نه وې او د رنځورا نو ډډې به و لګېدې یا وسولېدې، نو کورنیو به یې له وسې سره سم ډډو ته، یا تر ډډو لاندې وړی، پختې، پاغوندې یا ورته پاسته توکې وراېښوول .
*ډډه اړول- ډډه یوې خواته اړول یا ګرځول او یا له یوې ډډې نه بلې ته کېدل: زمر دېواله ته ډډه واړوله.
*ډډه ورکول ← اوږه ورکول.
*پر ډډه اړول یا اوښتل
که مرچک خان ورسره نه وای
لاونِ به څوک پر ډډه واړوي مینه
چې مابه څوک له مرۍ تېرکاندې مینه
پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ